# د اسلام اولنۍ فريضه

ليکوال:

عبدالله مؤمن

د کتاب نوم: د اسلام اولنی فریضه
د کتاب اصلي نوم: ولین فریضه اسلامی
ليکوال: عبد الله مؤمن
موضوع: عامه فقه
د چاپ شمير: لومړي (ديجيتال)
د چاپ تاريخ: سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق
سرچينه:

دا کتاب د عقيدې د کتابخانې سايت نه داونلود شوی دی.

**www.aqeedeh.com/pa**

برېښنا ليک: **book@aqeedeh.com**

**د موحدينو ګروپ ويب پاڼو**

www.mowahedin.com www.aqeedeh.com
www.videofarsi.com www.islamtxt.com
www.zekr.tv www.shabnam.cc
www.mowahed.com www.sadaislam.com

**په عقيدې سايت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسايت د همغږۍ په معنا نه ده.**

contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب فهرست

**د کتاب فهرست...................................................... أ**

**سریزه.................................................................... ۱**

**په اسلام کي اولنۍ فریضه کوم شی دئ؟ ............................ ۱۷**

اول د هرڅه د مخه، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ: ............................ ۱۸

**د توحید د ښه پېژندلو او ساتلو لپاره ئې د ضد پېژندل هم ضروري دي چي هغه کفر او شرک دئ: .................................................. ۳۳**

**د اِله په معنی کي کوم شیان داخل دي:................................ ۴۵**

**هغه څه چي توحید (ایمان) له مینځ وړي دغه راتلونکي شیان هم دي: .... ۴۷**

- د الله په حقوقو یا صفاتو کي بل څوک ورسره شریکول: ... ۴۷

- په الله، په قرآن او پیغمبر ملنډي وهل یا د داسي کارو سره مرسته یا د خوښۍ سره ګډون پکښې کول:............ ۴۷

- د اسلام بغیر بل دین خوښول یا په بلي لاري کي د ثواب هیله درلودل: ........................................... ۴۹

- اسلام ټوټه ټوټه کول او د بېلابېلو لارو په نامه د هغه په ځینو برخو عمل ځان ته نا روا بلل: ............................ ۴۹

- د دین او شریعت جوړولو حق د الله پرته بل چا ته ورکول په دې ډول چې څوک دا عقیده ولري چې د الله دحکم پرته بل څوک هم پر څه شي د ګناه یا ثواب ټاکلو حق لري: ............ ۵۱
- د الله پرته د بل چا په هکله دا عقیده درلودل چې په غیبو پوهېږي: ............................................ ۶۱
دوهمه خبري چي په پټو خبرول الله د خپل خوښي سره سم په پیغمبر پسي خاص کړي دلیل ئې دا دی:.................. ۶۳
- د مخلوق څخه د اسبابو بغیر مرسته غوښتل چي په حقیقت کي د الله پرته هیڅوک قدرت نه وربانديي لري:............. ۶۸
د شرک او بت پرستۍ په تفسیر کي د انسان حِس، اوریدل او د سترګو لیدل د کومي پریکړي پخلی کوي؟.......................... ۸۱

**په اسلام کي د زیارتونو حکم: ........................................ ۸۴**

**د اسلام د نظره ولي څوک دی؟ کوم څه کولی سي؟ ............ ۹۰**

د زیري تفسیر:................................................. ۹۰
هر مؤمن د الله ولي دی: .................................... ۹۲
د وسیلې تفسیر: ................................................ ۹۹
یوازي الله تر اسبابو پورته کارونه کولی سي:.................... ۱۰۲

**د توحید څخه وروسته د رسالت بیان: ............................ ۱۰۷**

پیغمبر د اقتداء ښایسته نمونه ده:.......................... ۱۱۰
پیغمبرﷺ د خلکو لارښود او قرآن اوسنت ئې تعلیمي نصاب دی: ............................................................ ۱۱۲
د هدایت او د الله سره د میني او دوستۍ شرط د پیغمبرﷺ فرمانبرداري ده:.............................................. ۱۱۳

د رسول حکم د وحي څخه دئ: .............................. ۱۱۳
- د پیغمبرﷺ دحکم منلو ته ترغیب او د مخالفته ئې ځان ساتنه:
........................................................................ ۱۱۵
د مؤمنانو لار د الله او پیغمبر خبره منل دي د هغو برعکس چي د
الله او پیغمبر په حکم کي توپیر کوي............................ ۱۱۷
- پیغمبران د الله د لوري آخري حجت (وروستی دلیل) دی:۱۲۳
د پیغمبرانو د را لیږلو او پر هغو د کتاب نازلیدلو مقصد او موخه:
........................................................................ ۱۲۵
**په پای کي د یوې خبري وضاحت:................................ ۱۲۷**
خلاصه مطلب:.................................................. ۱۲۸

# سریزه

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله، ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ ١٠٢﴾ ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِي تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا ١﴾ ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ٧١﴾ «أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ خَيْرَ الْحَدِيثِ كِتَابُ اللهِ، وَخَيْرَ الْهُدَىٰ هُدَىٰ مُحَمَّدٍ، وَشَرَّ الأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا، وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ»(١).

الله تعالی وايي: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلۡهُدَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِي ٱلۡكِتَٰبِ أُوْلَٰٓئِكَ يَلۡعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلۡعَنُهُمُ ٱللَّٰعِنُونَ ١٥٩ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَبَيَّنُواْ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيۡهِمۡ وَأَنَا ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١٦٠﴾ [البقرة: ١٥٩-١٦٠].

---

١- دا خطبه د پيغمبرﷺ څخه په ډېرو ځايو کی ثابته ده، دا وروستني د لیندۍ د منځ ألفاظ په مسلم کی دی. (صحيح مسلم كتاب الجمعة باب تخفيف الصلاة والخطبة 867).

ترجمه: «د ښکاره آيتونو چې مې کوم څه نازل کړي، څوک چې دا پټوي، وروسته تر هغه چې ما خلکو ته په کتاب کې بيان کړي، نو يقينا چې پر دغو خلکو هم الله لعنت وايي او هم هر لعنت کوونکی لعنت باندې وايي، مګر هغه خلک چې توبه او رجوع ئې وکړه او خپل کړه ئې اصلاح کړه او بيان ئې کړی، نو د دوی توبه به قبوله کړم او زه خو يقينا چې ډېر مهربان توبه منونکی يم».

دا آيتونه په صافو الفاظو ښيي چې الله تعالی د حق بيان فرض کړی دی؛ د حق بيانولو د فايدو څخه يوه فايده دا ده چې حق بيان سي نو که چا ځان د ناروا څخه ساتی هغه ته به لار ښکاره سي، د بيانوونکي مسؤوليت به اداسي، که د حق بيان و نه سي، عام خلک به په ناروا کې د پرېوتو په وجه تباه سي او د بيان توان لرونکی به د حق پټولو په جه تباه سي، نو په هر حال د حق بيان ضروري دی او د هرڅه د مخه تر ټولو ډېر د بيان حقداره د الله توحيد دی څنګه چې قرآن کريم په ډېر ټينګار او تفصيل بيان کړی، خو د توحيد د وضاحت لپاره د هغه ضد هم بيانېږي چې کفر اوشرک دی، نو د دې ترمخ څو خبري يادول ضروري بولم:

کوم شي ته چې د الله په قرآن کې يا د هغه د پيغمبر په سنت کې د کفر يا د بې ايمانه الفاظ کارول سوي او دهغه نور داسي تخصيص يا تفسير بل ځای په قرآن يا سنت کې نه وي راغلی چې د خپل ښکاره معنی څخه ئې اړوي، نو بل څوک د هغه په حکم کي تبديلي نه سي کولای، بلکي خپل همغه ښکاره معنی ئې مراد ده، کوم کار ته چې قرآن اوسنت کوم حکم ورکړی وي، هغه ئې حکم دی، که څوک دا پټ يا تبديل کړي ځان په تباهي کي اچوي، حکم په حقيقت کي

پر خپل حال پاته دی، نو د حکم پټول یا بدلول ګټه نه کوي، خو حکم په هغه ډول په کار دی چې قرآن اوسنت ویلي وي چې د وصف بیان او د هر کار سره د هغه سزا بیانول دي، نور پر اشخاصو حکم نه وي، مثلا: که چا داسې کار وکړ هغه داسې مجرم دی، دا ئې سزا ده، د تعیین سوي سړي یا اشخاصو په هکله په حکم کولو کې ډېر احتیاط په کار دی او دا دوې خبرې یو د بل سره فرق لري، که څه هم ډېر خلک دا فکر کوي چې یو کار ته کفرویل اوو د هغه مشخص څښتن کار کوونکي ته کافر ویل یو شی دی؛ ځکه وصف بغیر موصوفه (کار بغیر کار کوونکي) نه پیدا کېږي.

دې قدرمنو ملګرو ته دا عرض لرو چې: موږ هم وایو: وصف بغیر موصوفه (کار بغیر کار کوونکي) نه پیدا کېږي، خو د دې سره پر وصف حکم کول (یو کار ته بد ویل) او پر هغه شخص حکم کول چې دا کار پکښې وي په دې ډول فرق سره لري:

* د اسلام پیغامبرﷺ د کفر کار ته کفر ویل، خو داسې نه دي یاد سوي چې هغه داسې چا ته ګوته نیولې چې ځان ته ئې مسلمان ویل او دا ئې ورته ویلي وي چې ته اوس د اسلامه ووتلې، په مسلمانانو کې نور ستا ځای نسته، دا پرته د هغه چا چې د هغه په هکله د آسماني وحي حکم په پرېکړې ډول راغلی وي؛ لکه دا چې الله د مرتدسوو منافقانو په هکله وایي: ﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ ۚ قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ ﴿٦٥﴾ لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ ۚ إِن نَّعْفُ عَن طَائِفَةٍ مِّنكُمْ نُعَذِّبْ طَائِفَةً بِأَنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿٦٦﴾﴾ [التوبة: ۶۵-۶۶].

ترجمه: «که د دوی څخه پوښتنه وکړې خامخا به وايي: موږ صرف دغسي يله (خوشي) ږغېدلو او لوبي مو کولې، ورته ووايه: آيا په الله او آياتونو او پيغمبر ئې تاسو ټوکي کوئ. عذرونه مه وړاندي کوئ بې شکه تاسو د خپل ايمان وروسته کافران سواست، که ستاسو يوې ډلي ته بخښنه وکړو، بلي ډلي ته په دې عذاب ورکوو په دې چي دوی مجرمان ول».

* کله يو انسان داسي کار نه وي کړی چي قرآن اوسنت هغه کفر بللی وي، خو د حکم کوونکي فکر دا وي چي ده داسي کار کړی، يا کله يو انسان يو ډول څه ويلي وي، د حکم کوونکي په نظر بل ډول وي، يا يو انسان د جرم کار کړی وي، خو په غلطۍ يا ناپوهي کي يا بل څه داسي عذر وي چي د هغه په وجه د داسي کار د کوولو سره هغه سړي ته قرآن اوسنت کافر نه وايي، نو که انسان په داسي ځای کي خطا سي او پر داسي شخص د کافر حکم وکړي چي په حقيقت کي کافر نه وي، داسي حکم بيا د دې حکم کوونکي خپل ايمان ته خطره ده؛ نو ځکه په دې اړه ګرانو لوستونکو څو وړانديزونه لرم:

1- کوم څوک چي د داسي کارو د اجراءاتو مسؤول نه وي، پر داسي کارونو د سزا مسؤوليت او اجرائيه قوت ورسره نه وي، هغه نه په دې مکلف دی چي پر اشخاصو (خاصو انسانانو) حکم وکړي، نه داسي انسان ته ترعام بيان کوم زيات ثواب لري، نه کوم ديني مصلحت، بلکي عامو مسلمانانو ته الله دا حکم کړی چي يو بل ته نصيحت وکړي، حق ورته ښکاره کړي چي د ده مسؤوليت ادا سي او د حق پټولو د ګناه ځان خلاص کړي، که څوک د ناخبرۍ په وجه په کوم ناروا کار کي واقع سوی وو هغه د داسي بيان په مرسته ځان ورڅخه ساتي،

نور د هر انسان په هکله د هغه رب تر ټولو ښه پوهېږي چې څنګه فیصله د هغه په هکله دی کوي، موږ ته الله داسي نه دي ویلي چې د انسانانو ریجسټر جوړ کړو او په دې ډول خلګ په تور لیست کي راولو چې د هر شخص یا ډلي په هکله دا ولیکو چې فلانی د فلانی زوی د دې نمبر د شناختي کارډ (تذکرې) څښتن، کافر سوی، د ټولو کافر سوو خلګو شمېر دغومره ته رسېږي.په دې اړه چې څوک عوام د حق پر ضد را پاروي او د فرعون په ډول غواړي چې دعوت د خپل اصلي لاري بل لوري ته واړوي، هغه ته د موسی عليه السلام په ډول جواب کول په کار دی چې د دواړو سوال او جواب الله داسي نقل کړی: ﴿قَالَ فَمَا بَالُ ٱلْقُرُونِ ٱلْأُولَىٰ ۝٥١ قَالَ عِلْمُهَا عِندَ رَبِّي فِي كِتَٰبٍۖ لَّا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى ۝٥٢﴾ [طه: ۵۱-۵۲].

ترجمه: «فرعون وویل: نو د اولنیو پېړیو حال ئې څه؟ (د هغو مخکنیو خلګو په هکله څه حکم کوې چې ستا د دعوته بغیر تېر سوي؟) موسی وویل: د هغو علم زما د رب سره په کتاب کي دی، زما رب نه غلطېږي، نه ئې څه هېرېږي».

نو که څوک وایي: دهغه خلګو څه حکم دی چې د دې خبرو مخالف دي چې تاسو ئې د قرآن اوپیغامبر خبري بولئ؟ نو هغه ته همداسي وایو: حکم دغه دی چې د الله په قرآن او د پیغامبر په سنت کې دی، نور د خلګو په هکله علم زموږ د رب سره دی چې څوني خلګ تر دې حکم لاندي کېږي. د داسي عام نصیحت فایده د هغه خلګو ساتنه او د بدو څخه راګیرول دي چې د ناخبرۍ په وجه په داسي کارو کي واقع سوي؛ ځکه هر انسان پر خپل ځان ښه علم لري

چي په ده کي کوم کارونه سته؛ نو داسي څوک چي کله په دې پوه سي چي دغه په ما کي موجود کارونه الله ناروا کړي، دهغه څخه به توبه وباسي که ځان د تباهي څخه ساتل غواړي او که څوک خپله ځان هلاکوي، نو پیغمبر ﷺ هم هغه نه سي پرلار سمولای؛ ځکه الله وايي: ﴿إِنَّكَ لَا تَهۡدِي مَنۡ أَحۡبَبۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ۝٥٦﴾ [القصص: ۵۶].

ترجمه: «ته هغه څوک نه سې پرلار کولای چي مینه ورسره کوې، لیکن الله هغه څوک پرلار سموي چي دی ئې غواړي او دی په هدایت قبلوونکو ښه پوه دی».

2- کوم څوک چي د داسي احکامو د تطبیق مسؤولیت او اجرائیه قوت لري، هغه هم باید د ډېر احتیاط وروسته په داسي ځایو کي فیصله عملي کوي؛ ځکه د پوره تحقیقه بغیر دوه احتماله کېدی سي: مجرم (ګناه کار) بې سزا بخښل، یا بې ګناه ته سزا ورکول، اسلام و بې ګناه انسان ته سزا ورکول د مجرم تر بې سزا بخښلو ډېر خطرناک بولي؛ مجرم بخښل په اسلام کي ځای لري، خو بې ګناه ته سزا ورکول په اسلام کي ځای نه لري.

پرانسانانو د کفر حکم کولو او عملي اجرا په هکله د احتیاطي ټکو څخه دا دي:

1- کوم چا چي کفري کار کړی وي هغه به عاقل بالغ وي.

2- په اختیاري حالت کي به ئې دا کار کړی وي، نه د چا د زور، جبر او اکراه په وجه (تفصیل وروسته وګوره).

3- بيان به ورته سوی وي، د هغه کار په حکم به پوه سوی وي چې ده کړی دی.

4- د دې جرم د کولو په وخت کې به حکم د هغه د یاده نه وي وتلی.

5- په کوم آیت یا حدیث کې د غلط فهمی په وجه به ئې هم ده دا کار نه وي کړی.

د دې خبرو دلیلونه په لنډو ټکو کې دا دي:

﴿وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلۡهُدَىٰ وَيَتَّبِعۡ غَيۡرَ سَبِيلِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصۡلِهِۦ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ١١٥﴾ [النساء: ۱۱۵].

ترجمه: «او څوک چی حق ښه ورته ښکاره سی او بیا هم د پیغمبر مخالفت اختیار کړي او د مسلمانانو د لاري پرته پر بله لار روان سي، نو هغه خوا ته به ئې مخ کړو چی ده مخ ور اړولی، په دوږخ کی به ئې داخل کو اوهغه د ورګرځېدو بد ځای دی».

﴿وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِلَّ قَوۡمَۢا بَعۡدَ إِذۡ هَدَىٰهُمۡ حَتَّىٰ يُبَيِّنَ لَهُم مَّا يَتَّقُونَۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ١١٥﴾ [التوبة: ۱۱۵].

ترجمه: «الله یو قوم د هغه څخه وروسته نه ګمراه کوي چې هدایت ئې کړه تر څو چې دوی ته هغه څه بیان کړي چې دوی ځان ځیني ساتي، الله بې شکه په هرشي پوره پوه دی».

﴿مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنۡ أُكۡرِهَ وَقَلۡبُهُۥ مُطۡمَئِنُّۢ بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلۡكُفۡرِ صَدۡرًا فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٌ ١٠٦﴾ [النحل:۱۰۶].

ترجمه: «څوک چي د خپل ايمان وروسته په الله کافر کيږي پرته د هغه چا چي په داسي حال کي مجبوره سي چي زړه ئې په ايمان ډاډمن وي، ليکن د چا سينه چي کفر ته پرانيستل سي نو پر هغو د الله غضب دی او لوی عذاب ئې په برخه دی».

﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا ٱكْتَسَبَتْ ۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦ ۖ وَٱعْفُ عَنَّا وَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَآ ۚ أَنتَ مَوْلَىٰنَا فَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٨٦﴾﴾ [البقرة: ۲۸۶].

ترجمه: «الله پر هيڅا د هغه تر توان پورته مسؤوليت نه ايږدي، هرڅا ته هغه څه دي چي کړي دي، پر هر چا هغه څه دي کړي دي، اې زموږ ربه! موږ مه را نيونګوه که مو هېر کړه يا خطا سوو، اې زموږ ربه! پر موږ هغسي درووند بار مه ايږده چي تر موږ پر مخکنيو دي ايښی وو، اې زموږ ربه! پر موږ داسي بار مه ايږده چي توان ئې نه لرو، زموږ تر ګناهونو را تېر سه، بخښنه راته وکړه پر موږ رحم وکړه، ته زموږ مددګار يې، نو د کافر قوم پرضد زموږ مرسته وکړه».

په حديث کي دا توري هم سته چي الله دا دعا قبوله کړه(۱).

﴿وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَآ أَخْطَأْتُم بِهِۦ وَلَٰكِن مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥﴾﴾ [الأحزاب: ۵].

---

۱- صحيح مسلم کتاب الايمان بَاب بَيَانِ أَنَّهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى لَمْ يُكَلِّفْ إِلَّا مَا يُطَاقُ.

ترجمه: «او پر تاسو څه ګناه نسته په هغه څه کي چي تاسو پکښي خطاوزئ، خو هغه څه چي ستاسو زړونو ئې قصد کړی وي او الله مهربان بخښونکی دی».

پېغامبر ﷺ ویلي: «للَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ حِينَ يَتُوبُ إِلَيْهِ مِنْ أَحَدِكُمْ كَانَ عَلَى رَاحِلَتِهِ بِأَرْضِ فَلَاةٍ فَانْفَلَتَتْ مِنْهُ وَعَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ فَأَيِسَ مِنْهَا فَأَتَى شَجَرَةً فَاضْطَجَعَ فِي ظِلِّهَا قَدْ أَيِسَ مِنْ رَاحِلَتِهِ فَبَيْنَا هُوَ كَذَلِكَ إِذَا هُوَ بِهَا قَائِمَةً عِنْدَهُ فَأَخَذَ بِخِطَامِهَا ثُمَّ قَالَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ اللَّهُمَّ أَنْتَ عَبْدِي وَأَنَا رَبُّكَ أَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ»(۱).

ترجمه: خامخا الله د خپل بنده په توبې په هغه وخت کي چي ده ته ورګرځي، ستاسو تر هغه یوه سړي ډېر خوشحاله کېږي چي په بېبان مځکه کي خپل پر اوښ وي، نو هغه ځیني ورک سي، پر هغه د ده خواړه او چښاک وي، نو ورڅخه نا امیده سي، یوې درختي ته راسي، نو د هغې په سیوري (سایه) کي تکیه وکړي په داسي حال کي چي د خپل اوښ څخه نا امیده سوی وي، په دې وخت کي چي دی همداسي وي یو دام دی د هغه سره مخ سي چي د څنګه ئې ولاړ وي، نو تر جلو ئې ونیسي، بیا د ډېري خوشحالۍ په وجه ووایي: اې الله ته زما بنده ئې زه ستا رب یم، د ډېري خوشحالۍ په وجه خطا سو.

خَالِدُ بْن ذَكْوَان وايي: قَالَتْ الرُّبَيِّعُ بِنْتُ مُعَوِّذِ بْنِ عَفْرَاءَ جَاءَ النَّبِيُّ ﷺ فَدَخَلَ حِينَ بُنِيَ عَلَيَّ فَجَلَسَ عَلَى فِرَاشِي كَمَجْلِسِكَ مِنِّي فَجَعَلَتْ جُوَيْرِيَاتٌ لَنَا

۱- صحیح مسلم کتاب التوبة باب في الحض على التوبة والفرح بها: 2747.

يَضْرِبْنَ بِالدُّفِّ وَيَنْدُبْنَ مَنْ قُتِلَ مِنْ آبَائِي يَوْمَ بَدْرٍ إِذْ قَالَتْ إِحْدَاهُنَّ وَفِينَا نَبِيٌّ يَعْلَمُ مَا فِي غَدٍ فَقَالَ دَعِي هَذِهِ وَقُولِي بِالَّذِي كُنْتِ تَقُولِينَ(١).

ترجمه: د معوذ بن عفراء لور ربيع رضي الله عنها وايي: پېغمبر ﷺ راغلی نو زموږ کورته داخل سو کوم وخت چي زما واده سوی وو، نو زما پر فرش کښېنستی لکه دا ته چي اوس را ته ناست يې، نو زموږ څه انجونو شروع وکړه ديره ئې وهل او زموږ (او د دوی) د نيکونو هغه څوک ئې ستايل چي د بدر په ورځ وژل سوي وه، د هغه انجونو يوې نا څاپه وويل: او په موږ کي داسي ولړ پېغامبر دی چي په هغه څه پوهېږي چي سبا کېږي. نو پېغامبر ﷺ هغې ته وويل: دا خبره پرېږده (داسي مه وايه چي زمو پېغامبر د را تلونکي پيښو علم لري)، هغه مخ کي بدلي چي دي ويلې هغه وايه.

پېغامبر ﷺ ويلي: «إِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِأَخِيهِ يَا كَافِرُ فَقَدْ بَاءَ بِهِ أَحَدُهُمَا»(٢).

ترجمه: چي کله سړی خپل ورور ته وايي: اې کافره! نو بس په دغه خبره د دوی دوو يو اخته سو.

**مطلب دا چي يا به هغه مقابل سړی کافر وي، يا به دا حکم خپله پر حکم کوونکي راګرځي.**

**په دې حديث پسې داسي دی:** بَاب مَنْ لَمْ يَرَ إِكْفَارَ مَنْ قَالَ ذَلِكَ مُتَأَوِّلًا أَوْ جَاهِلًا.

---

١- صحيح البخاري كتاب النكاح بَاب ضَرْبِ الدُّفِّ فِي النِّكَاحِ وَالْوَلِيمَةِ.
٢- صحيح البخاري كتاب الأدب بَاب مَنْ كَفَّرَ أَخَاهُ بِغَيْرِ تَأْوِيلٍ فَهُوَ كَمَا قَالَ.

وَقَالَ عُمَرُ لِحَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ إِنَّهُ مُنَافِقٌ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ «وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللَّهَ قَدْ اطَّلَعَ إِلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ قَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ».

ترجمه: دا باب دی په بیان کي د هغه چا د حکم چي هغه څوک کافر نه بولي چي دا (یا کافر) په غلط فهمي یا ناپوهي کي وایي، عمر وحاطب بن ابي بلتعه ته وویل: یقینا ته منافق کي یې. نو پیغامبر ﷺ وویل: ته څه خبر یې ګوندي الله بدریانو ته کتلي وي، ویلې وي: ما تاسو ته بخښنه وکړه.

په دې پسې د جابر بن عبد الله څخه په سند داسي حدیث نقلوي: «أَنَّ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كَانَ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ ﷺ ثُمَّ يَأْتِي قَوْمَهُ فَيُصَلِّي بِهِمْ الصَّلَاةَ فَقَرَأَ بِهِمْ الْبَقَرَةَ قَالَ فَتَجَوَّزَ رَجُلٌ فَصَلَّى صَلَاةً خَفِيفَةً فَبَلَغَ ذَلِكَ مُعَاذًا فَقَالَ إِنَّهُ مُنَافِقٌ فَبَلَغَ ذَلِكَ الرَّجُلَ فَأَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا قَوْمٌ نَعْمَلُ بِأَيْدِينَا وَنَسْقِي بِنَوَاضِحِنَا وَإِنَّ مُعَاذًا صَلَّى بِنَا الْبَارِحَةَ فَقَرَأَ الْبَقَرَةَ فَتَجَوَّزْتُ فَزَعَمَ أَنِّي مُنَافِقٌ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يَا مُعَاذُ أَفَتَّانٌ أَنْتَ ثَلَاثًا اقْرَأْ وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا وَسَبِّحْ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَنَحْوَهَا».

ترجمه: معاذ بن جبل د پیغامبر ﷺ سره لمونځ کوی بیا خپل قوم ته راتلی نو دوی ته ئې لمونځ ورکوی، نو دوی ته ئې سورة البقرة لوستلې وه (لمونځ ئې ډېر اوږد کړی وو) نو یو سړي په لمانځه کي جواز اختیار کی (هغه ډېر ښه ئې پرېښودی)، مختصر لمونځ ئې وکی، نو دا خبره معاذ ته ورسېدل، ده وویل: یقینا دا سړی منافق دی، نو دا خبره هغه سړي ته ورسېدل، هغه پېغامبر ﷺ ته راغلی، نو وې ویل: اې د الله پېغامبره! موږ داسي خلک یو چي په خپلو لاسو کار کوو او په خپلو اوښانو اوبه د څاهانو راکاږو او یقینا چي معاذ

برايي شپه موږ ته لمونځ را کی، سورة البقره ئې ولوستل، نو ما د جواز خوا اختياره کړه (مختصر لمونځ مي وکړ)، نو ده دا وويل: چي زه منافق يم. نو پيغامبرﷺ درې ځله وويل: اې معاذه آيا ته خلک په فتنه کي اچوې؟ والشمس او سبح اسم ربک الأعلى او دې ته ورته سورتونه وايه.

په دغه دواړو حديثو کي دوو صحابه ؤ خپلو وړونو ته د منافق توري کارولي، پيغامبرﷺ د دوی غلطي ور اصلاح کړه، خو دا ئې ورته ونه ويل چي تاسو خپله کافران سواست؛ ځکه هلته په ښکاره ډول داسي څه شی وو چي د غلط فهمۍ عذر جوړېدی، خاص ډول بيا د حاطب بن ابي بلتعه په واقعه کي[1].

دا رنګه رسول الله ﷺ ويلي: «مَنْ حَلَفَ مِنْكُمْ فَقَالَ فِي حَلِفِهِ بِاللَّاتِ وَالْعُزَّى فَلْيَقُلْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ تَعَالَ أُقَامِرْكَ فَلْيَتَصَدَّقْ»[2].

ترجمه: که ستاسو کوم چا قسم وکی، نو خپل په قسم کې وويل: په لات او عزا (بتانو) دي زما قسم وي، نو لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ دي ووايي، که چا خپل ملګري ته وويل: راسه قِمار در سره کوم، نو خيرات دي وکړي.

---

۱- د دې پېښي د تفصيل لپاره دي وکتل سي: صحيح البخاري كتاب الجهاد والسير باب الجاسوس.
صحيح مسلم كتاب فضائل الصحابة باب من فضائل أهل بدر وقصة حاطب...

۲- صحيح البخاري كتاب الأدب بَاب مَنْ لَمْ يَرَ إِكْفَارَ مَنْ قَالَ ذَلِكَ مُتَأَوِّلًا أَوْ جَاهِلًا ۶۱۰۳- ۶۱۰۸.

پیغمبرﷺ ویلي: «رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ عَنْ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ وَعَنْ الْمُبْتَلَى حَتَّى يَبْرَأَ وَعَنْ الصَّبِيِّ حَتَّى يَكْبُرَ»[۱].

ترجمه: د درې قسمه خلکو څخه قلم پورته سوی (سزا نه پسي ليکل کيږي): د بيده څخه تر څو ويښيږي، د لېوني څخه تر څو جوړيږي او د کچني څخه تر څو لوی کيږي.

د اقامت حجت (د حکم بيان) مسأله ډېر تفصيل غواړي، خو يو مختصر خبره په دې اړه دا کوو چي د عملي مسئلو په اړه خو يقيني دليلونو سته چي تر څو چا ته نه وي رسېدلي، ده ئې د زدکړي او پوهي توان نه وي پيدا کړی هغه شخص معذور دی، مثلا: کوم شيان چي په شروع کي مباح (روا) وه وروسته حرام سوه لکه: شراب، دخره غوښه، په يوه وخت کي داسي دوې ښځي په نکاح کول چي دواړي په خپلو کي سره خوندي وي چي د سورة النساء (23) د ﴿إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ﴾. څخه هم معلوميږي دا او دې ته ورته شيان چي کومه ورځ په مدينه کي حرام سول د يمن، حبشې او نورو لرې سيمو مسلمانانو ته دا خبر په دغه ورځ رسېدل هغه وخت امکان نه درلودی؛ ځکه هغه وخت نه تلويزيون (TV) وو، نه هوايي جهاز، نه ټيليفون، بلکي داسي لا هم پېښه سوې چي په مدينه کي د قبلې د بدلېدلو حکم نازل سوی چي په لمانځه کي دي د بيت المقدس په عوض کي بيت الله (کعبه) قبله سي، پيغمبرﷺ کعبې ته لمونځ کړی، د بل مسجد خلکو لا پخوانۍ قبلې بيت المقدس ته لمونځ کوی تر

---

۱- سنن ابي داود کتاب الحدود بَاب فِي الْمَجْنُونِ يَسْرِقُ أَوْ يُصِيبُ حَدًّا.(سنده صحيح).

څو یو صحابي خبر ورکړ چي زه ګواهي کوم چي ما د پیغامبرﷺ سره لمونځ کعبې ته وکړ، نو دوی هم د لمانځه د رکوع په حالت کي مخ نوي قبلې ته راواړوی، خپل پاته لمونځ ئې کعبې ته وکړ(۱).

نو تر کومه وخته چي معلومات ورته نه وو خو دغه خلګ ګناه کار نه دي بلل سوي.

البته د توحید په مسأله کي سړی داسی نه سي ویلای؛ ځکه د پیغمبرﷺ د پیغمبرۍ د اعلان تر مخه چي کوم کسان پر کفر مړه دي دوږخیان ورته ویل سوي لکه عمرو بن لُحی الخُزاعي(۲).

د پیغامبرﷺ څخه یو سړي پوښتنه وکړه چي زما پلاره چېري دی؟ ده وویل: «إِنَّ أَبِي وَأَبَاكَ فِي النَّارِ»(۳). ترجمه: یقینا زما پلار او ستا پلار په اور کي دي.

دا سره د دې چي الله وایي: ﴿وَمَآ ءَاتَيۡنَٰهُم مِّن كُتُبٖ يَدۡرُسُونَهَاۖ وَمَآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمۡ قَبۡلَكَ مِن نَّذِيرٖ ٤٤﴾ [سبأ: ۴۴].

ترجمه: «او دوی ته مو څه کتابونه هم نه دي ورکړي چي دوی ئې ولولي اوستا دمخه مو دوی ته څه دعذابه خبروونکی هم نه دی ورلیږلی».

دې ته ورته خبره په سورة یس (6) کي هم یاده سوې، خو دا پوښتنه پیدا کېږي چي د الله د پیغام بغیر توحید څرنګه وپېژني؟

---

۱- صحیح البخاري کتاب التفسیر بَاب قَوْلِهِ تَعَالَى سَيَقُولُ السُّفَهَاءُ.

۲- صحیح البخاري کتاب المناقب بَاب قِصَّةِ خُزَاعَةَ.

۳- صحیح مسلم کتاب الایمان بَاب بَيَانِ أَنَّ مَنْ مَاتَ عَلَى الْكُفْرِ فَهُوَ فِي النَّارِ وَلَا تَنَالُهُ شَفَاعَةٌ وَلَا تَنْفَعُهُ قَرَابَةُ الْمُقَرَّبِينَ.

په دې اړه که څوک تفصیل غواړي په همدې کتاب کي دا عنوان: (د زیارتونو حکم) وګوري.

جواب: د توحید تفصیلات که څه هم شریعت غواړي، خو په اجمالي ډول د الله د توحید دلیلونه د انسان په فطرت (اصلي جوړښت) کي ایښودل سوي دي؛ لکه څرنګه چي دا بیان وروسته را روان دی چي د هغه وخت مشرکان هم په دې پوهېدل چي د آسمانونو، مځکي او هرشی پیدا کوونکی او د دوی روزي ورکوونکی الله دی.

د دې په ها خوا که څوک غفلت و نکړي نو په اجمالي ډول په دې پوهېدی سي چي په موجوداتو کي د موجوداتو د خالق فیصله چلېږي او که یو څوک د عبادت وړ وي، هغه به همدا خالق وي او ځیني خلګو چي د دې هڅه کړې هغو په عملي ډول دغه قدر توحید پېژندلی؛ لکه زید بن عمرو بن نفیل چي د اسلام تر مخه د جاهلیت په دورکي په توحید پوهېدی او د هغه شیانو غوښه بې نه خوړل چي د الله د نوم پرته د بل چا په نامه ذبح کېدل او پر مشرکینو بې سختي نیوکي کولې[1].

بیا هم چي الله ارحم الراحمین کوم څوک معذوره بولي، څنګه فیصله کوي د ده خپل خوښه ده، څوک تبدیلي نه سي پکښي راویستی، خو د هغه چا په هکله به څه عذر وي چي دعوت ور رسېدلی، بلکي قرآن ئې په کورکي په ښو ډوله ښایسته پوښو کي بند ساتلی، د الله د توحید څخه غفلت کوي، په قرآن ځان نه پوهوي؟

۱- د تفصیل لپاره وګوره: صحیح البخاري کتاب مناقب الأنصار باب حدیث زید بن عمرو بن نفیل.

الله وايي: ﴿وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ١٢٤ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرۡتَنِيٓ أَعۡمَىٰ وَقَدۡ كُنتُ بَصِيرٗا ١٢٥ قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتۡكَ ءَايَٰتُنَا فَنَسِيتَهَاۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمَ تُنسَىٰ ١٢٦﴾ [طه: ۱۲۴-۱۲۶].

ترجمه: «او څوک چي زما د يادګاري نصيحت (قرآن) څخه مخ واړوي نو يقينا چي هغه ته تنګ ژوند دی او په ورځ د قيامت به دی ړوند را غونډ (دوباره ژوندی) کړم، دی وايي: اې زما ربه ولي دي ړوند را غونډ (دوباره ژوندی) کړم حال دا چي زه ليدونکی (سترګور) وم؟ الله وايي:همداسي زما آياتونه درته راغلي وه، نو تا هېر کړه او همداسي ته نن ورځ هېرېږې».

حقيقت دا دی چي هغه چا ته خو هيڅ عذر نسته چي د قرآن د زدکړي لاسرسي لري، ځان نه په خبروي. که نن څوک غواړي چي په اسلام ځان سم پوه کړي، هغه دي قرآن زده کړي، د الله د توحيد ښه تفصيل تر هر چا قرآن ښه کړی، اوس زه په دې اړه د هغه څخه د خپل توان سره سم څه خبري د ګرانو لوستونکو مخ ته ايږدم چي زموږ اصل موضوع همدا ده چي د الله توحيد او د پيغمبرﷺ رسالت په ښتو تشريح سي.

# په اسلام کې اولنۍ فريضه کوم شی دئ؟

پېغمبرﷺ وايي: «بُنِيَ الإِسلامُ عَلى خَمْسٍ: شَهادَةِ أَنْ لا إِلهَ إلاّ اللُّه، وَأَنَّ محمداً رسولُ اللّه، وَإقامِ الصلاةِ، وإِيتاءِ الزَّكاةِ، والحَجِّ، وصَوْمِ رَمَضانَ»[1].

ترجمه: اسلام پر پنځو شيان ولاړ دی: د دې ګواهي چی بغير د الله بل حقدار د بندګۍ نسته، او محمدﷺ د الله پېغمبر دی اود لمانځه سمول (جاري ساتل)، د زکات ورکول، حج کول او د رمضان روژه نيول.

دا حديث ښيي چي اسلام پنځه ستونه لري او ستون والا شی د ستون بغير نور شيان هم لري؛ لکه: چت، دېوالونه وغيره، نو داسي مطلب ورڅخه اخيستل سم نه دی چي اسلام تنها همدا پنځه شيان دي. د اسلام اول ستون دا ښودل سوی چي څوک الله د يوازني معبود په توګه ومني او محمدﷺ د آخري وروستني پېغمبرۍ په توګه ومني او دا عقيده وساتي.

نو زه غواړم چي ګرانو لوستونکو ته دا په دوه بحثونو کي د قرآن او سنت په رڼا کي وړاندي کړم، د الله څخه مرسته غواړم چي هغه څه ولیکم چي ده ته خوښ وي، که کومه خبره د الله او پېغامبره د خبري مخالفه وي، يا بې دليله په دين کي اضافه سوې وي، د هغې پرېښودل پر هر مسلمان فرض ده.

---

١- صحيح البخاري كتاب الإيمان الباب الثاني حديث نمبر: ٨. صحيح مسلم كتاب الايمان باب أركان الاسلام ودعائمه العظام: ١٦.

## اول د هرڅه د مخه، لا إِلهَ إِلا اللّٰهُ:

دا د توحيد کلمه ده چې ترجمه ئې داسې ده: د الله پرته هيڅ د بندګۍ حقدار نسته.

بندګي يوازي لمونځ نه دی، بلکي هره هغه وينا او کار چې الله خوښ کړی وي او د کولو حکم ئې کړی وي د هغه کول بندګي ده، لکه: طواف، نذر، دعا وغيره.

هر هغه کار چې د الله نه وي خوښ، د هغه د پرېښودلو حکم ئې کړی وي د هغه پرېښودل بندګي ده؛ لکه يو شی پر ځان حرام بلل، يو کار ته ګناه ويل وغيره.

د دې کلمې په منلو کي د هر قسم خرافي او ماډرن (پرمخ تللي) شرک څخه د بېزارۍ اعلان دی.

دا هغه کلمه ده چې الله پر خپلو بندګان د دې زدکړه او ځان په پوهول فرض کړي؛ الله تعالی وايي: ﴿فَٱعۡلَمۡ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ﴾ [محمد: ۱۹].

ترجمه: «په دې پوه سه چې د الله پرته هيڅ حقدار د بندګۍ نسته».

د دې کلمې نحوي (ګرائمري) ترکيب زده کول که هرڅه هم په دې وجه ښه کار دی چې د زدکړې يوه ذريعه ده،خو دا خپله مقصود يا فرض نه دی، بلکي د دې په مقصد ځان پوهول فرض دی په همغه شان چې محمد ﷺ خپل نالوستي (اميان) ملګري په پوه کړي وه. دا کلمه پېغمبر ﷺ د خپل کاکا ابوطالب د ژوند په آخري وخت

کي هم ور وړاندي کړه او داسي ئې ورته وويل: «يَا عَمِّ قُلْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ كَلِمَةً أَشْهَدُ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللَّهِ»(۱).

ترجمه: اې کاکا! ووايه: د الله بغير بل حقدار د بندګۍ نسته، داسی کلمه چي ستا لپاره په هغې د الله په حضور کی ګواهي وکړم.

دا ئې د دې نيکي هيلي سره ورته وړاندي کړه چي که ده ومنل او وئې ويل، نو په دې به د دوږخه وژغورل سي. خو ابوطالب د پېغمبرﷺ دا ارمان پوره نه کی او دا کلمه ئې و نه ويل.

دا هغه کلمه ده چي د پېغمبرانو او مشرکينو ترمينځ لانجې او شخړي د همدې کلمې د منلو پر سر رواني وې، ابو جهل اوملګرو ئې د همدې کلمې په منلو کي خپل د خرافي عوام غولونکي شرک نسکوريدا لېدل چي د خپل ظالم نظام د پاته کېدو او پرمخ تګ لپاره ئې د پوښ په توګه کار ځيني اخيستی، نو ځکه ئې منلو ته تيار نه وو؛ الله وايي: ﴿إِنَّهُمْ كَانُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ۝٣٥ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓاْ ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍ ۝٣٦﴾ [الصافات: ۳۵-۳۶].

ترجمه: «يقينا چي دوی ته به کله وويل سوه: د الله پرته بل د بندګۍ حقدار نسته، دوی لويي کول (دا حق خبري ته ئې غاړه نه ايښودل) او ويل ئې: آيا موږ خپل معبودان د لېوني شاعر په وجه پرېږدو؟».

---

۱- صحيح البخاري كتاب الجنائز بَاب إِذَا قَالَ الْمُشْرِكُ عِنْدَ الْمَوْتِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ. صحيح مسلم كتاب الايمان بَاب الدَّلِيلِ عَلَى صِحَّةِ إِسْلَامِ مَنْ حَضَرَهُ الْمَوْتُ مَا لَمْ يَشْرَعْ فِي النَّزْعِ.

دا هغه کلمه ده چې د هر پیغمبر د دعوت او پیغام په اول سره کې وه؛ الله تعالی وایي: ﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ﴾ [النحل:٣٦].

ترجمه: «بېشکه ما په هر امت کې پیغمبر را لیږلی چې د الله بندګي کوئ او د هغه شی ډ ډه کوئ چې د الله حق ته ئې تېری کړی».

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ٢٥﴾ [الأنبياء: ٢٥].

ترجمه: «او ستا تر مخ مې هیڅ پیغمبر نه دی لیږلی بغیر د دې چې دا پیغام به مې ورته کوی چې زما پرته بل دبندګۍ حقدار نسته، نو زما بندګي کوئ»(١).

دا هغه کلمه ده چې د دې تر سیوري (سایې) لاندې هغه کمزورو مظلومو قومونو د هغو بې قانونه ظالمو واکمنانو څخه خپل ازادي تر لاسه کړې چې د دې ترمخ ئې د خپلو کورونو اختیار هم نه درلودی، د وخت ظالمو واکمنانو د خپل زورواکۍ د پاته کېدا لپاره دا کوښښ کوی چې د دوی تر لاس لاندې مخالفین ئې همداسې کمزوري پاته وي، ظالمانو نه پرېښودل چې د کمزوري قوم نارينه اولادونه ځوانان سي، د دوی زورواکۍ ته خطر سي؛ الله تعالی وایي: ﴿إِنَّ فِرۡعَوۡنَ عَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَجَعَلَ أَهۡلَهَا شِيَعٗا يَسۡتَضۡعِفُ طَآئِفَةٗ مِّنۡهُمۡ يُذَبِّحُ أَبۡنَآءَهُمۡ وَيَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٤﴾ [القصص: ۴].

---

١- د دې خبري تفصيل د قرآن کريم په ډېرو ځايونو کې راغلی، د بېلګې په توګه محترم لوستنکي دا ځایونه کتلای سي: سورة أعراف 59، 65، 72، 85، 103، سورة شعراء: 70، 108، 126، 144، 163، 179.

ترجمه: «بې‌شکه فرعون په مځکه کي لويي وکړه او د مځکي اوسيدونکي ئې ډلي ډلي کړه (پر طبقاتو ئې ووېشل) د هغو يوه ډله ئې کمزورې کول: زامن ځيني وژل او ښځينه ئې ژوندۍ پرېښودلې؛ بې شکه دی د فساد کارانو څخه وو».

د داسي ظالم نظام څخه د مظلومانو د خلاصون لپاره الله دوه غبرګ پېغمبران يو ځای ولېږل او داسي ئې ورته وويل: ﴿فَأۡتِيَا فِرۡعَوۡنَ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝١٦ أَنۡ أَرۡسِلۡ مَعَنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ۝١٧﴾ [الشعراء: ۱۶-۱۷].

ترجمه: «نو داوړه وفرعون ته ورسئ، ورته ووایاست: بې شکه موږ د رب العالمين د لوري پيغمبران يو د دې لپاره چي بني اسرائيل زموږ سره ولېږه (آزاد ئې کړه)».

د دې سره چي فرعون د موسیٰ‌عليه السلام د پېغمبرۍ په روشتينوالي پوهېدی، خو د قوم د غولو لپاره ئې پر موسیٰ‌عليه السلام ډول ډول تورنه ولګول، د هري وسيلې څخه ئې کار واخيستی. موسیٰ‌عليه السلام چي قوم د الله په پېغام د تيارو څخه رڼا ته را ايستی، د ظلم څخه د ازادۍ لاره ئې ورښودل، فرعون ګوت څنډونه ورته وکړه: ﴿قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذۡتَ إِلَٰهًا غَيۡرِي لَأَجۡعَلَنَّكَ مِنَ ٱلۡمَسۡجُونِينَ ۝٢٩﴾ [الشعراء:۲۹].

ترجمه: «فرعون وويل: که دې زما بغير بل معبود ونيوی (که دې زما پرته بل څوک د عبادت او اطاعت وړ وبلی) خامخا به دې د بندي سوو څخه ګرځوم (جېل ته به دې اچوم)».

﴿وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَأُ مَا عَلِمۡتُ لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرِي﴾ [القصص: ۳۸].

ترجمه: «او فرعون وويل: اې مشرانو (د پارلمان وکيلانو)! تاسو ته زما پرته بل حقدار د بندګۍ نه دی را ته معلوم (زما بغير بل داسي څوک د دې وړ (لايق) نه وينم چي هر قسم خبره ئې ومنل سي)».

﴿وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ أَتَذَرُ مُوسَىٰ وَقَوۡمَهُۥ لِيُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَيَذَرَكَ وَءَالِهَتَكَۚ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبۡنَآءَهُمۡ وَنَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡ وَإِنَّا فَوۡقَهُمۡ قَٰهِرُونَ ١٢٧﴾ [الأعراف:١٢٧].

ترجمه: «او د فرعون د قوم مشرانو وويل: آيا ته موسی او د ده قوم پرېږدې د دې لپاره چي په مځکه کي خرابي وکړي او تا او ستا هغه څوک پرېږدي چي بندګي ئې کېږي؟ فرعون وويل: موږ به د دوی زامن وژنو او لوڼي بې ژوندۍ پرېږدو او بې شکه موږ پر دوی برلاسي (زورور) يو».

فرعون خپل د واکمن قوم مشرانو ته دا ويل چي زما بغير تاسو ته بل د بندګۍ وړ څوک نه را ته معلومېږي. د قوم مشرانو ئې بيا د ده د لوري د ورکړه سوي واکمنۍ په وجه ځانونه د موسی او هارون عليهما السلام د کمزوري قوم بني اسرائيلو معبودان (خدايان) بلل؛ قرآن وايي: ﴿فَقَالُوٓاْ أَنُؤۡمِنُ لِبَشَرَيۡنِ مِثۡلِنَا وَقَوۡمُهُمَا لَنَا عَٰبِدُونَ ٤٧﴾ [المؤمنون: ۴۷].

ترجمه: «فرعون او د قوم مشرانو ئې وويل: آيا زموږ په شان پر دوو انسانانو به موږ ايمان راوړو په داسي حال کي چي د دوی دواړو قومان موږ ته بندګي کوونکي دي؟».

عابد ون د عبد جمع نه ده کوم چي د مريي په معنی هم کارېږي، بلکي د عابد جمع ده چي د بندګي کوونکي معنی لري، د ﴿وَيَذَرَكَ وَءَالِهَتَكَۚ﴾ څخه د فرعون د مشرانو دا مراد وو چي دوی به هم ستا د

حکم څخه سرکښي وکړي او هم ستا د قومي د مشرانو (پارلمينټ) د حکم څخه. فرعون ځان ترټولو لوړ د مشرانو معبود بلی. مشرانو ځانونه د عوامو معبودان بلل؛ څرنګه چي قرآن د هغه دا خبره نقلوي: ﴿فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلۡأَعۡلَىٰ ۝٢٤﴾ [النازعات: ۲۴].

ترجمه: «فرعون وويل: زه ستاسو هغه ډېر لوړ د شريعت جوړولو اختيارمن يم».

د فرعون د دې خبري مطلب قرآن کريم بل ځان داسي بيانوي: ﴿قَالَ فِرۡعَوۡنُ مَآ أُرِيكُمۡ إِلَّا مَآ أَرَىٰ وَمَآ أَهۡدِيكُمۡ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ۝٢٩﴾ [المؤمن: ۲۹].

ترجمه: «فرعون وويل: زما د رايي پرته بل څه نه در ښيم او د هوښيارۍ (ترقۍ) د لاري پرته مو بل څه ته نه هدايت کوم».

فرعون چي ځان د خپل ولس او قوم رب اعلی (لوړ څښتن) يا اِله بللی مطلب ئې دا وو چي زه کوم څه وايم هغه به منل کيږي، هغه که د ژوند په هر اړخ کي وي آن تر دې چي ده خلکو ته په خپل دين کي هم آزادي نه ورکول؛ کله چي جادو ګرانو حق وپېژندی او د ايمان اعلان ئې وکړ، فرعون په پوره بېباکۍ پر هغو نيوکه کوي، د فساد او فتنه ګرۍ تور پر لګوي او ګوت څنډنه ورته کوي، قرآن کريم وايي: ﴿وَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ۝١٢٠ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝١٢١ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ۝١٢٢ قَالَ فِرۡعَوۡنُ ءَامَنتُم بِهِۦ قَبۡلَ أَنۡ ءَاذَنَ لَكُمۡۖ إِنَّ هَٰذَا لَمَكۡرٞ مَّكَرۡتُمُوهُ فِي ٱلۡمَدِينَةِ لِتُخۡرِجُواْ مِنۡهَآ أَهۡلَهَاۖ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ۝١٢٣ لَأُقَطِّعَنَّ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم مِّنۡ خِلَٰفٖ ثُمَّ لَأُصَلِّبَنَّكُمۡ أَجۡمَعِينَ ۝١٢٤ قَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا

مُنقَلِبُونَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا تَنقِمُ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ۚ رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ ﴿١٢٦﴾﴾ [الأعراف: ١٢٠-١٢٦].

ترجمه: «او جادوګران سجده کوونکي وغورځول سوه (بې اختياره پر سجده ولوېدل)، دوی وويل: زموږ ايمان دی په رب العالمين، په رب د موسی اوهارون. فرعون وويل: آيا زما د اجازې پرته مو پر موسی ايمان راوی؟ بې‌شکه دا (ستاسو د ايمان اعلان) يو چل دی چې تاسو په دې ښار کې د دې لپاره چلولی چې د هغه خپل خلک ورڅخه وباسئ، نو به پوه سئ، خامخا به ستاسو لاسونه اوپښې چپ ولپ (ترله اوښتې) پرې کوم او تاسو به ټوله ځړوم. هغوی وويل: موږ بې شکه د خپل رب لوري ته وراوړو او ته زموږ د بل کاره بد نه وړې د دې پرته چې موږ د خپل رب په نښانو ايمان راوړی چې کله هغه راغلې، اې زموږ ربه پر موږ صبر را توی کړې (موږ ته ډېر صبر راکړې) او مسلمين (الله ته تسليم سوي) مو وفات کړې»[1].

داسې مطلب چې فرعون دې ويلي وي: زه ستاسو خالق يم و ما ته لمونځونه کوئ، ډېر ليرې ښکاري؛ ځکه يو خو سياسي مشر ته دا ډېر ارزښت نه لري چې خلک لمونځونه ده ته وکړي، بلکې دا ورته ارزښت لري چې د خبري مخالفت دې څوک نه کوي، د ده زورواکي

---

١- دا د هغه خلکو د لوري بيان دی چې د ايمان تر مخه د کفر په حالت کې ډېر چاپلوسان وه، د موسیعليه السلام مقابلې ته د دې لپاره را وتلي وه چې ګوندي فرعون څه مزدوري ورکړي، خو ايمان داسې غيرت من انسانان ورڅخه کړه چې د دوی د خبري اورېدل اوس د نور خلکو ايمان زياتوي، روښتيا ايمان هم داسې وي چې خلک د غلامۍ څخه آزادوي، يو غيرتمن، هوښيار انسانان ورڅخه جوړوي.

دي د هيڅ ډول ګواښ سره نه مخامخ کېږي، بله دا چي يو داسي په دروغي سياست ډېر پوه سړی لکه فرعون چي دا ډول په پراخه پيمانه دروغ وايي، نو هغه ډېر ښايسته په سياست کي ارزښتمن دروغ وايي چي د خلکو په اکثريت کې د منلو امکان وي او بې عقلان په تېر ايستلی سي او په دا خبره چي دی ځان د خلکو خالق (پيدا کوونکی) ولس ته وښيي، ډېری خلکو ته د هغه دروغ ښکاره کېږي، پر ده بې باوره کېږي؛ ځکه دا هغو ته معلومه وه چي دی خو يو څو کاله کېږي چي نړۍ ته راغلی، د فلاني کاکا زوی دی، د هغه په کور کي زېږېدلی دئ. زموږ سپينږيري د هغه زوکړه او د زېږېدو نېټه په ياد لري. دا زموږ وطن او خلکو خو د ده ترمخه هم شتون درلودی، دا وطن اوخلک خو د پېړيو تاريخ لري. نو حقيقت همغه دی چي قرآن تفسير کړی او عقل ئې هم تأييدوي. لنډه دا چي د دا کلمې په منلو او عملي کولو د داسي ظالمي زورواکۍ څخه مظلومان ازاد سوي.

دا هغه کلمه ده چي د آخري پيغمبر ﷺ پيغام او دعوت هم په دې کلمې شروع سوی، قال ابْن عَبَّاس: لَمَّا بَعَثَ النَّبِيُّ ﷺ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ إِلَى نَحْوِ أَهْلِ الْيَمَنِ قَالَ لَهُ إِنَّكَ تَقْدَمُ عَلَى قَوْمٍ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَى أَنْ يُوَحِّدُوا اللهَّ تَعَالَى فَإِذَا عَرَفُوا ذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللهَّ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي يَوْمِهِمْ وَلَيْلَتِهِمْ فَإِذَا صَلَّوْا فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللهَّ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ زَكَاةً فِي

أَمْوَالِهِمْ تُؤْخَذُ مِنْ غَنِيِّهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فَقِيرِهِمْ فَإِذَا أَقَرُّوا بِذَلِكَ فَخُذْ مِنْهُمْ وَتَوَقَّ كَرَائِمَ أَمْوَالِ النَّاسِ[۱].

ترجمه: ابن عباس رضي الله عنهما وايي: چي کله پيغمبر ﷺ معاذ بن جبل د يمن لوري ته ولېږی ورته وې ويل: بې شکه ته د اهل کتابو يو قوم ته ورځې، نو اول څه چي د دوی بلنه ورته کوې دا دي وي چي دوی د الله يووالی ومني، چي کله دوی دا وپېژندل نو خبر ورکه چي الله د دوی په شپه او ورځي کي پنځه لمونځه ورباندي فرض کړي، چي کله دوی لمونځ وکی نو خبره ورکه چي الله د دوی په مالو کي پر دوی زکات فرض کړی چي د شتمنو ئې اخيستل کېږي او فقيرانو ته ئې ورکول کېږي، نو چي دوی د دې اقرار وکی بيا ئي ځيني اخله او د خلګو دعزتمنو (ښه) مالونو څخه ځان ساته (درميانه ځيني اخله).

دا هغه کلمه ده چي د انسانانو خالق د دې عملي منل فرض کړي، ﴿۞وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ﴾ [الإسراء: ٢٣]. ترجمه: «ستا رب دا حکم کړی چي د ده پرته د بل چا بندګي مه کوئ».

﴿۞وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ﴾ [النساء: ٣٦].

ترجمه: «او د الله بندګی کوئ، هيڅ شی مه ورسره شريکوئ».

شی چي هرڅه وي که ډبره وي که درخته، که حيوان وي که انسان، که د الله دښمن وي که دوست، د هيڅ قسم شي د شريکولو اجازه نسته. د الله په هکله د هر قسم شريک څخه پاکه عقيده ساتل

---

١- صحيح البخاري کتاب التوحيد بَاب مَا جَاءَ فِي دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمَّتَهُ إِلَى تَوْحِيدِ اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى. صحيح مسلم کتاب الايمان بَاب الدُّعَاءِ إِلَى الشَّهَادَتَيْنِ وَشَرَائِعِ الْإِسْلَامِ.

توحید بلل کېږي. د توحید مطلب د الله په هکله دا عقیده ساتل دي چي څرنګه الله یوازي د ټولو مخلوقاتو پیدا کوونکی (خالق) دی همداسي د هر قسم عبادت حقدار اومستحق دی، پاک بې عیبه، بې مثاله د ښومونو او صفاتو لایق دی؛ الله وایي: ﴿رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا فَٱعۡبُدۡهُ وَٱصۡطَبِرۡ لِعِبَٰدَتِهِۦۚ هَلۡ تَعۡلَمُ لَهُۥ سَمِيّٗا ٦٥﴾ [مریم: ۶۵].

ترجمه: «دی د آسمانونو، مځکي او هغه څه پیدا کوونکی دی چي د دوی په مینځ کي دي، نو د ده بندګي کوه او بندګۍ ته ئې صبر کوه (پر عبادت ئې کلک وسه) آیا ده ته په نوم کي شریک درته معلومېږي (آیا داسي څوک سته چي د الله په ډول صفات ولري یا د ده په شان کارونه وکولای سي)؟».

په دې آیت کي دا خبري راغلي:

<u>اول:</u> د آسمانونو (ولړو مخلوقاتو) مځکي او د دوی په مینځ کي چي هرڅه دي د دې ټولو پیداکوونکی الله دی د دې خبري منل ځیني خلګو د توحید ربوبیت په نامه تعبیر کړی، دا یوه وروستنۍ اصطلاح ده چي د یوه خالق منل ئې مطلب دی، خو دا هغه شرعي د قرآن او سنت په ژبه توحید نه دی چي په منلو ئې څوک موحد مسلمان جوړېږي؛ د دې خبري دلیلونه وروسته یادېږي.

<u>دوهم:</u> هغه الله چي د هرڅه خالق دی هغه د هر قسم عبادت مستحق دی، داسي عقیده ساتل هغه څه دي چي پیغمبر ﷺ توحید ورته ویلي او همدا ئې په اسلام کي اولنی فرض بللی؛ لکه څنګه چي حواله تېره سوه، د پیغمبر ﷺ څخه د اسلام په هکله پوښتنه وسوه، ده

وويل: «الْإِسْلَامُ أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا تُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ وَتُؤَدِّيَ الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ وَتَصُومَ رَمَضَانَ»[۱].

ترجمه: اسلام دا دی چې د الله بندګي وکړې، هیڅ شی ورسره شریک نکړې، لمونځ سم کړې، فرض سوی زکات ورکړې او د رمضان روژه ونیسې.

درېیم: د الله په نومونو او صفتونو کې هیڅ شریک ورسره نسته؛ کوم قسم علم چې الله لري بل هیڅوک داسې علم نه لري؛ ځکه مخلوق په لږو شیانو پوهېږي هغه هم د اسبابو په ذریعه، حتی چې پیغمبران هم د الله د لورې د خبر په وجه پوهېږي، د هغه پرته نور معلومات ورته نسته او الله په هرشي پوهېږي، عالم الغیب والشهادة، په پټو او په ښکاره خبر دی، هیڅ شی نه دی ځیني پټ.

کوم قسم زور چې الله لري بل څوک داسې زور نه لري؛ ځکه مخلوق لږ پر محدود (لږ) شیانو زور لري هغه هم په اسبابو، او الله پر هر څه پوره واکمن دی، اسبابو او هیڅ قسم شي ته محتاج نه دی؛ الله وایي: ﴿هُوَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ فَإِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ۝٦٨﴾ [المؤمن: ۶۸].

ترجمه: «دی هغه څوک دی چې ژوند او مرګ ورکوي، نو چې کله د یوه کار فیصله وکړي بس تنها ورته وایي: وسه، نو هغه کېږي».

الله ته د صفتونو په اثبات کې مشرکانو ډېر اختلاف نه در لودی، البته د الله سره ئې نور هم په ځیني داسې صفاتو کې شریک بلل چې

---

۱- صحيح البخاري كتاب الايمان بَاب سُؤَالِ جِبْرِيلَ النَّبِيَّ ﷺ عَنْ الْإِيمَانِ وَالْإِسْلَامِ. صحيح مسلم كتاب الايمان بَاب بَيَانِ الْإِيمَانِ وَالْإِسْلَامِ وَالْإِحْسَانِ.

د مخلوق په هکله ئې دوی دعوه ممکنه، د کمعقله خلګو په ذهن کي د منلو وړ او خپل د عوام غولوونکي سياست لپاره ګټوره بلل؛ لکه، تر اسبابو پورته زور، په پټو پوهېدل، تاوان دفع کول، فايده رسول، برکات ورکول، د دين جوړولو اختيار (د الله د حکم بغير پر يو کار ګناه يا ثواب ټاکل)، ځيني مخلوق د الله نازولي بلل او داسي نور. د ځيني صفاتو انکار ئې د ضد په وجه کوی لکه هغه څه چي را تلونکي آيتونه ئې بيان کوي: ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱسْجُدُواْ لِلرَّحْمَٰنِ قَالُواْ وَمَا ٱلرَّحْمَٰنُ أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُورًا ۩ ﴿٦٠﴾﴾ [الفرقان: ٦٠].

ترجمه: «او چي کله دوی ته وويل: سي لوی مهربان الله ته سجده وکړئ دوی وايي: لوی مهربان څه دی؟ آيا موږ به هغه څه ته سجده کوو چي ته مو امر کوې؟ او دا ئې نفرت زيات کړي».

دلته دا ښکاري چي مشرکانو د پيغمبرﷺ سره د سختي دښمنۍ په خاطر دا ورته ويل: موږ ستا د امر په جه سجده نه کوو.

﴿وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰهَٰمَٰنُ ٱبْنِ لِي صَرْحًا لَّعَلِّيٓ أَبْلُغُ ٱلْأَسْبَٰبَ ﴿٣٦﴾ أَسْبَٰبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُۥ كَٰذِبًاۚ وَكَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ وَصُدَّ عَنِ ٱلسَّبِيلِۚ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِي تَبَابٍ ﴿٣٧﴾﴾ [المؤمن: ٣٦-٣٧].

ترجمه: «او فرعون وويل: اې هامانه! ما ته يوه ماڼۍ جوړه که چي ګوندي زه ورسېږم ولارو ته، د آسمانو لارو ته، نو د موسی ومعبود ته ور وخېژم او زه پر موسی د دروغجن ګمان کوم».

فرعون د خپل ناوړه مقصد لپاره غوښتل موسیؑ خلګو ته دروغجن وښيي، په دې موخه ئې د الله د لوړوالي انکار ښکاره کوی،

که څه هم په حقيقت کی پوهېدی چي موسیٰ﷤ روشتيا وايي: الله لوږ دی؛ ځکه قرآن وايي: ﴿قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰفِرْعَوْنُ مَثْبُورًا ﴿١٠٢﴾﴾ [الإسراء: ۱۰۲].

ترجمه: «موسی وويل: يقينا ته پوهېږي چي دغه آيتونه (نښانې) د آسمانو او ومځکي خالق پرته بل چا نه دي نازل کړي په داسي حال کي چي د پوهي خبري دي او اې فرعونه! زه فکر کوم چي ته هلاک سوی يې».

﴿وَجَحَدُواْ بِهَا وَٱسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا ۚ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿١٤﴾﴾ [النمل: ۱۴].

ترجمه: «او فرعون او ملګرو ئي د هغه نښانو (معجزاتو) څخه د ظلم او لويي په وجه انکار وکی په داسي حال کي چي زړونو ئې يقين پر کړی وو، نو وګوره د فساد کارو انجام څنګه سو؟».

د الله د نومونو او صفتونو په هکله دا عقيده ضروري ده چي د مخلوق سره هيڅ قسم ورته والی نه لري؛ الله تعالی وايي: ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ ۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴿١١﴾﴾ [الشورى: ۱۱].

ترجمه: «د الله په ډول هيڅ شی نسته او دی پوره اورېدونکی ليدونکی دی».

د الله د نومونو او صفتو پېژندل تنها د الله د پيغمبر د لاري په هغه اندازه کېدی سي چي په قرآن او سنت کي دي:کوم څه چي الله ته په قرآن او سنت کي ثابت وي؛ لکه: علم، قدرت او داسي نور د هغه نه منل ګمراهي ده؛ ځکه په دې د الله او پيغمبر خبره ردېږي او په غير مستقيم ډول د هغه څخه انکار دی.کوم څه چي قرآن او سنت

د الله د شان خلاف بللی وي؛ لکه اولاد، شريک، مخلوق ته احتياج او د مخلوق سره تشبيه (ورته والی)، والله ته د داسي شي نسبت کول ګمراهي ده.کوم څه چي په قرآن اوسنت کي د الله په هکله ثابت نه وي، و الله ته د هغه نسبت کول هم ګمراهي ده؛ څکه الله وايي:

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَلَا هُدٗى وَلَا كِتَٰبٖ مُّنِيرٖ ٨﴾ [الحج:٨].

ترجمه: «او ځيني خلک د الله په هکله جګړه (لانجه) کوي بغير د پوهي، لارښووني اوروښانوونکي کتابه».

﴿سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ١٥٩ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ١٦٠﴾ [الصافات: ۱۵۹-۱۶۰].

ترجمه: «الله د هغه څه پاک دی چي خلک ئې نسبت ورته کوي پرته د الله د مخلصو بندګانو».

﴿إِنَّمَا يَأۡمُرُكُم بِٱلسُّوٓءِ وَٱلۡفَحۡشَآءِ وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ١٦٩﴾ [البقرة:۱۶۹].

ترجمه: «يقيني خبره دا ده چي شيطان تاسو هم په بدو او بې‌حيا کارونو ګماري اوهم په دې چي پر الله هغه څه وواياست چي نه په‌پوهېږئ».

﴿قُلۡ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ ٱلۡفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا بَطَنَ وَٱلۡإِثۡمَ وَٱلۡبَغۡيَ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَأَن تُشۡرِكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ سُلۡطَٰنٗا وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٣٣﴾ [الأعراف:۳۳].

ترجمه: «ووايه: زما رب خو حرام کړي دي ښکاره او پټي بدکارياني، ګناه، ناحقه بغاوت (ظلم)، د ا چي د الله سره هغه څه شريک کړئ چي د

هغه په هکله ئې هيڅ دليل نه وي نازل کړی او دا (ئې حرام کړي) چې پر الله هغه څه ووایاست چې علم ئې نه لرئ (دليل ئې درسره نه وي)».

په دې خبري د پوهاوي لپاره دا هم ياد ساتل په کار دي چې د الله صفتونه که څه هم د عقل مخالف نه دي، خو د عقل تر پيمانې لوړ دي، د ليدلو څخه پټ دي، نو تر څو د پيغمبر د لاري په قرآن او سنت کي د الله د صفاتو معلومات نه وي، د الله په هکله داسي وينا بغير علمه او بې دليله وينا ده؛ ځکه بل چا ته الله د خپل دين پيغام او د بلي لاري علم نه دی ورکړی؛ په داسي ځايو کي د عقل توان او کمال دا دی چې په هغه الهي پيغام ځان سم پوه کړي چې پيغمبر امت ته رسولی دئ،

﴿وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلْعِلْمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلٌّ مِّنْ عِندِ رَبِّنَا﴾ [آل عمران: ۷].

ترجمه: «په پوهي کي کلک خلک وايي: موږ د قرآن په متشابه او محکم ايمان راوړی؛ ټول زموږ د رب د لوري دي».

## د توحید د ښه پیژندلو او ساتلو لپاره ئې د ضد پیژندل هم ضروري دي چي هغه کفر او شرک دئ:

شرک تر ټولو ګناهونو لویه ګناه ده الله وایي: ﴿إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ ١٣﴾ [لقمان: ١٣].

ترجمه: «شرک یقینا لوی ظلم دئ».

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا ٤٨﴾ [النساء: ٤٨].

ترجمه: «بې‌شکه چي الله دا نه بخښي چي د ده سره شریک ومنل سي او د دې بغیر (تر دې را ټیټ) هغه چا ته بخښي چي دی ئې وغواړي او څوک چي د الله سره شریک ونیسي نو یقینا ده لویه ګناه وتراشل».

البته که د شرک څخه توبه وایستل سي بیا بخښل کېږي، الله وایي: ﴿قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَنتَهُواْ يُغۡفَرۡ لَهُم مَّا قَدۡ سَلَفَ﴾ [الأنفال: ٣٨].

ترجمه: «کافرانو ته ووایه: که دوی منع سي (د خپل ګمراهي څخه لاس واخلي) دوی ته هغه څه بخښل کېږي چي مخ کي تېر سوي».

د الله د یووالي عقیده هر مسلمان ته منلې عقیده ده، هیڅ د اسلام دعوی کوونکی نه دا وایي چي توحید بد دئ، نه دا وایي چي شرک ښه دئ، بلکي د اسلام هر دعوه کوونکی شرک بد بولي او هغه زاړه مشرکین ډېر ناکاره بولي چي د پیغمبر ﷺ پر ضد را ولاړ سوي وه او دا هم مني چي شرک د توبې بغیر نه بخښل کېږي. خو پوښتنه دا ده چي دا شرک څه شی دئ چي دوني بد دئ؟

د دې پوښتنې د جواب موندلو لپاره قرآن اوسنت کتل په کار دي، هلته دا په ښکاره ډول بيان سوي چې د پيغمبرانو سره په دښمنۍ اخته مشرکانو دا منل چې د آسمانونو، مځکې او هر څه خالق او پيدا کوونکی الله دی، په دې کې هيڅ اختلاف د پيغمبرانو سره نه دی ياد سوی، بلکې د دې اقرار هغو بار بار کوی، د الله په نامه بې قسم کوی، د داسې قسم مخالفت او پکښې حانث کېدل ئې ځان ته خطر ناک بلی، هغه خلګو به هم په خپل مينځ کې د الله په نامه قسمونه سره کول چې د پيغامبر د ژولو قصد او بند بست بې کوی په دې خاطر چې که څوک د پيغامبر په وژلو کې ګډون ونکړي نو په هغه به د قسم ازار پسې وي؛ قرآن وايي: ﴿قَالُواْ تَقَاسَمُواْ بِٱللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُۥ وَأَهۡلَهُۥ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِۦ مَا شَهِدۡنَا مَهۡلِكَ أَهۡلِهِۦ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٤٩﴾﴾ [النمل:۴۹].

ترجمه: «دوی وويل: په الله قسم سره وکړئ چې خامخا پر دا پيغمبر او د هغه پر کورنۍ د شپې حمله کوو، بيا به د هغه وارث ته وايو: موږ د ده د کورنۍ هلاکولو ته نه يو حاضر سوي او يقينا موږ خامخا روشتيني يو».

د دوی مطلب دا وو چې زموږ دا خبره روشتيا ده چې موږ د هغه د کورنۍ هلاکولو ته نه يو حاضر سوي؛ ځکه موږ خو د پيغمبر د وژلو لپاره حاضر سوي يو، د هغه وژل زموږ اصلي مقصد دی، د دا نور وژل خو د هغه د وژلو لپاره يوه سياسي وسيله يا مذهبي حيله ده، نو موږ چې په خپل قسم کې ووايو: موږ د پيغمبر د کورنۍ هلاکولو ته نه يو حاضر سوي، په دې کې نه حانث کيږو (ګناهکار نه يو)؛ ځکه شرعي حيله (د شريعت په نامه چل) عملي کول خو څه بد کار نه دی. پخواني کافرانو همداسې کول لکه اوسني کافران چې

خپل مشرانو ته قسم ورکوي چې دی به همداسې کفر ته وفادار، دپیغامبر دښمن او الله ته غدار وي. د هغو مشرکانو شرک دا وو چې د الله حق (عبادت) ئې تر یوه او بل نامه لاندې مخلوق ته هم ورکوی او د الله په ځینې صفاتو کې مخلوق ورسره شریک او حصه داران بلل؛ لکه: تر اسبابو پورته زور، په پټو پوهېدل، تاوان دفع کول، فایده رسول، برکات ورکول، د دین جوړولو اختیار (د الله د حکم بغیر پر یو کار ګناه یا ثواب ټاکل)، ځینې مخلوق د الله نازولي بلل او داسې نور؛ قرآن د مشرکانو په هکله وایي: ﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ ۝٩﴾ [الزخرف: ۹].

ترجمه: «که د دوی څخه پوښتنه وکړې چې آسمانونه او مځکه چا پیدا کړي، خامخا به دوی وایي: دا هغه زورور پوره پوه (الله) پیدا کړي دي».

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ۝٨٧﴾ [الزخرف: ۸۷].

ترجمه: «اوکه د دوی څخه پوښتنه وکړې چې دوی چا پیدا کړي، خامخا به وایي: الله (پیدا کړي یو)، نو څرنګه اړول کېږي».

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ۝٦١ ٱللَّهُ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ لَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ۝٦٢ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ مِنۢ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۚ قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ۝٦٣﴾ [العنکبوت: ۶۱-۶۳].

ترجمه: «که د دوی څخه پوښتنه وکړې چې آسمانونه او مځکه چا پیدا کړي، لمر او سپوږمۍ چا تابعدار کړي، خامخا به دوی وایي: الله

(داسي کړي)، نو څرنګه اړول کېږي، الله چي د خپلو بندګانو چا ته وغواړي روزي ورته پراخوي او ورته لږوي ئې، بې شکه الله په هر شي پوره پوه دی او که د دوی څخه پوښتنه وکړې چي د آسمانه چا اوبه را کښته کړي چي مځکه ئې د مړیني وروسته په را ژوندۍ کړې، خامخا به دوی وایي: الله (دا کارونه کړي)، ووایه: ټول الهي صفتونه الله ته خاص دي، بلکي ډېری د دوی عقل نه کاروي».

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۚ قُلْ أَفَرَءَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ إِنْ أَرَادَنِيَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كَٰشِفَٰتُ ضُرِّهِۦٓ أَوْ أَرَادَنِي بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكَٰتُ رَحْمَتِهِۦ ۚ قُلْ حَسْبِيَ ٱللَّهُ ۖ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ﴿٣٨﴾﴾ [الزمر: ٣٨].

ترجمه: «که د دوی څخه پوښتنه وکړې چي آسمانونه او مځکه چا پیدا کړې؟ خامخا به دوی وایي: الله (پیداکړي) ووایه: خبر راکړئ د هغه څه په هکله چي د الله بغیر ئې تاسو را ننګوئ، که الله ما ته د ضرر اراده وکړي آیا دوی (ستاسو ښځینه معبوداني) د الله د فیصله کړي ضرر دفع کوونکي دي؟ یا که الله د رحمت اراده ما ته وکړي آیا دوی د الله د رحمت بندونکي دي؟ ووایه: الله مي بس دی، ځان سپارونکي دي پر هغه ځان وسپاري».

﴿قُل لِّمَنِ ٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٤﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٨٥﴾ قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبْعِ وَرَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٨٦﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٨٧﴾ قُلْ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٨﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ ﴿٨٩﴾﴾ [المؤمنون: ٨٤-٨٩].

ترجمه: «ووایه: مځکه او هغه څوک د چا دي چي پکښې دي که پوهېږئ؟ دوی به وایي: (دا) د الله دي. ووایه: نو آیا نصیحت نه قبلوئ؟ ووایه: د اوو آسمانونو او د لوی عرش څښتن څوک دی؟ دوی به وایي: (دا) د الله دي. ووایه: آیا نو ځان نه ساتئ (د شرک څخه پرهېز نه کوئ، د الله څخه نه بېرېږئ)؟ ووایه: څوک دی چي په لاس کي ئې د هر شي پادشاهي ده او دی پناه ورکوي او د ده پر ضد پناه نه ورکول کېږي، که پوهېږئ؟ دوی به وایي: (دا) د الله په اختیار کي دي. ووایه: نو څرنګه جادو درباندي کېږي (د جادو په شان مو سترګي بندېږي)؟».

﴿قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَـٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣١﴾ فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ ٱلْحَقُّ ۖ فَمَاذَا بَعْدَ ٱلْحَقِّ إِلَّا ٱلضَّلَـٰلُ ۖ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ﴿٣٢﴾﴾ [یونس: ۳۱-۳۲].

ترجمه: «ووایه: څوک د آسمانه او مځکي روزي درکوي او که څوک اورېدل او لېدل په اختیار کي لري (د دې طاقت ورکولو والا څوک دی)؟ څوک ژوندی د مړه څخه را باسي او مړ د ژوندي څخه را باسي؟ اوڅوک د هر کار انتظام چلوي؟ نو به دوی وایي: الله (دا ټولو کارونه کوي)، نو ووایه: آیا نو تاسو تقوا نه کوی (دشرک څخه ځان نه ساتئ، د الله څخه نه بېرېږي)؟ نو همدا مو حق رب دی، نو د حق وروسته د ګمراهي پرته بل څه دي؟ نو څنګه اړول کېږي (د دې حقیقته څنګه مخ اړوی)؟».

د مشرکینو خبره د یوه خالق تر منلو پورته دا لا هم وه چي په سختیو کې تنها الله ننګوی او په خالصه توګه ئې تنها د الله څخه مرسته غوښتل، خو د مشکل څخه د خلاصېدلو وروسته ئې د الله سره نور شریکول؛ الله وایي: ﴿فَإِذَا رَكِبُوا۟ فِى ٱلْفُلْكِ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ

ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ ۝٦٥ لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ وَلِيَتَمَتَّعُواْۚ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ۝٦٦﴾ [العنكبوت: ۶۵-۶۶].

ترجمه: «چي کله دوی په کښتۍ کي سپاره سي د الله څخه حاجتونه غواړي په داسي حال کي چي دين ئې ورته خالص کړی وي، نو کله چي الله دوی ته نجات ورکي وچ لوري ته، نا څاپه دوی شرک کوي د دې لپاره چي ناشکري وکړي د هغه څه چي ما ورکړي (د الله احسانات بل چا ته نسبت کړي) او د دې لپاره چي څه فايدې واخلي، نو دوی به پوه سي (سزا به ويني)».

دا آيتونه ښئي چي ابوجهل او د هغه ملګرو مشرکانو د سختيو په وخت کي يوازي الله ته ناري وهلې، دا سې نه ويل چي يا د څلور کونجه وليانو! يا د خدای دوستانو! يا خدا وپيرانو را ورسېږئ، بلکي تنها يا الله ئې ويل، خو چي کله به د مشکل څخه ووتل د الله ناشکرې به ئې شروع کړه، د الله په احساناتو به ئې د بل چا نوم لوړوی، هلته به دوی هم هغه ته ورته څه ويل چي اوس ويل کېږي (دا غرقه کښتۍ راغله زموږ د لوی پير په ناره) د دې لپاره چي څه دنيوي فايدې ترلاسه کړي، د ساده عوامو څخه کوم څه پرې کړي.

﴿هُوَ ٱلَّذِي يُسَيِّرُكُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ وَجَرَيۡنَ بِهِم بِرِيحٖ طَيِّبَةٖ وَفَرِحُواْ بِهَا جَآءَتۡهَا رِيحٌ عَاصِفٞ وَجَآءَهُمُ ٱلۡمَوۡجُ مِن كُلِّ مَكَانٖ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ أُحِيطَ بِهِمۡ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ لَئِنۡ أَنجَيۡتَنَا مِنۡ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ۝٢٢ فَلَمَّآ أَنجَىٰهُمۡ إِذَا هُمۡ يَبۡغُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۗ﴾ [يونس: ۲۲-۲۳].

ترجمه: «الله هغه څوک دی چي په وچه او دریاب کي مو روانوي آن تر دې چي کله په کښتيو کي سئ او هغه کښتياني دوی په نرم باد روان

کړي او دوی په خوشحاله سي کښتيانو ته تېز باد راسي او د هره ځايه څپې ورته راسي او دوی ګمان وکړي چي را ګير سوه (په هلاکت کي واقع سوه) دوی د الله څخه حاجتونه وغواړي په داسي حال کي چي دين ئې ورته خالص کړی وي (وايي) که دي د دې مشکلاتو څخه نجات راکړ خامخا به د احسان منونکو څخه کېږو، نو چي کله الله دوی ته نجات ورکړي ناڅاپه دوی په مځکه کي ناحقه سرکښي کوي»[1].

د مشرکانو اصلي لانجه او شخړه په دې کي وه چي دوی د عباداتو ځيني قسمونو د الله پرته بل چا ته منل په ډول ډول نومونو او پلمو، په دې اړه قرآن کريم وايي: ﴿إِنَّهُمْ كَانُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٣٥﴾ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓاْ ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍۭ ﴿٣٦﴾﴾ [الصافات: ٣٥-٣٦].

ترجمه: «يقينا چي دوی ته به کله وويل سوه: د الله پرته بل د بندګۍ حقدار نسته، دوی لويي کول (دا حق خبري ته ئې غاړه نه ايښودل) او ويل ئې: آيا موږ خپل معبودان د لېوني شاعر په وجه پرېږدو؟».

مشرکانو د اعتراض په توګه ويل: ﴿أَجَعَلَ ٱلْءَالِهَةَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عُجَابٌ ﴿٥﴾﴾ [ص: ٥].

ترجمه: «آيا ده ټول معبودان يو معبود ګرځولی (د ټولو معبودانو کارونه او برخي ئې يوه ته منلي)؟ يقينا چي دا ډېر حيرانوونکی شی دی؟».

---

١- په دې اړه که محترم لوستونکي نور تفصيل غواړي را تلونکي ځايونه کتلای سي: سورة لقمان: ٣٢، سورة النحل: ٥٣ ـ ٥٥، سورة الإسراء: ٦٦ـ ٦٩.

د خپل شرک په دفاع کې ئې ويل: ﴿مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ﴾ [الزمر: ۳].

ترجمه: «موږ د دغو (معبودانو) بندګي د بل څه لپاره نه کوو سوا د دې چې موږ الله ته ډېر نژدې کړي. (موږ خو دا کار په ښه نيت کوو، په دې موږ د الله سره کومه دښمني نه غواړو)».

﴿وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِۚ قُلۡ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ١٨﴾ [يونس: ۱۸].

ترجمه: «او مشرکان د الله پر ته د هغه څه بندګي کوي چې نه ضرر ور رسوي نه فايده ور رسوي، وايي: دا د الله په حضور کې زموږ شفاعت کوونکي دي، ورته ووايه: آيا تاسو الله ته د داسې څه خبر ورکوئ چې هغه ته نه په آسمانو کې معلومېږي نه په مځکه کې؟ الله پاک او لوړ دی د هغه څه چې دوی ئې ورسره شريکوي».

﴿وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةٗ لَّعَلَّهُمۡ يُنصَرُونَ ٧٤ لَا يَسۡتَطِيعُونَ نَصۡرَهُمۡ وَهُمۡ لَهُمۡ جُندٞ مُّحۡضَرُونَ ٧٥﴾ [يس: ۷۴-۷۵].

ترجمه: «او مشرکانو د الله پرته نور معبودان (مرستندويان) اختيار کړي چې ګوندي د دوی سره مرسته وسي. هغوی د دوی مرسته نه سي کولای او (بر عکس) دوی د هغوی لپاره حاضر سوی لښکر دئ (د تيارسئ په حالت کې ئې و خدمت ته ولاړ دي)».

﴿وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةٗ لِّيَكُونُواْ لَهُمۡ عِزّٗا ٨١ كَلَّاۚ سَيَكۡفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمۡ وَيَكُونُونَ عَلَيۡهِمۡ ضِدًّا ٨٢﴾ [مريم: ۸۱-۸۲].

ترجمه: «او دوی د الله بغير معبودان د دې لپاره نيولي چي دوی ته عزت سي. هيځکله داسي نه ده، هغوی به د دوی د عبادته منکر کيږي او د دوی پرخلاف دښمنان به جوړيږي»[١].

﴿وَإِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي ٱلْقُرْءَانِ وَحْدَهُۥ وَلَّوْاْ عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِمْ نُفُورًا ۝٤٦﴾ [الإسراء: ۴۶].

ترجمه: «چي کله په قرآن کي خپل رب يوازي ياد کړې (تنها دی د هرڅه: فايدې او زيان اختيارمن وبولې) مشرکان پرخپلو شاګانو واوړي په داسي حال کي چي نفرت کوونکي وي».

﴿وَإِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَحْدَهُ ٱشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ ۖ وَإِذَا ذُكِرَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦٓ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ۝٤٥﴾ [الزمر: ۴۵].

ترجمه: «چي کله الله يوازي ياد سي د هغو خلکو زړونه نفرت وکړي چي په آخرت ايمان نه لري او چي کله هغه خلک ياد سي چي د الله بغير نور دي، نا څاپه دوی خوشحاله کيږي».

فايده: په آخرت ايمان د هغه عقيدې نوم دی چي د الله د قانون سره برابره وي، يهودو الله او آخرت ته عقيده درلوده خو په غلط تصور؛ نو الله د هغو دا په غلط تصور د آخرت منل په سورة توبې (29) کي بې ايماني بللې، قرآن کريم وايي: ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ يُدْعَوْنَ إِلَىٰ كِتَٰبِ ٱللَّهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ

---

١- د مشرکانو او معبودانو په خپل مينځي دښمنۍ د پوهېدلو لپاره وګوره: سورة يونس: ۲۸- 29 نمبر آيتونه چي په همدې کتاب کي ترجمه سوي هم دي. دا رنګه د سورة سبأ ۳۱ - ۳۳ نمبر آيتونه هم په دې اړه وضاحت کوي.

مِّنۡهُمۡ وَهُم مُّعۡرِضُونَ ۝٢٣ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامٗا مَّعۡدُودَٰتٖۖ وَغَرَّهُمۡ فِي دِينِهِم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ۝٢٤﴾ [آل عمران: ۲۳-۲۴].

ترجمه: «آیا هغه خلکو ته نه ګورې چې برخه د کتاب ورکړه سوې د الله کتاب ته دوی د دې لپاره بلل کېږي چې د دوی ترمینځ فیصله وکړي، بیا هم د دوی یوه ډله پر شا ګرځي په داسي حال کي چې دوی مخ اړوونکي دي؛ دا په دې وجه چې دوی ویلي موږ ته اور نه رسي د څو شمېرلو ورځو پرته او دوی په خپل دین کي هغه څه تېر ایستلي چې د ځانه ئې جوړول».

﴿وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ ٱلۡجِنَّ وَخَلَقَهُمۡۖ وَخَرَقُواْ لَهُۥ بَنِينَ وَبَنَٰتِۭ بِغَيۡرِ عِلۡمٖۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ ۝١٠٠ بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُۥ وَلَدٞ وَلَمۡ تَكُن لَّهُۥ صَٰحِبَةٞۖ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ۝١٠١﴾ [الأنعام: ۱۰۰-۱۰۱].

ترجمه: «او مشرکانو پیریان د الله شریکان جوړکړي او حال دا چې الله دوی پیدا کړي دي او دوی الله ته زامن او لوڼې د ځانه جوړ کړي، بغیر د کوم علمي دلیله، الله پاک او لوړ دی د هغه څه چې دوی ئې نسبت ورته کوي، د آسمانو او مځکي نوی پیداکوونکی دی، ده ته به څنګه اولاد وي په داسي حال کي چې د ده ښځه نسته او هرڅه ده پیدا کړي او دی په هرشي ښه خبر دی».

﴿وَجَعَلُواْ لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ ٱلۡحَرۡثِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ نَصِيبٗا فَقَالُواْ هَٰذَا لِلَّهِ بِزَعۡمِهِمۡ وَهَٰذَا لِشُرَكَآئِنَاۖ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمۡ فَلَا يَصِلُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَآئِهِمۡۗ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ۝١٣٦ وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٖ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ قَتۡلَ أَوۡلَٰدِهِمۡ شُرَكَآؤُهُمۡ لِيُرۡدُوهُمۡ وَلِيَلۡبِسُواْ عَلَيۡهِمۡ دِينَهُمۡۖ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا فَعَلُوهُۖ

فَذَرۡهُمۡ وَمَا يَفۡتَرُونَ ١٣٧ وَقَالُواْ هَٰذِهِۦٓ أَنۡعَٰمٞ وَحَرۡثٌ حِجۡرٞ لَّا يَطۡعَمُهَآ إِلَّا مَن نَّشَآءُ بِزَعۡمِهِمۡ وَأَنۡعَٰمٌ حُرِّمَتۡ ظُهُورُهَا وَأَنۡعَٰمٞ لَّا يَذۡكُرُونَ ٱسۡمَ ٱللَّهِ عَلَيۡهَا ٱفۡتِرَآءً عَلَيۡهِۚ سَيَجۡزِيهِم بِمَا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ١٣٨ وَقَالُواْ مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ ٱلۡأَنۡعَٰمِ خَالِصَةٞ لِّذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِنَاۖ وَإِن يَكُن مَّيۡتَةٗ فَهُمۡ فِيهِ شُرَكَآءُۚ سَيَجۡزِيهِمۡ وَصۡفَهُمۡۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٞ ١٣٩ قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ قَتَلُوٓاْ أَوۡلَٰدَهُمۡ سَفَهَۢا بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَحَرَّمُواْ مَا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ ٱفۡتِرَآءً عَلَى ٱللَّهِۚ قَدۡ ضَلُّواْ وَمَا كَانُواْ مُهۡتَدِينَ ١٤٠﴾ [الأنعام: ۱۳۶-۱۴۰].

ترجمه: «او مشرکانوالله ته د هغه کښتونو او څارویو څخه چې الله پیدا کړي تنها یوه برخه ګرځولې، نو وايي: دا دالله دي د دوی په ګمان او دا زموږ د حصه دارانو دي، نو کوم څه چې د دوی د حصه دارانو وي، هغه الله ته نه رسېږي، او کوم څه چې د الله وي هغه د دوی حصه دارانو ته رسېږي[1]، دا د دوی ډېر بده فیصله ده. همدارنګه ډېرو مشرکینو ته د خپلو اولادو وژل، د دوی شریعت جوړوونکو ښایسته کړي د دې لپاره چې دوی هلاک کړي او د دوی دین ورباندي ګډوډ کړي او که الله غوښتای دوی به داسي نه وای کړي او دوی او خپل د ځانه جوړ کړي دورواغ ئې سره پرېږده. او مشرکانو ویلي: دا ممنوعه څاروي او کښتونه دي هیڅوک

---

۱- د الله په نام چي دوی کوم څه کارول هغه هم دوی بیرته په خپل شرکي ډول کارول؛ پیغمبرﷺ وايي: «قَالَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنْ الشِّرْكِ مَنْ عَمِلَ عَمَلًا أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِي تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ». (صحيح مسلم كِتَاب الزُّهْدِ بَاب مَنْ أَشْرَكَ فِي عَمَلِهِ غَيْرَ اللَّهِ).

ترجمه: الله تعالی وايي: زه تر ټولو شریکانو د شرک څخه بې حاجته یم؛ څوک چي داسي یو کار وکړي چي زما سره بل څوک پکښې شریک کړي، دی او شرک ئې پرېږدم.

بې نه خوري مګر هغه څوک چې موږ غواړو په خپل ګمان او څه بیا داسي څاروي دي چې د هغو شاګانی منع کړه سوي (د بار او سواري څخه) او څه بیا داسي څاروي دي چې د الله نوم نه پریادوي، د ځانه جوړ سوي دورواغو په توګه، الله به د دوی د ځانه جوړکړو دورواغو سزا ورکوي. او دوی وایي: هغه څه چې د دې څارویو په نسو کي دي زموږ نارینوو ته خاص دي او زموږ پر ښځو حرام دي او که بیا دغه شي خپله مړه وي نو دوی (نارینه او ښځینه) په هغې کي سره شریکان دي، الله به دوی ته دا د دوی د بیانولو سزا ورکوي، بې شکه دي پوخکاری پوره پوه دی. بې شکه هغه کسان زیانمن سوي چې خپل اولادونه ئې په ناپوهي بغیر د کوم علمي دلیله وژلي او هغه څه چې الله په روزي ورکړي دوی حرام کړي د ځانه جوړسوي دورواغو په توګه، بې شکه دوی ګمراه سوي او نه وه پرلار سم سوي».

د دغه آیتونو په رڼا کي د قرآن کریم د هغه خبري په مطلب هم پوهېدی سو چې وایي: ﴿وَمَا يُؤۡمِنُ أَكۡثَرُهُم بِٱللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشۡرِكُونَ ١٠٦﴾ [یوسف: ١٠٦]. ترجمه: «او د خلګو ډېری په الله ایمان نه راوړي مګر په داسي حال کي چې دوی مشرکان وي».

د داسي ایمان څخه مطلب همدا کېدی سي چې دوی په الله باور درلودی خو نور ئې هم ورسره شریکول.

## د اِله په معنی کي کوم شیان داخل دي:

یوسف‑عليه‌السلام خپل ملګرو ته وویل: ﴿يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ٣٩ مَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسۡمَآءٗ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٤٠﴾ [یوسف: ۳۹-۴۰].

ترجمه: «اې د بندي خانې دوو ملګرو! آیا مختلف (بېل بېل) شریعت جوړوونکي ښه دي، که یو زورور الله؟ تاسو چي د الله پرته د کوم شي بندګي کوئ هغه تش نومونه دي چي تاسو اوستاسو پلرونو نومولي دي، الله د هغو په هکله هیڅ دلیل نه دی نازل کړی، د الله پرته بل هیڅا ته حکم نسته، هغه امر کړی چي د ده پرته د بل هیڅا بندګي مه کوئ، دا سم دین دی خو ډېر خلک نه پوهېږي».

﴿وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدٗا ١٨﴾ [الجن: ۱۸].

ترجمه: «او دا چي مسجدونه د الله دي؛ نو د الله سره هیڅوک مه را ننګوئ».

﴿وَإِن يَمۡسَسۡكَ ٱللَّهُ بِضُرّٖ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ وَإِن يَمۡسَسۡكَ بِخَيۡرٖ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٧﴾ [الأنعام: ۱۷].

ترجمه: «او که الله څه ضرر د ورسوي، نو د هغه لپاره هیڅ لیري کوونکی نسته د الله پرته او که فایده در ورسوي نو دی پر هرڅه پوره واکمن دی».

﴿قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِنۡ أَخَذَ ٱللَّهُ سَمۡعَكُمۡ وَأَبۡصَٰرَكُمۡ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم مَّنۡ إِلَٰهٌ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَأۡتِيكُم بِهِۗ ٱنظُرۡ كَيۡفَ نُصَرِّفُ ٱلۡأٓيَٰتِ ثُمَّ هُمۡ يَصۡدِفُونَ ٤٦﴾ [الأنعام: ۴۶].

ترجمه: «ووايه: خبره راکړ که الله ستاسي غوږونه او سترګي در څخه واخلي او پر زړونو مو مهر ولګوي، د الله پرته بل څوک دبندګۍ حقدار (مشکل کشا) سته چي درته را واپس ئې کړي؟ وګوره: څرنګه دا آيتونه ورته اړوو، بيا هم دوی مخ اړوي».

﴿۞إِنَّ ٱللَّهَ يُمۡسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ أَن تَزُولَاۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنۡ أَمۡسَكَهُمَا مِنۡ أَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا ٤١﴾ [فاطر: ۴۱].

ترجمه: «بې‌شکه الله آسمانونه او مځکه د دې څخه را ټينګوي چي د خپل ځايه بېځايه سي او که د خپل ځايه بېځايه سي د الله وروسته ئې هيڅوک نه سي را ټينګولی؛ بې شکه دی بخښونکی صبرناک دی».

دا آيتونه په صراحت ښيي چي د الله بغير بل تر اسبابو پورته مشکل کشا او حاجت پوره کوونکی د نفع او ضرر مالک او متصرف نسته[1]. د اِله نور تفصيل د راتلونکو خبرو څخه هم معلومېږي.

---

١- په دې اړه که محترم لوستونکي نور تفصيل غواړي د سورة النمل ٦٠ — ٦٤ نمبر آيتونه کتلای سي.

## هغه څه چې توحيد (ايمان) له منځ وړي دغه راتلونکي شيان هم دي:

### – د الله په حقوقو يا صفاتو کې بل څوک ورسره شريکول:

الله تعالى وايي: ﴿وَلَا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلۡقَىٰ فِي جَهَنَّمَ مَلُومٗا مَّدۡحُورًا ٣٩﴾ [الإسراء: ٣٩].

ترجمه: «د الله سره بل هيڅ معبود (د بندګۍ حقدار) مه مقرروه، (که نه) نو په دوږخ کې به ملامت رټل سوی واچول سې».

﴿وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٦٥﴾ [الزمر: ۶۵].

ترجمه: «تا او تر تا مخ کې پېغمبرانو ته دا پېغامبر لېږل سوی: که دې شرک وکی خامخا دې عمل بربادېږي او خامخا د زيانمنو څخه کېږې».

### – په الله، په قرآن او پېغمبر ملنډې وهل يا د داسې کارو سره مرسته يا د خوښۍ سره ګډون پکښې کول:

الله د مرتدو منافقانو په هکله وايي: ﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُمۡ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلۡعَبُۚ قُلۡ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُونَ ٦٥ لَا تَعۡتَذِرُواْ قَدۡ كَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡۚ إِن نَّعۡفُ عَن طَآئِفَةٖ مِّنكُمۡ نُعَذِّبۡ طَآئِفَةَۢ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ مُجۡرِمِينَ ٦٦﴾ [التوبة:۶۵-۶۶].

ترجمه: «که د دوی څخه پوښتنه وکړې خامخا به وایي: موږ صرف دغسي یله (خوشي) ږغېدلو او لوبي مو کولې، ورته ووایه: آیا په الله او آیتونو او پیغمبر ئې تاسو ټوکي کوئ. عذرونه مه وړاندي کوئ بې شکه تاسو د خپل ایمان وروسته کافران سواست، که ستاسو یوې ډلي ته بخښنه وکړو، بلي ډلي ته په دې عذاب ورکوو په دې چي دوی مجرمان وه».

﴿وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي ٱلْكِتَٰبِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا۟ مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا۟ فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِۦٓ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْكَٰفِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا ﴿١٤٠﴾﴾ [النساء: ١٤٠].

ترجمه: «او بې شکه الله پرتاسو په دې کتاب (قرآن) کي دا نازل کړي چي کله مو واورېدل چي د الله د آیتونو څخه انکار کیږی یا ملنډی په وهل کیږی نو تر هغو مه ورسره کښېنئ چي د دې پرته په بله خبره بوخت سي، که نه نو تاسو به هم د دوی په شان کیږئ، بې شکه چي الله ټول منافقان او کافران په دوږخ کی راغونډوي».

﴿وَإِذَا رَأَيْتَ ٱلَّذِينَ يَخُوضُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا۟ فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِۦ ۚ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ ٱلشَّيْطَٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ ٱلذِّكْرَىٰ مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَّقُونَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَلَٰكِن ذِكْرَىٰ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٦٩﴾﴾ [الأنعام: ٦٨-٦٩].

ترجمه: «او چي کله هغه کسان ووینې چي زما په آیاتو کي بې ځایه ږغیږي (ملنډي په وهي) نو مخ ځيني واړوه تر څو دوی په بل خبره بخوت کیږي او که شیطان (دا خبره) درڅخه هیر کړه نو د رایادولو وروسته د دا ظالم قوم سره مه کښېنه. او د دوی د حسابه پر پرهیزګارو

خلکو هيڅ نسته، مګر يادونه (نصيحت دي کوي) د دې لپاره چي دوی (د داسي کارو) ځان وساتي».

## – د اسلام بغير بل دين خوښول يا په بلي لاري کي د ثواب هيله درلودل:

﴿إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ﴾ [آل عمران: ١٩]. ترجمه: «بې‌شکه دين د الله په نزد همدا اسلام دی».

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٨٥﴾ [آل عمران: ٨٥].

ترجمه: «اوڅوک چي غير د اسلامه بل دين وغواړي نو هرګز نه ورڅخه قبليږي او دی په آخرت کي د زيانمنو څخه دی».

## – اسلام ټوټه ټوټه کول او د بېلابېلو لارو په نامه د هغه په ځينو برخو عمل ځان ته نا روا بلل:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمۡ وَكَانُواْ شِيَعٗا لَّسۡتَ مِنۡهُمۡ فِي شَيۡءٍۚ إِنَّمَآ أَمۡرُهُمۡ إِلَى ٱللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ١٥٩﴾ [الأنعام: ١٥٩].

ترجمه: «يقينا هغه کسان چي خپل دين ئې ټوټې ټوټې کی او ډلي ډلي سوه، ته په هيڅ کي د دوی څخه نه يې، بې شکه د دوی کار الله ته (سپارل سوی) دی، بيا به ئې په هغه څه خبر کړي چي دوی ئې کوي».

﴿وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَلَا تَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٣١ مِنَ ٱلَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمۡ وَكَانُواْ شِيَعٗاۖ كُلُّ حِزۡبِۢ بِمَا لَدَيۡهِمۡ فَرِحُونَ ٣٢﴾ [الروم: ٣١-٣٢].

ترجمه: «لمونځ سم کوئ او د مشرکانو مه کيږئ، دهغه کسانو(مه کيږئ) چي خپل دين ئي ټوټې ټوټې کی او ډلي ډلي سوه، هره ډله په هغه څه خوشحاله ده چي د خپل ځان سره ئي دي».

﴿ٱتَّبِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ وَلَا تَتَّبِعُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۗ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ٣﴾ [الأعراف: ٣].

ترجمه: «د هغه څه تابعداري کوئ چي ستاسي د رب د خوا درته نازل سوی او د هغه بغير دوستانو تابعداري مه کوئ، لږ څه په ياد کي پاته کوئ».

د ﴿مَآ أُنزِلَ﴾ تفسير په کتاب اوسنت خپله قرآن کړی؛ الله تعالی وايي:

﴿وَمَآ أَنزَلَ عَلَيۡكُم مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡحِكۡمَةِ يَعِظُكُم بِهِۦۚ﴾ [البقرة: ٢٣١].

ترجمه: «او کوم څه چي د قرآن او سنت څخه الله پر تاسو نازل کړی، په هغه نصيحت درته کوي».

﴿وَأَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ﴾ [النساء: ١١٣]. ترجمه: «او الله پر تا کتاب اوسنت نازل کړی».

﴿وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِي مُسۡتَقِيمٗا فَٱتَّبِعُوهُۖ وَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمۡ عَن سَبِيلِهِۦۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٥٣﴾ [الأنعام: ١٥٣].

ترجمه: «او دا زما سمه لاره ده، نو د همدې لاري تابعداري کوئ، د دا (نورو) لارو تابعداري مه کوئ؛ بيا به مو د الله د لاري بېل (جدا) کړي، دا حکم الله په ټينګار درته ياد کړی چي ګوندي تاسو ځان وساتئ».

**– د دين او شريعت جوړولو حق د الله پرته بل چا ته ورکول په دې ډول چي څوک دا عقيده ولري چي د الله دحکم پرته بل څوک هم پر څه شي د ګناه يا ثواب ټاکلو حق لري:**

الله وايي:

﴿أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُ﴾ [الشورى: ٢١].

ترجمه: «آيا دوی ته داسي شريکان سته چي په دين کي ئې هغه څه شريعت ورته مقرر کړی وي چي الله ئې اجازه نه وي کړې؟».

﴿وَلَا تَأۡكُلُواْ مِمَّا لَمۡ يُذۡكَرِ ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ وَإِنَّهُۥ لَفِسۡقٞۗ وَإِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰٓ أَوۡلِيَآئِهِمۡ لِيُجَٰدِلُوكُمۡۖ وَإِنۡ أَطَعۡتُمُوهُمۡ إِنَّكُمۡ لَمُشۡرِكُونَ ١٢١﴾ [الأنعام: ١٢١].

ترجمه: «د هغه څه خوراک مه کوئ چي د الله نوم نه وي وربانديي ياد سوی او يقينا دا د الله بې امري ده او يقينا شيطانان خپلو دوستانو ته پټې خبري ښيي د دې لپاره چي ستاسو پر ضد جګړې وکي او که تاسو د دوی خبره ومنل (فرمانبرداري مو وکړه) يقينا تاسو خامخا مشرکان ياست».

﴿وَقَالُواْ رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعۡنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَأَضَلُّونَا ٱلسَّبِيلَا۠ ٦٧﴾ [الأحزاب:٦٧].

ترجمه: «او دوږخيان وايي: اې زموږ ربه! يقينا موږ د خپلو سيدانو او لويانو (ديني بزرګانو اوزورواکانو) خبره ومنل، نو هغو موږ د دا سمي لاري بې لاري (ګمراه) کړو».

د يهوديانو او نصرانيانو په هکله وايي: ﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٣١﴾ [التوبة: ٣١].

ترجمه: «دوی خپل ملايان او پيران د شريعت اختيارمندان جوړ کړي بغير د الله او دا رنګه عيسی د مريمي زوی هم، په داسي حال کي چي دوی نه دي امر سوي مګر په دې چي د بندګۍ د يوه حقدار عبادت وکړي، دهغه پرته بل هيڅ حقدار د بندګۍ نسته، دی د هغه څه پاک دی چي دوی ئې ورسره شريکوي».

دا چي څرنګه ارباب (د حلال او حرام جوړولو اختيار مندان) ئې ګرځولي ول ؟ د راتلونکو آيتونو معلومېږي:

﴿وَمِنۡهُمۡ أُمِّيُّونَ لَا يَعۡلَمُونَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّآ أَمَانِيَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَظُنُّونَ ٧٨ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ يَكۡتُبُونَ ٱلۡكِتَٰبَ بِأَيۡدِيهِمۡ ثُمَّ يَقُولُونَ هَٰذَا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ لِيَشۡتَرُواْ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلٗاۖ فَوَيۡلٞ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتۡ أَيۡدِيهِمۡ وَوَيۡلٞ لَّهُم مِّمَّا يَكۡسِبُونَ ٧٩﴾ [البقرة: ۷۸-۷۹].

ترجمه: «او ځيني د دوی اميان (نالوستي) دي، د څه ارزوګانو پرته نور په کتاب نه پوهېږي او د ګمان پرته بل څه نه کوي، نو هغه خلګو ته دي تباهي وي چي کتاب په خپلو لاسو ليکي بيا وايي: دا د الله د لوري دی، ترڅو لږ بيه په دې تر لاسه کړي، دوی ته دي تباهي وي د هغه څه په وجه چي دوی ئې ليکي او دوی ته دي تباهي وي د هغه څه په وجه چي دوی ئې تر لاسه کوي».

﴿وَإِنَّ مِنۡهُمۡ لَفَرِيقٗا يَلۡوُۥنَ أَلۡسِنَتَهُم بِٱلۡكِتَٰبِ لِتَحۡسَبُوهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ٧٨﴾ [آل عمران: ۷۸].

ترجمه: «او يقيناً د اهل کتابو ځيني داسي ډله ده چي پر کتاب ژبه تاووي (معنا ئې اړوي) د دې لپاره چي ګمان پر وکړئ چي دا (حکم) د کتاب څخه دی او حال دا چي هغه د کتاب څخه نه دی، دوی وايي: دا د

الله د لوري دی او حال دا چي هغه د الله د لوری نه دی او دوی پر الله دروغ وايي په داسي حال کي چي پوهېږي».

﴿وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٤٤﴾ [المائدة: ۴۴].

ترجمه: «او چا چی د الله په نازل سوي دين حکم نه وکی نو هغوی کافران دي».

﴿وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٤٥﴾ [المائدة: ۴۵].

ترجمه: «او چا چی دالله په نازل سوي دين فيصله نه وکړه، نو هغوی ظالمان دي».

﴿وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٤٧﴾ [المائدة: ۴۷].

ترجمه: «او څوک چی د الله په نازل سوی دين حکم ونکړي، نو هغوی فاسقان دي».

د درې ډوله تعبيرونو په هکله ويل کيږي چي: حکم به يا په اعتقادي مسايلو پوري مربوط وي، يا په حقوقي او يا په اخلاقي مسايلو پوري، که څوک په اعتقادي مسايلو کي په ما انزل الله حکم ونکړي، کافر کيږي، پر حقيقت به پرده اچوي او دهغه خلاف به حکم کوي، که په حقوقي قضاياوو کي په ما انزل الله حکم ونکړي، خامخا به ظلم وکړي او د چا حق به تلف کړي او که په اخلاقي مسايلو کي په ما انزل الله حکم ونکړي خامخا به اخلاقي حدود تر پښو لاندي کړي او فاسق به سي.

خودې ته په پام چي کفر د ظلم او فسق يوه غټه برخه ده او د هغو د اقسامو يو لوی قِسم دی؛ نو ټوله سره جمع کيدی سي او داسي ويل سم دي چي يو څوک هم کافر وي، هم ظالم او هم فاسق؛ ځکه د قرآن په ژبه کي کفر، شرک او په قصدي ډول پرالله دروغ

جوړول لوی ظلم دی؛ الله تعالی وايي: ﴿وَٱلۡكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ۝٢٥٤﴾ [البقرة: ۲۵۴]. ترجمه: «او کافران ظالمان دي».

﴿إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ ۝١٣﴾ [لقمان: ۱۳]. ترجمه: «يقينا شرک لوی ظلم دی».

﴿وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ يُعۡرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمۡ وَيَقُولُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَىٰ رَبِّهِمۡۚ أَلَا لَعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ۝١٨﴾ [هود: ۱۸].

ترجمه: «ترهغه چا څوک غټ ظالم دی چي پر الله د ځانه دروغ جوړي؟ دا خلک خپل رب ته وړاندي کيږي او ګواهان به وايي: دا هغه کسان دي چي پرخپل رب ئې دروغ ويلي، خبر سئ پر دا ظالمانو دي دالله لعنت وي».

دا رنګه د قرآن په ژبه کي فسق بې امرۍ ته ويل کيږي چي عام لفظ دی او کفر هم د هغه د معنی يوه برخه ده؛ الله د ابليس په هکله وايي: ﴿كَانَ مِنَ ٱلۡجِنِّ فَفَسَقَ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِۦٓۗ﴾ [الکهف: ۵۰]. ترجمه: «ابليس د پيريانو څخه وو، نو د خپل رب د حکم څخه ووتی».

﴿وَلَقَدۡ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ءَايَٰتِۢ بَيِّنَٰتٖۖ وَمَا يَكۡفُرُ بِهَآ إِلَّا ٱلۡفَٰسِقُونَ ۝٩٩﴾ [البقرة: ۹۹].

ترجمه: «او بېشکه چي تاته مي ښکاره معجزې نازل کړي او د فاسقانو پرته بل څوک انکار نه ورڅخه کوي».

﴿وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ۝٥٥﴾ [النور: ۵۵].

ترجمه: «او څوک چي د دې وروسته کفر وکړي نو همدا خلک بې امري کوونکي دي. چا چي ويلي: دا ټول آيتونه د کافرانو په هکله نازل

سوي، د هغه مطلب هم دې بيان ته ورته کېدی سي، داسي مطلب ورڅخه اخيستل سم نه دی چي دا ټول آيتونه په کافرانو پسې خاص دي؛ ځکه بيا خو ئې معنی داسي کيږي: هغه کافران چي د الله په نازل سوي دين په فيصله ونکړي داسي کافران خلک کافران دي».

بله خبره دا هم ده چي د دې آيتونو په مينځ کي ډېره برخه حکمونه خو ټول خلک مني چي عام دي؛ لکه دا چي وايی: ﴿وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفْسَ بِٱلنَّفْسِ﴾ [المائدة: ٤٥].

ترجمه: «په تورات کي مي پردوی دا ليکلي وه چي نفس د نفس په مقابل کي قصاص کيږي».

نو دا درې جملې بيا چا او په کوم دليل ورڅخه وايستلې او يوازې په کافرانو پسې خاص کړې؟[1].

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّـٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓاْ أَن يَكْفُرُواْ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَـٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَـٰلًۢا بَعِيدًا ۝٦٠﴾ [النساء: ٦٠].

ترجمه: «آيا هغه کسان دي نه دي ليدلي چی دا دعوه کوی چي دوی هم په هغه څه ايمان لري چا تا ته نازل سوی او هم په هغه څه ايمان لری ستا د مخه نازل سوی، د دې سره غواړی چي طاغوت (د الله څخه

---

١- د نور تفصيل غوښتونکي کتلای سي: صحيح البخاري كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة بَاب مَا جَاءَ فِي اجْتِهَادِ الْقُضَاةِ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى لِقَوْلِهِ ﴿وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ۝٤٥﴾ وَمَدَحَ النَّبِيُّ ﷺ صَاحِبَ الْحِكْمَةِ حِينَ يَقْضِي بِهَا وَيُعَلِّمُهَا لَا يَتَكَلَّفُ مِنْ قِبَلِهِ وَمُشَاوَرَةِ الْخُلَفَاءِ وَسُؤَالِهِمْ أَهْلَ الْعِلْمِ. صحيح البخاري كتاب الأحكام باب متى يستوجب الرجل القضاء.

سرکښي کوونکي) ته فيصله يوسی، حال دا چی امر ورته سوی چي د هغه څخه به انکار کوي اوشيطان غواړي چي تاسي دلاري څخه ډېر ليري واړوي».

﴿وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِۦٓ أَحَدًا ۝٢٦﴾ [الكهف: ٢۶]. ترجمه: «الله په خپل حکم کي هيڅوک نه شريکوي».

﴿أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ﴾ [الأعراف: ۵۴].

ترجمه: «خبرسئ پيدا کول او فيصله د الله په اختيار کي ده».

دا آيت ښي چي څرنګه هر شی الله پيدا کړی داسي د هغه په هکله فيصله کول د ده حق دی، دا خبره سمه نه ده چي د الله په نازل سوي دين د فيصلې لپاره څوک د ځانه خاص الفاظ يا ځانګړي توري شرط کړي، بلکي د الله حکم چي څنګه وي هغه بس دی، که عام وي که خاص، د بېلګي په توګه: قرآن وايي: ﴿وَٱلصُّلْحُ خَيْرٌ﴾ [النساء: ١٢٨]. ترجمه: «او سوله ډېره ښه ده».

نو هغه ډول روغه او سوله چي قرآن ئې ښيي د الله د دين خلاف کار نه دی، خو په داسي ځايو کي د الله د نازل سوي دين په نامه هغه څه تېرول چي د الله د حکم خلاف وي، لوی جرم دی.

- د کفر د پر مخ تګ لپاره کار کول، د کفر مرسته، د اسلام پر ضد هڅه کول په هغه ډول چي قرآن ئې رد کړی او ويلې دي: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱرْتَدُّواْ عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلْهُدَى ٱلشَّيْطَٰنُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَىٰ لَهُمْ ۝٢٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُواْ لِلَّذِينَ كَرِهُواْ مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ ٱلْأَمْرِ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ ۝٢٦﴾ [محمد: ٢۵-٢۶].

ترجمه: «بې‌شکه هغه کسان چې پر خپلو شاګانو تر شاګرځېدلي (مرتد سوي) وروسته تر هغه چې هدايت ښه ورته ښکاره سوی شيطان دوی ته ښياسته کړي، او مهلت اوږد اميد ئې ورکړي؛ دا په دې وجه چې دوی هغو خلګو ته ويلي چې د الله نازل سوی دين ئې بد ګڼي: موږ به په ځيني کار کي ستاسو حکم ومنو او الله د دوی په پټو ښه پوهېږي».

﴿وَإِنَّ ٱلشَّيَـٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰٓ أَوۡلِيَآئِهِمۡ لِيُجَـٰدِلُوكُمۡۖ وَإِنۡ أَطَعۡتُمُوهُمۡ إِنَّكُمۡ لَمُشۡرِكُونَ ١٢١﴾ [الأنعام: ١٢١].

ترجمه: «او يقينا شيطانان خپلو دوستانو ته پټې خبري ښيي د دې لپاره چې ستاسو پر ضد جګړې وکي او که تاسو د دوی خبره ومنل (فرمانبرداري مو وکړه) يقينا تاسو خامخا مشرکان ياست».

﴿لَّا تَجِدُ قَوۡمٗا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ يُوَآدُّونَ مَنۡ حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوۡ كَانُوٓاْ ءَابَآءَهُمۡ أَوۡ أَبۡنَآءَهُمۡ أَوۡ إِخۡوَٰنَهُمۡ أَوۡ عَشِيرَتَهُمۡۚ﴾ [المجادلة: ٢٢].

ترجمه: «داسي قوم نه سې پيداکولای چې په داسي حال کي په الله او آخرنۍ ورځ ايمان ولري چې د هغه چا سره مينه کوي چې د الله او د هغه د پيغمبر ضد حدود (قانون) جوړوي که څه هم د دوی پلرونه يا زامن يا وړونه يا خپلوان وي».

﴿۞يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلنَّصَـٰرَىٰٓ أَوۡلِيَآءَۘ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ٥١ فَتَرَى ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ يُسَٰرِعُونَ فِيهِمۡ يَقُولُونَ نَخۡشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٞۚ فَعَسَى ٱللَّهُ أَن يَأۡتِيَ بِٱلۡفَتۡحِ أَوۡ أَمۡرٖ مِّنۡ عِندِهِۦ فَيُصۡبِحُواْ عَلَىٰ مَآ أَسَرُّواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ نَٰدِمِينَ ٥٢﴾ [المائدة: ٥١-٥٢].

ترجمه: «اې مؤمنانو! یهودیان او نصرانیان دوستان مه جوړوئ، دوی په خپلو کې یو د بل دوستان دي او ستاسو څخه چې چا د دوی سره دوستي وکړه هغه د دوی د ډلې څخه دی او یقینا چې الله داسې ظالمان هیڅکله پرلار نه سموي. نو هغه کسان چې په زړو کې ئې بیماري ده ته به ئې ګورې چې د دوی په دوستۍ کې به تلوار کوي، وائي: د کومې پېښې د را رسېدو بېرېږو. نو کیدی سي چې الله د خپل لوري برې یا کوم بل څه راولي او په دې سره به دوی پر هغه خبرو پښېمانه سي چې په زړونوکې ئې پټولې».

﴿تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِى ٱلْعَذَابِ هُمْ خَٰلِدُونَ ﴿٨٠﴾ وَلَوْ كَانُوا۟ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلنَّبِىِّ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا ٱتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَآءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٨١﴾ ۞ لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱلْيَهُودَ وَٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ ۖ وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّا نَصَٰرَىٰ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٨٢﴾ وَإِذَا سَمِعُوا۟ مَآ أُنزِلَ إِلَى ٱلرَّسُولِ تَرَىٰٓ أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا۟ مِنَ ٱلْحَقِّ ۖ يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱكْتُبْنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٨٣﴾ وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَمَا جَآءَنَا مِنَ ٱلْحَقِّ وَنَطْمَعُ أَن يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٤﴾ فَأَثَٰبَهُمُ ٱللَّهُ بِمَا قَالُوا۟ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٨٥﴾﴾ [المائدة: ۸۰-۸۵].

ترجمه: «ډېر به ئې ګورې چې د کافرانو سره دوستي کوي، ډېر بد دی هغه چې د دوی نفسونو وروړاندې کړل، چې الله وربانديې په غصه سو او په عذاب کې به تلپاتې وي. که دوی په الله، پیغمبر او هغه څه ایمان درلودی چې ده ته نازل سوی، نو کافران به ئې دوستان نه وای جوړ کړي،

خو اکثر د دوی بې امري کوونکي دي.د مؤمنانو سره په دښمنۍ کی به حتما يهوديان او مشرکان تر ټولو خلګو سخت درته ثابت سي او خامخا به مؤمنانو ته په دوستۍ کي هغه کسان تر خلګو ډېر نژدې ثابت سي چي وې ويل: موږ نصارا يو، دا په دې وجه چي د دوی څيني حق غوښتونکي او وېرېدونکي دي او په دې وجه چی دوی لوئي نه کوي او چی کله هغه څه واوري چی پېغمبرته رانازل سوی، د حقيقت د پېژندو په وجه به د دوی سترګي ګورې چی د اوښکو بهېږي، وايي به: اې زموږ ربه، موږ خو ايمان راوی، نو د حق د ګواهانو په جمله کي مو وليکه او ولي به په الله او هغه حقيقت ايمان نه راوړو چي موږ ته رارسېدلی او دا طمع کوو چي زموږ رب مو د نيکانو په ډله کي داخل کړي نو د دوی دې وينا په بدل کي الله هغه جنتونه ورکړه چي ولې تر لاندي بهېږي، تلپاتې په هغو کي او همدا د نيکي کوونکو بدله ده».

دغه آيتونه هغه خلګ ستايي چي قرآن ته د لاسرسي تـر مخـه ئې ويل: موږ نصرانيان يو، خو چي کله قرآن واوري ورته ژاړي، ايمان پر را وړي اومخلص مؤمن جوړېږي، هغه خلګ نه ښيي چي قـرآن ور ورسېږي بياهم دښمني ورسره کـوي؛ پـه دې وجـه د دې آيـت او مـخ کي تېر سوي (المائدة 51) آيت تر مينځ ټکر نسته، بلکي دا آيـت د بېلو خلګـو پـه هکلـه دی او هغـه د بېلـو، دا خبـره خپلـه د آيـاتونو پـه الفاظو کي غور او فکر غواړي، دا هم ورسره په نظر کي نيول غواړي چي د اجزاؤ تقسيم پـه قـرآن کـي ضـروري نـه دی؛ ځکـه دا د اللـه د پېغمبرﷺ د لوري داسي ثابت ويش نه دی چي د هغه په وجه د بحث لړۍ بدله اوسره بېله سي.

﴿لَّا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمْ يُقَٰتِلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوٓاْ إِلَيْهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ ٨ إِنَّمَا

يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ قَٰتَلُوكُمْ فِي ٱلدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ وَظَٰهَرُواْ عَلَىٰٓ إِخْرَاجِكُمْ أَن تَوَلَّوْهُمْۚ وَمَن يَتَوَلَّهُمْ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٩﴾ [الممتحنة: ٨-٩].

ترجمه: «الله تاسو د دې څخه نه منع کوي چې د هغه کسانو سره نيکي او عدل (انصاف) وکړئ چې د دين په وجه ستاسو پر ضد نه دي جنګېدلي او نه ئې ستاسو د کورونو ايستلي ياست؛ يقينا چې الله انصاف والا خلک خوښوي، الله تاسو تنها د دې څخه منع کوي چې هغه کسان په دوستۍ ونيسئ چې د دين په جه ستاسو پر ضد جنګېدلي او ستاسو د کورنو ئې ايستلي ياست او که ستاسو چا دوی په دوستۍ ونيوله نو هغوی ظالمان دي».

﴿لَّا يَتَّخِذِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَۖ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ ٱللَّهِ فِي شَيْءٍ إِلَّآ أَن تَتَّقُواْ مِنْهُمْ تُقَىٰةًۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفْسَهُۥۗ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿٢٨﴾﴾ [آل عمران: ٢٨].

ترجمه: «مؤمنان دي د مؤمنانو بغير کافران په دوستۍ نه نيسي اوڅوک چې دا کار وکړي نو په هيڅ څه کي د الله سره نه دی، مګر دا چې د دوی څخه څه ځان ساتنه وکړی او الله خوتاسو د خپل ځانه وېروي او ورګرځيدنه خو د الله په لوري ده».

د ځان ساتني مجبوري دا آياتونه بيانوي: ﴿مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُۥ مُطْمَئِنُّۢ بِٱلْإِيمَٰنِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٦﴾﴾ [النحل: ١٠٦].

ترجمه: «څوک چې د خپل ايمان وروسته په الله کافر کيږي پرته د هغه چا چې په داسي حال کي مجبوره سي چې زړه ئې په ايمان ډاډمن

وي، ليکن د چا سينه چي کفر ته پرانيستل سي نو پر هغو د الله غضب دی او لوی عذاب ئې په برخه دی».

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِىٓ أَنفُسِهِمْ قَالُوا۟ فِيمَ كُنتُمْ ۖ قَالُوا۟ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ قَالُوٓا۟ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةً فَتُهَاجِرُوا۟ فِيهَا ۚ فَأُو۟لَٰٓئِكَ مَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾ إِلَّا ٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ﴿٩٨﴾ فَأُو۟لَٰٓئِكَ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٩٩﴾﴾ [النساء: ٩٧-٩٩].

ترجمه: «بېشکه هغه کسان چی ملائک ئې روح قبضوی، په داسی حال کی چی دوی پر ځان ظلم کوونکي وي، ورته وايی: تاسي په څه حالت کي واست؟ دوی وايي: موږ په مځکه کي کمزوري کړه سوي وو. ملائک ورته وايي: آيا د الله مځکه پراخه نه وه چي تاسي هجرت پکښې کړی وای؟ نو د دغو کسانو د اوسيدوځای دوږخ دی او د ورګرځېدو ډېر بد ځای دی، مګر هغه کمزوري نارينه، ښځي او کچنيان چي نه څه چل کولی سي او نه دلاري د پيداکولو توان لري، نو الله ته اميد سته چي دوی ته معافي وکړي او الله بخښونکی معافي کوونکی دی»(١).

## – د الله پرته د بل چا په هکله دا عقيده درلودل چي په غيبو پوهيږي:

د دي مطلب د پوهېدلو لپاره دا ضروري ده چي څوک هغه څه سره ګډ نکړي چي قرآن سره بيل او جدا بللي؛ د قرآن کريم په اصطلاح کي يو علم غيب دی (د أسبابو بغير په پټو پوهيدل)، دا

---

١- د نور تفصيل غوښتونکي صحيح البخاري (کتاب الاکراه) کتلی سي.

علم الله ځان ته خاص کړی، د پيغمبرﷺ څخه ئې هم نفي کړی، دا که څوک د الله بغير بل چا تـه ومني، هـم ئې د الله پـه صـفت کي ورسره شريک ومنی هم ئې د الله خبره رد کړه.

دوهم اطلاع علي الغيب ده (د الله دلـوري پـه وحـي سـره پـه پټو خبرول)، دا علم الله تعـالی پـه رسـول پسـې خـاص کـړې، د امتيـانو څخه ئې نفـي کـړي، دا کـه څـوک اوس (د قـرآن د بيـان وروسـته) د پيغمبر پرته بل چا ته ومني د الله هغه خبره ئې رد کړه چي په پيغمبر پسې خاص کوي.

اوله خبره چي علم غيب الله ځان ته خاص کړی دليل يې دا دی چي پيغمبرﷺ ته الله تعالی وايي: ﴿قُل لَّا يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُۚ وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ يُبۡعَثُونَ ٦٥﴾ [النمل: ٦۵].

ترجمه: «ووايه: د الله پرته هغه څوک چي په آسمانو اومځکه کي دي په پټو نه پوهيږي، هغوی په دې هم نه آگاه کيږي چي دوی کله را پورته کيږي (څه وخت بيرته ژوندي کيږي)».

دلته داسي د نفي او اثبات توري کارول سوي لکه په (لا اله الا الله) کي چي کارول سوي، هلته دا معنی لري چي د الله پرته بل د عبادت لايق نسته، دلته همدا معنی لري چي د الله پرته بل غيب دان (په پټو خبر) نسته.

﴿قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعٗا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ وَلَوۡ كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ١٨٨﴾ [الأعراف: ١٨٨].

ترجمه: «ووایه: د ځان لپاره د فائدې اونقصان اختیار نه لرم مګر هغه څه چې الله غوښتي وي، که زه په پټو پوهېدلای خامخا به ما د خیر (ګټې) شیان ډېر کړي وای په داسي حال کي چې هیڅ بدي (ضرر) به نه را رسېدلای، زه د عذابه خبرونکي اومؤمن قوم ته د زېري ورکوونکي پرته بل څه نه یم».

﴿قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ إِنِّي مَلَكٌۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۚ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ٥٠﴾ [الأنعام:٥٠].

ترجمه: «ووایه: نه درته وایم: چې زما سره دالله خزانې دي، نه په پټو پوهېږم، نه درته وایم: چې زه بې شکه یوملک (د ملائکو) یم، د هغه څه پرته چې ما ته ئې وحي کېږي د بل څه تابعداري نه کوم، ووایه: آیا ړوند اولیدونکی سره برابر دي؟ آیا فکر نه کوئ؟».

﴿تِلۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهَآ إِلَيۡكَۖ مَا كُنتَ تَعۡلَمُهَآ أَنتَ وَلَا قَوۡمُكَ مِن قَبۡلِ هَٰذَاۖ﴾ [هود: ٤٩].

ترجمه: «دغه د غیب د خبرو څخه دي موږ ئې تا ته وحي کوو، ته او ستا قوم د دې دمخه نه په پوهېدلاست».

﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ٣ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ٤﴾ [النجم: ٣-٤].

ترجمه: «دی د خواهشه وینا نه کوي، د ده وینا بل څه نه ده سوا د داسي وحي چې په پټه ورته رسول کېږي».

## دوهمه خبري چي په پتو خبرول الله د خپل خوښي سره سم په پیغمبر پسي خاص کړي دلیل ئې دا دی:

﴿عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ فَلَا يُظۡهِرُ عَلَىٰ غَيۡبِهِۦٓ أَحَدًا ۝٢٦ إِلَّا مَنِ ٱرۡتَضَىٰ مِن رَّسُولٖ﴾ [الجن:٢٦-٢٧].

ترجمه: «(الله) په پټو خبر دی، نو خپل پر پټو هیڅا ته خبرتیا نه ورکوي مګر هغه څوک چي د ده خوښ وي د پیغمبرانو».

د دې امت اولني خلک په شمول د أبوبکر اوعليرضي الله عنهما هم الله تعالی په پټو نه دي خبر کړي؛ الله تعالی هغو ته وایي: ﴿وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُطۡلِعَكُمۡ عَلَى ٱلۡغَيۡبِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَجۡتَبِي مِن رُّسُلِهِۦ مَن يَشَآءُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۚ وَإِن تُؤۡمِنُواْ وَتَتَّقُواْ فَلَكُمۡ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ۝١٧٩﴾ [آل عمران: ١٧٩].

ترجمه: «الله تاسو ته پرغیب اطلاع نه درکوي (په پټو مو نه خبروي)، لیکن الله د خپلو پیغمبرانو چي څوک وغواړي غوره کوي ئې، نو په الله او د هغه په پیغمبرانو ایمان راوړئ، او که تاسو ایمان راوړئ او پرهیز وکئ نو تاسو ته لوی ثواب دی».

پیغمبر ﷺ ویلي: «مَنْ أَتَى عَرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً»[1].

ترجمه: «څوک چي د پټو معلومولو دعوه ګر ته راسي نو د کوم شي پوښتنه ورڅخه وکړي، څلویښت ورځي د هغه لمونځ نه قبلیږي».

قرآن اوسنت چي پر کوم شي د نه کېدو حکم وکړي هغه نه سي کېدی که څه هم خلک ډول ډول نومونه ورکړي؛ لکه: کشف، الهام، القاء او داسي نور. بلکي صافه خبره دا ده چي امتي ته الهام د غیب د خبر په معنی په قرآن اوسنت کي نسته. په قرآن کي یو ځای د الهام

١ - صحیح مسلم کتاب السلام بَاب تَحْرِيمِ الْكَهَانَةِ وَإِتْيَانِ الْكُهَّانِ.

توری راغلی؛ الله وايي: ﴿فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَىٰهَا ۝٨﴾ [الشمس: ٨].
ترجمه: «د انسان په ذهن کې ئې د هغه بدي او پرهيزګاري وراچولې ده».

خو په دې آيت کې الهام په هغه معنی نه سي مراد کېدلی چې خلک ئې دعوه کوي؛ ځکه چې دلته د الهام د توري سره اول بدي او ناروا ياد سوي؛ نو دلته هغه څه مراد دي چې نور آياتونه ئې وضاحت کوي چې وايي: ﴿وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ۝١٠﴾ [البلد: ١٠].

ترجمه: «انسان ته مي دواړي لاري (ښه او بد) بيان کړي دي».

﴿كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَٰفِرِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ۝١٢٢﴾ [الأنعام: ١٢٢].

ترجمه: «همداسي کافرانو ته هغه څه ښايسته سوي دي چې دوی کول».

﴿زُيِّنَ لَهُمْ سُوٓءُ أَعْمَٰلِهِمْ﴾ [التوبة: ٣٧].

ترجمه: «دوی ته خپل بد عملونه ښايسته سوي دي».

﴿وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ ٱلْإِيمَٰنَ وَزَيَّنَهُۥ فِى قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ ٱلْكُفْرَ وَٱلْفُسُوقَ وَٱلْعِصْيَانَ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلرَّٰشِدُونَ ۝٧﴾ [الحجرات: ٧].

ترجمه: «خو الله تاسو ته ايمان محبوب کړی، ستاسو په زړونو کې ئې ښايسته کړی او کفر، بې امري او ګناه ئې درته کرجن کړي، همدا خلک همدايت سوي دي».

کوم څوک چې په دې آيت کې الهام د بزرګانو د غيب د خبرتيا په معنی اخلي، هغه بايد کافرانو ته هم د خپل بزرګانو په څېر الهام ومني؛ ځکه هغوی ته هم د الهام نسبت سوی دی، داسي خلکو ته دا هم ويل کېږي چې تاسو خو هم ځانو ته مؤمنان، د الله دوستان واياست، تاسو ته د کوم شي الهام کېدی سي؟ ښکاره ئې کړئ.

د عيسیٰ عليه السلام د ملګرو (حواريونو)، د مريم او موسیٰ عليه السلام د مور واقعه په تېرو امتونو كه وه، هغه وخت داسي كېدی سوه؛ لكه څرنګه چي پيغمبر ﷺ وايي:

«لَقَدْ كَانَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ رِجَالٌ يُكَلَّمُونَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَكُونُوا أَنْبِيَاءَ فَإِنْ يَكُنْ مِنْ أُمَّتِي مِنْهُمْ أَحَدٌ فَعُمَرُ»[١].

ترجمه: بې شكه په هغه امتونو كي چي ترتاسو دمخه وه داسي خلګ وه چي خبري ورسره كېدلې بغير د دې چي پيغمبران وه، نو كه په دې امت كي څوک وي هغه به عمر وي.

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَشَفَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ السِّتَارَةَ وَالنَّاسُ صُفُوفٌ خَلْفَ أَبِي بَكْرٍ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَمْ يَبْقَ مِنْ مُبَشِّرَاتِ النُّبُوَّةِ إِلَّا الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ يَرَاهَا الْمُسْلِمُ أَوْ تُرَى لَهُ[٢].

ترجمه: ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: پيغمبر ﷺ په داسي حال كي پرده پورته كړه چي خلګ د أبوبكر رضي الله عنه شا ته په صفونو ولاړ وه، نو وئې فرمايل: اې خلګو! د نبوت (خبروركولو) د زېرو څخه بل څه نه دي پاته سوا د نيک خوبه چي مسلمان ئې ويني يا ورته ولېدل سي.

دا خبره د ﴿فَلَا يُظْهِرُ﴾ د تعبير څخه هم معلومېدی سي؛ ځكه دا په حال او را تلونكي زمانې كي د نه كېدو بيان كوي. د تېري زمانې بيان نه كوي كوم چي د قرآن د نازلېدو تر مخ دور دی. په دې پېښو د

---

١- صحيح البخاري كتاب المناقب، مناقب عمربن الخطاب: 3689.

٢- وفي لفظ: كشف رسول الله ﷺ الستر، ورأسه معصوب في مرضه الذي مات فيه... (صحيح مسلم كتاب الصلاة باب النهي عن قراءة القرآن في الركوع والسجود: 479).

کشف او الهام لپاره دليل نيول د بله پلوه هم ناسمه خبره ده، هغه دا چي د تېرو امتونو ياد سوو شخصيتونو ته قرآن د وحي د کېدلو خبره کړې ده، د الهام خبره ئې نه ده کړې. نو که څوک په دې هغه شيان اوس هم ممکن ګڼي، اوسنيو امتيانو ته دي داسي وحي ومني لکه مريم ته چي جبريل راغلی، خبري ئې ورسره کړي دي.که څوک د قرآن د وحي ثابت الفاظ په کشف او الهام بدلوي، دا غلط کار دئ.
په قرآن کريم کي خو الله وايي:

﴿وَإِذۡ أَوۡحَيۡتُ إِلَى ٱلۡحَوَارِيِّـۧنَ أَنۡ ءَامِنُواْ بِي وَبِرَسُولِي قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَٱشۡهَدۡ بِأَنَّنَا مُسۡلِمُونَ ١١١﴾ [المائدة: ١١١].

ترجمه: «هغه وخت چي حواريونو ته مي وحي وکړه: پر ما او زما پر پېغمبر ايمان راوړئ، دوی وويل: ايمان مو راوی او ته د دې شاهد وسه چي موږ مسلمانان يو».

﴿وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَرۡضِعِيهِۖ فَإِذَا خِفۡتِ عَلَيۡهِ فَأَلۡقِيهِ فِي ٱلۡيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحۡزَنِيٓۖ إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيۡكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٧﴾ [القصص: ٧].

ترجمه: «او د موسی مور ته مي دا وحي وکړه چي ده ته تی ورکړه، نو چي کله ورباندي وبېرېدلې و درياب ته ئې واچوه او مه بېرېږه او مه غمجنه کېږه؛ زه بې شکه دی بيرته درته راولم او د پېغمبرانو د ډلي ئې ګرځوم».

و مريم ته خو ملائک راغلي، خبري ئې ورسره کړي دي. وګوره سورة آل عمران: ۴۲ او سورة مريم: ۱۶- ۲۱.

او دا حديث چي وايي: «مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا وَقَدْ وُكِّلَ بِهِ قَرِينُهُ مِنَ الْجِنِّ، وَقَرِينُهُ مِنَ الْمَلَائِكَةِ»[١].

ترجمه: ستاسو د هر يوه سره خپل د پېري ملګرى او د ملائكو ملګرى مقرر سوى دئ.

دا د كومو بزرګانو لپاره څه ځانګړى صفت نه دئ، بلكي دا عام ملائک دي چي د هر انسان سره وي، د عامو ملائكو د كارونو څخه قرآن كريم دا ياد كړي دي چي د هر انسان (مسلمان او كافر) د كارونو څارنه او ليكنه كوي. په دې اړه د سورة ق ١٧ — ١٨ نمبر آيتونه د سورة الانفطار ١٠ — ١٢ نمبر آيتونو وضاحت كړى دئ.

لنډه خبره دا چي په قرآن اوسنت كي په دې اړه د بزرګانو لپاره داسي هيڅ دليل نسته چي دوى ته د كشف يا الهام په نامه د غيبي شيانو كوم داسي ځانګړى معلومات ثابت كړي چي نورو خلګو ته نه وركول كيږي. كه په دې دوركي چي د علم او پوهي اسباب ډېر سوي، كوم انسان د خپل آخرت، عقل او انسانيت سره جفا نه كوي، هغه بايد پوه سي.

## – د مخلوق څخه د اسبابو بغير مرسته غوښتل چي په حقيقت كي د الله پرته هيڅوک قدرت نه ورباندي لري:

الله وايي: ﴿وَلَا تَدۡعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَۖ فَإِن فَعَلۡتَ فَإِنَّكَ إِذٗا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠٦ وَإِن يَمۡسَسۡكَ ٱللَّهُ بِضُرّٖ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ

١- صحيح مسلم كتاب صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالْجَنَّةِ وَالنَّارِ بَابُ تَحْرِيشِ الشَّيْطَانِ وَبَعْثِهِ سَرَايَاهُ لِفِتْنَةِ النَّاسِ وَأَنَّ مَعَ كُلِّ إِنْسَانٍ قَرِينًا 2814.

وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهِۦ ۚ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٧﴾﴾ [يونس: ١٠٦-١٠٧].

ترجمه: «د الله پرته هغه څه مه را ننګوه چي نه فايده در رسوي، نه ضرر در رسوي، که دي داسي وکړه نو يقينا ته په دغه وخت کي د ظالمانو (مشرکانو) څخه يې، که الله ضرر در ورسوي نو د الله پرته بل هيڅ لري کوونکی ئې نسته، که الله د خير اراده درته وکي نو د هغه د فضل هيڅ ردوونکی نسته، خپل رحمت هغه چا ته رسوي چي دی ئې په خپل بندګانو کي وغواړي او دی مهربان بخښونکی دی».

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ ۖ فَٱدْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُوا۟ لَكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٩٤﴾ أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَآ ۖ أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَآ ۖ أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَآ ۖ أَمْ لَهُمْ ءَاذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا ۗ قُلِ ٱدْعُوا۟ شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ ﴿١٩٥﴾﴾ [الأعراف: ١٩٤-١٩٥].

ترجمه: «بې‌شکه هغه کسان چي تاسو د الله بغير ناري وروهئ ستاسو په شان بندګان دي، نو دوی را وبولئ، دوی دي ستاسو حاجتونه پوره کړي که تاسو روشتيني ياست ، آيا د دوی داسي پښې سته چي په روانيږي؟ او که د دوی داسي لاسونه سته چي ټينګول په کوي؟ او که د دوی داسي سترګي سته چي ليدل په کوي؟ او که د دوی داسي غوږونه سته چي اوريدل په کوي؟ ووايه: خپل شريکان را وبولئ (وئې ننګوی) بيا زما پر ضد هر چل وکئ نو هيڅ مهلت مه راکوی».

﴿وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَخْلُقُونَ شَيْـًٔا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴿٢٠﴾ أَمْوَٰتٌ غَيْرُ أَحْيَآءٍ ۖ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴿٢١﴾﴾ [النحل: ٢٠-٢١].

ترجمه: «او هغه کسان چي د الله پرته ئې دوی ننګوي، شی نه سي پيدا کولای او دوی پيدا کيږي (دا باطل معبودان د هيڅ شي خالق نه دي،

دوی خپله مخلوق دي) مړه دي، ژوندي نه دي اوپه دې نه پوهېږي چي کله به بيا ژوندي کيږي؟».

* په دې آيتونو کي په ښکاره ډول الله دا ردوي چي انسانان خپل په شان د نور مخلوق څخه حاجتونه وغواړي؛ ځکه هغه ئې حاجت نه سي پوره کولای، دلته ډېري بتان نه ښيي؛ ځکه دا دوهم ژوند لري او ډېري په لاس جوړ سوو بتانو ته دوهم ژوند نه دی ثابت.

﴿وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّن يَدْعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَن لَّا يَسْتَجِيبُ لَهُۥٓ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ وَهُمْ عَن دُعَآئِهِمْ غَٰفِلُونَ ۝٥ وَإِذَا حُشِرَ ٱلنَّاسُ كَانُواْ لَهُمْ أَعْدَآءً وَكَانُواْ بِعِبَادَتِهِمْ كَٰفِرِينَ ۝٦﴾ [الأحقاف: ۵-۶].

ترجمه: «تر هغه چا څوک ډېر گمراه دی چي د الله بغير هغه څوک را ننګوي چي د قيامت تر ورځي جواب نه ورکوي (حاجت ئې نه سي پوره کولی) او هغوی (معبودان) د دوی د بلني څخه ناخبره دي او چي کله خلګ را جمع سي هغوی دوی ته دښمنان سي او معبودان د بندګانو د عبادته منکر سي (وايي: تاسو موږ ته عبادت نه کوی)».

**فايده:** د ﴿مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾ مطلب داسي نه دئ چي د الله سره ئې په ګډه ننګول او داسي ورته ويل روا دي چي: يا خدا وپيرانو را ورسيږئ. نه، داسي مطلب نه لري؛ ځکه دا توري په قرآن کي نور ځايونه هم د شرک د ردولو لپاره کار سوي دي؛ لکه دا چي الله وايي: ﴿وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِۚ قُلْ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلْأَرْضِۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ۝١٨﴾ [يونس: ۱۸].

ترجمه: «او مشركان د الله پر ته د هغه څه بندګي كوي چي نه ضرر ور رسوي، نه فايده ور رسوي، وايي: دا د الله په حضور كي زموږ شفاعت كوونكي دي. ورته ووايه: آيا تاسو الله ته د داسي څه خبر وركوئ چي هغه ته نه په آسمانو كي معلوميږي نه په مځكه كي؟ الله پاک او لوړ دی د هغه څه چي دوی ئې ورسره شريكوي».

په دې آيت كي عبادت ياد سوی چي لمونځ، حج، روژه او هر قسم بندګي پكښي نغښتې ده او هر څوک چي ځان ته مسلمان وايي دا مني چي د الله پرته، د الله بغير، چي هر څوک او هرڅه وي وهغه ته عبادت او بندګي د الله سره شريک منل دي، كه دا بندګي يوازي مخلوق ته وي هم كفر دئ اوكه ومخلوق او الله ته په ګډه وي هم كفر دئ؛ بل ځای قرآن وايي: ﴿وَلَا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلۡقَىٰ فِي جَهَنَّمَ مَلُومًا مَّدۡحُورًا ٣٩﴾ [الإسراء: ٣٩].

ترجمه: «او د الله سره بل معبود مه جوړوه، كه نه نو په دوږخ كي به ملامت رټل سوی وغورځول سې».

دلته هم دا آيتونه د شرک هغه ډول رد كوي، همغسي مطلب لري چي د الله پرته، د الله بغير چي هر څوک او هرڅه وي، تر اسبابو پورته واک ورته منل، هيله او اميد ځني درلودل او ننګول ئې شرک دئ؛ قرآن بل ځای په داسي الفاظو هم حكم كړی دئ:

﴿وَلَا تَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۘ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ﴾ [القصص: ٨٨].

ترجمه: «او د الله سره د بل معبود څخه حاجت مه غواړه، د ده پرته بل هيڅ د بندګۍ حقدار نسته».

﴿وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدًا ١٨﴾ [الجن: ١٨].

ترجمه: «او دا چي مسجدونه (د سجدو ځایونه) د الله لپاره دي، نو د الله سره بل هیڅوک مه رانځوئ (حاجتونه مه ورځخه غواړئ)».

﴿وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا مَكَانَكُمْ أَنتُمْ وَشُرَكَاؤُكُمْ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ وَقَالَ شُرَكَاؤُهُم مَّا كُنتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ ﴿٢٨﴾ فَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ إِن كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغَافِلِينَ ﴿٢٩﴾﴾ [یونس: ۲۸-۲۹].

ترجمه: «او کومه ورځ چي زه دوی ټول را غونډ کړم بیا مشرکانو ته ووایم: تاسو او شریکان مو پر خپل ځای وسئ، نو د دوی په مینځ کي بېلتون را ولم او شریکان ئې وايي: تاسو موږ ته بندګي نه کول، یقینا موږ ستاسي د عبادته خامخا غافله (ناخبره) وو».

* دلته هم وینو چي د مشرکانو معبودانو ته دښمني، انکار او د عاقل انسان شیان کارول سوي؛ نو دا هم ډېري بتان نه سي کېدی.

﴿إِن تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ ﴿١٤﴾﴾ [فاطر: ۱۴].

ترجمه: «که د دوی څخه دعا وغواړئ (را وې نځوئ) ستاسو دعا نه اوري او که ئې وا هم وري حاجت مو نه سي پوره کولای او په ورځ د قیامت ستاسو د شرکه انکار کوي او د باخبره په شان معلومات څوک نه سي درکولای».

* دلته دا هم ده چي که څوک د ژوندي حاضر انسان څخه هغه څه وغواړي چي د الله پرته ئې بل څوک نه سي کولای، نو دا هم د بېعقل انسان کار دی؛ ځکه هغه ئې حاجت نه سي پوره کولای.

﴿وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا ثُمَّ يَقُولُ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمۡ كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٤٠ قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِمۖ بَلۡ كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٱلۡجِنَّۖ أَكۡثَرُهُم بِهِم مُّؤۡمِنُونَ ٤١﴾ [سبأ: ٤٠-٤١].

ترجمه: «کومه ورځ چي الله دوی ټوله را غونډ کړي، بيا ملائکو ته ووايي: آيا دغو تاسو ته بندګي کول؟ ملائک وايي: ته پاکي يې يا الله! ته زموږ دوست يې بغير د دوی، بلکي دوی د پيريانو بندګي کول، ډېری د دوی په هغو ايمان لرونکي وه».

﴿أَفَحَسِبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن يَتَّخِذُواْ عِبَادِي مِن دُونِيٓ أَوۡلِيَآءَۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا جَهَنَّمَ لِلۡكَٰفِرِينَ نُزُلٗا ١٠٢﴾ [الكهف: ١٠٢].

ترجمه: «آيا کافرانو دا ګمان کړي چي زما پرته زما بندګان دوستان ونيسي؟ يقينا ما دوږخ کافرانو ته د مېلمستيا په توګه چمتو کړی».

* په دې آيت کي الله د کافرانو هغه انګرينه غلطه بللې چي د الله بندګان د ځانو لپاره مشکل کشا بولي.

﴿وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ عُزَيۡرٌ ٱبۡنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ ٱللَّهِۖ ذَٰلِكَ قَوۡلُهُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡۖ يُضَٰهِـُٔونَ قَوۡلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٣٠﴾ [التوبة:٣٠].

ترجمه: «او يهوديانو وويل: عزير د الله زوی دی او نصرانيانو وويل: عيسی د الله زوی دی، دا د دوی د خولو (بې دليله) خبري دي، دوی د هغه خلګو د وينا سره ورته والی کوي چي تر مخه کافران سوي، الله دي دوی هلاک کړي، څنګه اړول کېږي (د توحيد د حقيقته چا اړولي)».

﴿لَّقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَۚ قُلۡ فَمَن يَمۡلِكُ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔا إِنۡ أَرَادَ أَن يُهۡلِكَ ٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَأُمَّهُۥ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ

جَمِيعًاۗ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَاۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ۝١٧ وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ وَٱلنَّصَٰرَىٰ نَحۡنُ أَبۡنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥۚ قُلۡ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُمۖ بَلۡ أَنتُم بَشَرٞ مِّمَّنۡ خَلَقَۚ يَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۚ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَاۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ۝١٨﴾ [المائدة: ١٧-١٨].

ترجمه: «بې‌شکه هغه کسان کافران سوي چي ويلي دي: بې شکه الله همدا عيسی د مريمي زوی دی، ورته ووايه: نو څوک د الله د لوري شی په اختيار کي لري که الله دا وغواړي چي عيسی د مريمي زوی، د هغه مور او دا ټول هغه کسان هلاک کړي چي په مځکه کي دي؟ د الله په اختيار کي د آسمانو، مځکي او هغه څه پادشاهي ده چي د دوی په مينځ کي دي، هغه څه پيدا کوي چي دي ئې غواړي او الله پر هر شي پوره واکمن دی. او يهودانو او نصرانيانو وويل: موږ دالله زامن او نازولی يو، ورته ووايه: نو ولي تاسو ته پر خپلو ګناهونو عذاب درکوي؟ (داسي نه ده)، بلکې تاسو يو عام انسانان ياست چي الله پيداکړي، چا ته چي وغواړي بخښنه کوي، او چا ته چي وغواړي عذاب ورکوي، د آسمانو، مځکي او هر هغه څه چي د دوی په مينځ کي دي، د ټولو واک او اختيار د الله سره دی او بيرته ورتګ ده ته دی».

﴿لَّقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ ثَالِثُ ثَلَٰثَةٖۘ وَمَا مِنۡ إِلَٰهٍ إِلَّآ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۚ وَإِن لَّمۡ يَنتَهُواْ عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝٧٣ أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى ٱللَّهِ وَيَسۡتَغۡفِرُونَهُۥۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝٧٤ مَّا ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ إِلَّا رَسُولٞ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِ ٱلرُّسُلُ وَأُمُّهُۥ صِدِّيقَةٞۖ كَانَا يَأۡكُلَانِ ٱلطَّعَامَۗ ٱنظُرۡ كَيۡفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ ثُمَّ ٱنظُرۡ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ۝٧٥ قُلۡ أَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ

مَا لَا يَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗاۚ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٧٦ قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوٓاْ أَهۡوَآءَ قَوۡمٖ قَدۡ ضَلُّواْ مِن قَبۡلُ وَأَضَلُّواْ كَثِيرٗا وَضَلُّواْ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ٧٧﴾ [المائدة: ۷۳-۷۷].

ترجمه: «هغه کسان یقینا کافران سوي چی وئې ویل: الله د درو دریم دی، حال دا چي د الله پرته بل هیڅ حقدار دبندګۍ نسته او که دوی د خپل دغي وینا څخه منع نه سی، نو ضرور به د دوی کافرانو ته دردوونکی عذاب رسیږي. نو آیا دوی الله ته توبه نه کوي او بخښنه نه ورڅخه غواړي، په داسي حال کی چی الله مهربان بخښونکی دی. مسیح دمریمي زوی خو د پیغمبر څخه پرته بل څه نه دی، تر ده د مخه هم نور پیغمبران تیر سوي او مور ئې ډېره صادقه ښځه وه، دواړو به خوراک کوی، وګوره چی څنګه ښکاره دلائل ورته بیانوو، بیا دې ته هم وګوره چی دوی څنګه تېر وزي؟. ورته ووایه: آیا د الله پرته د داسي څه بندګی کوئ چی نه تاسوته کوم زیان په خپل واک کي لري او نه هم کومه ګټه او حال دا چي الله ښه پوه اوریدونکی دی. ورته ووایه: اې اهل کتابو! په خپل دین کي ناحقه د حده تېری مه کوئ او د هغو خلکو د خواهشاتو پیروي مه کوئ چی په خپله لا د مخه بېلاري سوي، ډېر نور ئې هم بېلاري کړه او سمه لار ئې ورکه کړه».

* دلته ګورو چي هغه خلګ الله کافران بللي چي د الله یقیني دوستان عیسی او مریم د الله شریکان بولي او دا ئې هم هغوی ته ویلي چي دوی د هغه قسم اختیاراتو هیڅ اختیار نه لري چي خلګ وایي د الله نازولي ئې لري؛ نو دا خبره هم ښکاره سوه چي شرک تنها دا نه دی چي څوک د الله دښمنان ورسره شریک وبولي، بلکي د الله دوستان ورسره حصه دار یا د نفع او ضرر څښتن بلل هم شرک دی، دا هم ورسره په یاد لری چي پیغمبر ﷺ دې امت ته ویلي: «لَتَتَّبِعُنَّ

سَنَنَ من كان قبلَكم شِبراً بشِبرٍ وذِراعاً بذِراعٍ، حتّى لو سَلَكوا جُحرَ ضَبٍّ لَسَلكتُموهُ قلنا: يارسولَ الله، اليهودَ والنصارَى؟ قال: فمن؟»[١].

ترجمه: خامخا ستاسو دمخه خلکو د تګ لارو پيرو تاسو جوړيږئ: لويښت په لويښت ګز په ګز، آن تر دې چي که دوی د سمسارې د اوسيدلو په غار ننوتل تا سو ورننوزئ. (صحابهء كرام وايي) موږ ويل: اې د الله پيغمبره! يهوديان اونصرانيان يادوې؟ ده وويل: نو څوک يادوم ؟

که کوم ځای هغه د ډبري لاسي بُتان ياد سوي، دا هم په حقيقت کي د يو ه داسي انسان تمثيل کوي چي په انساني ټولنه کي د ښه نيک د الله د دوست په نامه شهرت لري، چي ځيني ئې په حقيقت کي هم د الله دوستان وي او ځيني تنها د خلګو په ګمان د الله دوستان وي؛ د دې خبري هم شرعي (د قرآن اوسنت) دلايل سته، هم په سترګو داسي ليدل سوي، د قرآن کريم خو ډېر آيتونه ستاسو مخ ته تېر سوه، حديث د ا دى: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ لَمَّا قَدِمَ أَبَى أَنْ يَدْخُلَ الْبَيْتَ وَفِيهِ الْآلِهَةُ فَأَمَرَ بِهَا فَأُخْرِجَتْ فَأَخْرَجُوا صُورَةَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ فِي أَيْدِيهِمَا الْأَزْلَامُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ قَاتَلَهُمْ اللَّهُ أَمَا وَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمُوا أَنَّهُمَا لَمْ يَسْتَقْسِمَا بِهَا قَطُّ فَدَخَلَ الْبَيْتَ فَكَبَّرَ فِي نَوَاحِيهِ وَلَمْ يُصَلِّ فِيهِ[٢].

---

١- صحيح البخاري كتاب أحاديث الأنبياء باب ما ذكِرَ عن بني إسرائيل: 3456. صحيح مسلم كتاب العلم باب في اتباع سنن اليهود والنصارى: ٢٦٦٩.

٢- صحيح البخاري كتاب الحج بَاب مَنْ كَبَّرَ فِي نَوَاحِي الْكَعْبَةِ.

ترجمه: ابن عباس رضي الله عنهما وايي: بې شكه چي پيغمبر ﷺ كله راغلی د دې څخه ئې انكار وكی چي بيت الله په داسي حال كي داخل سي چي معبودان (هغه څه چي بندګي ئې كېږي) پكښې وي، نو دهغو په هكله ئې امر وكی، پس وايستل سوه، نو دوی د ابراهيم او اسماعيل عليهما السلام مجسم عكسونه را وايستل چي په لاسونو كې د تقسيماتو غشي وه، رسول الله وويل: الله دي دوی تباه كړي، قسم په الله چي دوی پوهېږي چي ابراهيم او اسماعيل په دغه غشو هيڅكله تقسيمات نه دي كړي ، نو دی بيت الله ته داخل سو، د بيت الله په اړخونو كي ئې الله اكبر ووايه (د الله لويي ئې بيان كړه) او لمونځ ئې پكښې و نه كړ.

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ وَأُمَّ سَلَمَةَ ذَكَرَتَا كَنِيسَةً رَأَيْنَهَا بِالْحَبَشَةِ فِيهَا تَصَاوِيرُ فَذَكَرَتَا لِلنَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ إِنَّ أُولَئِكَ إِذَا كَانَ فِيهِمْ الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَمَاتَ بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا وَصَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ فَأُولَئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ[١].

ترجمه: د مؤمنانو مور عايشه رضي الله عنها وايي چي ام حبيبه او ام سلمه يوه كنيسه ياده كړه چي دوی د حبشې په سيمه كي ليدلې وه چي تصويرونه (عكسونه) پكښې وه، دوی پيغمبر ﷺ ته يادونه وكړه، نو ده وويل: يقينا چي په دغه خلكو كي نيك سړی وي، بيا مړ سي

---

١- صحيح البخاري كتاب الصلاة بَاب هَلْ تُنْبَشُ قُبُورُ مُشْرِكِي الْجَاهِلِيَّةِ وَيُتَّخَذُ مَكَانُهَا مَسَاجِدَ .

صحيح مسلم كتاب المساجد بَاب النَّهْيِ عَنْ بِنَاءِ الْمَسَاجِدِ عَلَى الْقُبُورِ وَاتِّخَاذِ الصُّوَرِ فِيهَا وَالنَّهْيِ عَنْ اتِّخَاذِ الْقُبُورِ مَسَاجِدَ.

دوی د هغه پر قبر مسجد جوړوي او دا د نېکانو مجسم عکسونه پکښې تصويروي، د الله په حکم کي د قيامت په ورځ دغه خلک تر ټولو مخلوقاتو بد دي.

«قَالَ النَّبِيُّ ﷺ فِي مَرَضِهِ الَّذِي لَمْ يَقُمْ مِنْهُ لَعَنَ اللَّهُ الْيَهُودَ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ قَالَتْ عَائِشَةُ لَوْلَا ذَلِكَ لَأُبْرِزَ قَبْرُهُ خَشِيَ أَنْ يُتَّخَذَ مَسْجِدًا»[١].

ترجمه: پېغمبر ﷺ په خپل هغه ناروغتيا کي چي ورڅخه ولاړ نه سو، داسي وويل: پر يهوديانو دي د الله لعنت وي؛ خپل د پېغامبرانو قبرونه ئې مسجدونه جوړ کړي. عايشه رضي الله عنها وايي: که دا (وېره) نه وای قبر به ئې ښکاره سوی وای، د دې څخه ووېرېدی چي قبر به ئې مسجد جوړ سي.

عايشه او عبد الله بن عباس رضي الله عنهم وايي: لَمَّا نَزَلَ بِرَسُولِ اللَّهِ ﷺ طَفِقَ يَطْرَحُ خَمِيصَةً لَهُ عَلَى وَجْهِهِ فَإِذَا اغْتَمَّ كَشَفَهَا عَنْ وَجْهِهِ وَهُوَ كَذَلِكَ يَقُولُ لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ يُحَذِّرُ مَا صَنَعُوا[٢].

---

١- صحيح البخاري كتاب المغازي بَاب مَرَضِ النَّبِيِّ ﷺ وَوَفَاتِهِ وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ.
صحيح مسلم كتاب المساجد بَاب النَّهْيِ عَنْ بِنَاءِ الْمَسَاجِدِ عَلَى الْقُبُورِ وَاتِّخَاذِ الصُّوَرِ فِيهَا وَالنَّهْيِ عَنْ اتِّخَاذِ الْقُبُورِ مَسَاجِدَ.

٢- صحيح البخاري كتاب المغازي بَاب مَرَضِ النَّبِيِّ ﷺ وَوَفَاتِهِ وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ.
صحيح مسلم كتاب المساجد بَاب النَّهْيِ عَنْ بِنَاءِ الْمَسَاجِدِ عَلَى الْقُبُورِ وَاتِّخَاذِ الصُّوَرِ فِيهَا وَالنَّهْيِ عَنْ اتِّخَاذِ الْقُبُورِ مَسَاجِدَ.

ترجمه: کله چې پر پیغامبرﷺ ناروغي راغله شروع ئې وکړه خپل پټو (چادر) بې پر خپل مخ اچوی، نو چې کله به غمجن سو د مخه به ئې لري کی او دی به همداسې وو ویل بې: پر یهودیانو او نصرانیانو دې د الله لعنت وي؛ خپل د پیغامبرانو قبرونه ئې مسجدونه جوړ کړي، د هغسې کار څخه ئې (امتیان) بېرول چې یهودیانو اونصرانیانو کړی وو.

د پیغامبرﷺ د آخري ارزښتمنو ویناو څخه یوه دا هم ده: «أَلَا وَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ أَلَا فَلَا تَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ إِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذَلِكَ»[۱].

ترجمه: خبردار! یقینا چې تر تاسو د مخه خلګو د خپلو پیغامبرانو او ښو خلګو قبرونه مسجدونه جوړول، خبردار! نو تاسو قبرونه مسجدونه مه جوړوئ؛ یقینا زه تاسو د دې څخه منع کوم.

دا حدیثونه ښیي چې دا کارونه د پخوانیو تحریف کړو خلګو د لوري کېدل، نه د هغو د پیغامبرانو په حکم، پراصحاب کهف مسجد جوړول هم د تحریف کړو خلګو کار دی، څنګه چې قرآن دې ته اشاره کړې چې د هغه وخت زورواکانو دا سې وکړه؛ ﴿قَالَ ٱلَّذِينَ غَلَبُواْ عَلَىٰٓ أَمۡرِهِمۡ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيۡهِم مَّسۡجِدٗا ۝٢١﴾ [الكهف: ٢١].

ترجمه: «هغه خلګو چې د دوی پر حکم ئې غلبه وکړه وویل: خامخا به پر دوی مسجد جوړوو».

---

۱- صحيح مسلم كتاب المساجد بَاب النَّهْيِ عَنْ بِنَاءِ الْمَسَاجِدِ عَلَى الْقُبُورِ وَاتِّخَاذِ الصُّوَرِ فِيهَا وَالنَّهْيِ عَنْ اتِّخَاذِ الْقُبُورِ مَسَاجِدَ.

قرآن روشتیا وایي؛ همداسي خلک چي بې دلیله په زوره خپل خبري بر خلکو تپي هر وخت سادګان عوام دقبرونو په ودانولو بخوت (مشغوله)، ویده وساتي چي د دوی هیڅ کار ته ناروا و نه وایي، هرڅه پر وتپلای سي او هر اصلاح غوښتونکی وداسي ناخبرو خلکو ته د دین دښمن وښیي، په دوی ئې وزپي په داسي حال کي چي هغه دوی ته ګټه رسوي، دوی بیداره کوي او د ظلمه ئې خلاصوي، خو په دا وجه چي د دوی مینه د شرک سره پیدا سوې چي د نشیي توکو په ډول ئې دوی تباه کړي، نو دوی هغه ډاکټر نه خوښوي چي مخنیوی او درملنه ئې کوي؛ لکه فرعون چي د موسی علیه السلام پر ضد قوم را وپارول او ځان ئې د دین خوا خوږی وښودی او وې ویل: ﴿إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمۡ أَوۡ أَن يُظۡهِرَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡفَسَادَ ٢٦﴾ [المؤمن: ۲۶].

ترجمه: «بېشکه زه وېرېږم چي ستاسي دین به بدل کړي یا به په مځکه فساد (خرابکاري) غالب کړي».

﴿فَٱسۡتَخَفَّ قَوۡمَهُۥ فَأَطَاعُوهُۚ﴾ [الزخرف: ۵۴].

ترجمه: «نو ده خپل قوم ساده کړ (بې عقل ئې ورزل) نو دوی ئې خبري ومنلې».

ددې آیتونو د پوهي وروسته انسان د قرآن د دې خبري په مطلب پوهېږي چي وایي: یقیناً شرک لوی ظلم دئ. (لقمان: ۱۳). دا ځکه چي شرک د یوې خوا د مخلوق د لوري د الله پر حق تېری دئ. د دې څخه علاوه شرک پر انسانانو باندي د ظلم لویه برخه او پوښ دئ؛ پر انسان چي ظلم سوی او کېږي شرک هلته خپل تور وزر غوړولی وي. د شرک په توره تیاره کي حقائق تر پښو لاندي، د

مظلومانو حقوق برباد او ساده‌ګان ئې د ټګمارانو په لومه (دام) کې راګیر کړي وي. دا خبره هم د انسان د تاریخ په هغه برخه کې څرګنده برېښي چې په قرآن کې ئې بیان سوی دئ او هم اوس لیدل کېږي، خو ډېر خلک نه پوهېږي، خپله پرڅان ظلم ته دوام ورکوي.

## د شرک او بت پرستۍ په تفسیر کې د انسان حِس، اورېدل او د سترګو لیدل د کومې پرېکړې پخلی کوي؟

ابن عباس رضي الله عنهما وایي: كَانَ اللَّاتُ رَجُلًا يَلُتُّ سَوِيقَ الْحَاجِّ[۱].

ترجمه: لات سړی وو چې حاجیانو ته ئې میده سوي نینې غنم لندول (د بیت الله د حاجیانو خادم وو).

دغه لات د ابوجهل او د هغه د ملګرو مشرکانو هغه مشهور بت دی چې قرآن کریم ئې په سورة النجم (19) کې نوم اخیستی او په کلکه ئې غندلی دی.

لنډه دا چې بُت پرستي هسې خوشي نه ده شروع سوې بغیر د دې چې شاته ئې کوم تحریک وي، تاسو به هیڅوک نه وي لیدلي چې خوشي د غرونو هري ډبري ته سجدې وکړي، کوم ځای چې د ډبري بت وي هلته انسان ته د خپل یو محبوب یادګار یا د ده په خپل ګمان والله ته د هغه وسیله کول وي، ډبره هلته مقصود نه وي. بتان د واقعیته په لیري ډول تفسیر سم کار نه دی چې فقط یو خیالي شی ښیي نور د انساني ټولني د کړو څخه په تمامه معنی لیري وي، د بامیان د بودا بت تر اوسه موږ په سترګو وینو چې د ډبري مجسمه

---

۱- صحیح البخاي کتاب التفسیر باب: ﴿أَفَرَءَيۡتُمُ ٱللَّٰتَ وَٱلۡعُزَّىٰ ۝١٩﴾: 4859.

ده، خو یادګار د هغه انسان بودا دی چې د هغه پیروان د یو نیک انسان عقیده ورته لري، په دې اړه به تاسو د بودا ئي مذهب د مشر مرکه په نړیواله خبري رسنیو کې اوریدلې وي په هغه وخت کې چې د بودا مجسمه په توپونو ویشتل کېده حاصل د خبرو ئې دا وو چې موږ دا د الله شریک نه بولو، بلکې موږ دا د الله د یو نیک بنده یادګار بولو، د دې ترڅنګ بندګي والله ته د ډېر نژدېتوب وسیله ګڼو.

په تېر بیان او دلایلو دا هم معلومېږي چې د پېغمبر ﷺ دغه راتلونکی حدیث د دې امت د ټولو زمانو په هکله نه دی، بلکې د پېغمبر ﷺ د زمانې د یو شمېر خلګو په هکله دی، هغه حدیث دا دی چې پېغمبر ﷺ وايي: «إِنِّي لَسْتُ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي وَلَكِنِّي أَخْشَى عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا وَتَقْتَتِلُوا فَتَهْلِكُوا كَمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ»[١].

ترجمه: یقیني خبره ده چې زه پر تاسو د دې څخه نه بېرېږم چې تاسو به زما وروسته شرک وکړئ، خو پرتاسو دا بېره لرم چې په دنیا کې به یو تر بل مخ کې کېدل شروع کړئ او سره و به جنګېږئ نو به داسې هلاک سئ لک تر تاسو مخ کې خلګ چې هلاک سول.

---

١- صحيح مسلم كتاب الفضائل بَاب إِثْبَاتِ حَوْضِ نَبِيِّنَا ﷺ وَصِفَاتِهِ. صحيح البخاري كتاب المغازي بَاب غَزْوَةِ أُحُدٍ.

د دې حديث د تخصيص دليل يو هغه تېر حديث دی چي وايـی: خامخا ستاسو دمخه خلګو د تګ لارو پيرو تاسو جـوړېږئ: لوېشـت په لوېشت ګز په ګز...[١].

بل دا حديث دی چي پېغمبر ﷺ وايي: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَضْطَرِبَ أَلَيَاتُ نِسَاءِ دَوْسٍ عَلَى ذِي الْخَلَصَةِ وَذُو الْخَلَصَةِ طَاغِيَةُ دَوْسٍ الَّتِي كَانُوا يَعْبُدُونَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ»[٢].

ترجمه: قيامت نه پر پاکېږي تـر څـو د دَوس قبيلې د ښـځو لمـان (جونډيان) پر هغه بُت ښـورول کېږي چـي د خلاصـون والا پـه نـوم يـادېږي. دا د خلاصـون والا (بلاګـردان) پـه نامـه بُـت وو، د دَوس قبيلې د اسلام تر مخ د هغه بندګي کول.

د اسلام په نامه چي خلګو کوم ګوندونه جوړ کړي، په هغو کي هـر ګوند او فرقه مقابل ګوند لري. داسي څوک پکښي نسته چي د دې امت هيچا ته کافر و نه وايي، بلکي هرڅومره چي نرم مزاجه مـذهب، ګونـد يا ډله وي، بيا هم د دې امت ځيني کلمه ګويه خلګو ته په يو او بل نوم کافر وايي. نو د دې حديث داسي معنی هيڅوک هم نه سي کولای چي هيڅ وخت د دې امت هيڅوک په شرک يا کفر کي نه لوېږي.

---

١- صحيح البخاري كتاب أحاديث الأنبياء باب ما ذكِرَ عن بني إسرائيل: 3456.صحيح مسلم كتاب العلم باب في اتباع سنن اليهود والنصارى: ٢٦٦٩. د دې حديث الفاظ، ترجمه او تفصيل په دې کتاب کي مخ کي تېر سوی.

٢- صحيح البخاري كتاب الفتن بَاب تَغْيِيرِ الزَّمَانِ حَتَّى تُعْبَدَ الْأَوْثَانُ. صحيح مسلم كتاب الفتن وأشراط الساعة بَاب لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَعْبُدَ دَوْسٌ ذَا الْخَلَصَةِ.

## په اسلام کي د زیارتونو حکم:

په کومه معنی چي اوسني عجم (غیر عرب) خلګ زیارت د قبر د ودانولو لپاره کاروي، اسلام نه په دې معنی زیارت مني، نه ئې اجازه کوي؛ په قرآن کریم کي نـژدې د پنځویشت پیغمبرانو نومونه او کارنامې یادي سوي، خو د یوه قبر هم قرآن کریم نه دی را ښوولی چي په فلاني ځای کي دفن دی تاسو زیارت پر جوړ کړئ، نه ئې د پیدایښت یا د مرګ ورځ یاده سوې چي دا ولمانځئ، نو دا ښیي چي الله موږ ته دا حکم کوي چي د هغو د ژوند تګلاره زده کړو او په رڼا کې ژوند وکړو، هغسي د ظلم مقابله وکړو لکه دوی چي کول. داسي نه چي د هغوی د پیدائښت د ورځ لمانځني په نامه یا د زیارت په نامه د خلګو د جیبو پیسې را وباسو او خپل جیبونو ته ئې واچوو.

دا رنګه د پیغامبرﷺ په ژوند د اسلام ولړ شخصیتونه شهیدان سوي، لکه: عمار، سمیه، حمزه او نور د اُحُد شهیدان رضي الله عنهم، پر یوه ئې هم پیغامبرﷺ زیارت نه دی جوړ کړی، بلکي د قبرونو د لوړولو څخه ئې منع کړې؛ هغه علي رضي الله عنه چي په نامه ئې خلګو مزار جوړ کړی, د رسول اللهﷺ څخه نقلوي چي ده ته ئې داسي حکم کړی: «لَا تَـدَعَ تِمْثَالًا إِلَّا طَمَسْتَهُ وَلَا قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ»[1].

ترجمه: بُت بغیر ورانولو مه پرېږده، لوړ قبر بغیر د برابرولو مه پرېږده.

---

۱- صحیح مسلم کتاب الجنائز باب الأمر بتسویة القبر.

جابرﷺ وايي: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ أَنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ وَأَنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ وَأَنْ يُبْنَى عَلَيْهِ[١].

ترجمه: پيغامبرﷺ منع کړې د دې څخه چي قبر ګچکاري سي، ناسته ورباندي وسي او آبادي پر جوړه سي.

دا حکم خو قرآن او سنت هيڅکله نه راته کوي چي موږ د هغو پر قبرونو مزارات جوړ کړو او د وفات په ورځ ئې ميلې را وباسو، په دې ډول د غريبو ناخبرو خلکو مالونه ترلاسه کړو خپل نسو او جيبو ته ئې واچوو.

د قبرونو ودانول او ميلې پر جوړول د نورو قومونو خرافي ميراث دى لکه: روميان، مجوس او هندوان چي په ناخبره مسلمانانو کي د يو شمير ټګمارو غرضي او مَرَضي خلکو د خوا رواج سوى دئ.

دا خبره مخ کي تېره سوه چي دا ډول کارونه و بت پرستۍ ته يوه لويه لاره اود شرک غټ لامل دى. زيارت د قرآن او سنت په ژبه کي د يو چا ملاقات او د يو شي ليدني ته ويل کيږي[٢]. په دې معنى قبرونه د نږدو ليدل هم زيارة القبور بلل کيږي؛ پيغمبرﷺ وايي: «نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوهَا»[٣].

---

١- صحيح مسلم کتاب الجنائز باب النهي عن تجصيص القبر والبناء عليه.

٢- وګوره: صحيح البخاري کتاب الأدب بَاب الزِّيَارَةِ وَمَنْ زَارَ قَوْمًا فَطَعِمَ عِنْدَهُمْ.

٣- صحيح مسلم کتاب الجنائز بَاب اسْتِئْذَانِ النَّبِيِّ ﷺ رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي زِيَارَةِ قَبْرِ أُمِّهِ.

ترجمه: ما د قبرونو د لیدني کتني څخه منع کړي واست، نو(اوس) د قبرونو لیدنه کتنه کوئ.

په بل حدیث کې د قبرونو د لیدني مقصد هم بیان سوی؛ ابوهریرهؓ وایي: زَارَ النَّبِيُّ ﷺ قَبْرَ أُمِّهِ فَبَكَى وَأَبْكَى مَنْ حَوْلَهُ فَقَالَ اسْتَأْذَنْتُ رَبِّي فِي أَنْ أَسْتَغْفِرَ لَهَا فَلَمْ يُؤْذَنْ لِي وَاسْتَأْذَنْتُهُ فِي أَنْ أَزُورَ قَبْرَهَا فَأُذِنَ لِي فَزُورُوا الْقُبُورَ فَإِنَّهَا تُذَكِّرُ الْمَوْتَ(١).

ترجمه: پیغمبرﷺ د خپلي مور د قبر لیدنه وکړه، نو وئې ژړل او هغه خلک ئې هم وژړول چي په شاوخوا کی ئې وه، و ئې ویل: خپل د رب څخه مي په دې کي اجازه وغوښتل چي دې (خپلي مور) ته بخښن وغواړم، نو اجازه ئې را نکړه او په دې کي مي اجازه ورڅخه وغوښتل چي د دې قبر ووینم نو اجازه راکړه سوه، نو د قبرونو لیدنه کوئ؛ ځکه هغه مرګ په یاد راولي.

په دې حدیثونو کي مقصد مرګ په یادول ښودل سوی چي دا د عامو قبرونو په لیدلو لاسته راوړل کیږي. دا پکښي نسته ته چي د زیارتونو په نامه د یو څو خلکو جوړ سوو قبرونو ته ورځئ کوم چي خلک د زیارت په پلمه نور امیدونه او هیلي ورڅخه لري.

په دې حدیثونو کي دا هم ښودل سوي چي پیغمبران د الله د خوښي پرته د زور شفاعت نه سي کولای؛ لکه څرنګه چي د ابراهیمؑ غوښتنه د هغه د پلار په هکله نه ده منل سوې؛ الله وایي: ﴿وَمَا كَانَ ٱسۡتِغۡفَارُ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوۡعِدَةٖ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ

١- صحیح مسلم کتاب الجنائز بَاب اسْتِئْذَانِ النَّبِيِّﷺ رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي زِيَارَةِ قَبْرِ أُمِّهِ.

أَنَّهُۥ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُۚ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٌ ﴿١١٤﴾ [التوبة: ۱۱۴]. ترجمه: «د ابراهيم بخښنه غوښتنه د خپل پلاره لپاره د بل څه لپاره نه وه پرته د يوې وعدې چي د هغه سره ئې کړې وه، نو چي کله ابراهيم ته دا ښکاره سوه چي پلار ئې د الله دښمن دی ورڅخه بېزاره سو؛ بې شکه چي ابراهيم خامخا زړسواندي صبرناک دی»[1].

دا رنګه د نوح عليه السلام غوښتنه د هغه د زوی په هکله نه ده منل سوې؛ الله وايي: ﴿وَنَادَىٰ نُوحٌ رَّبَّهُۥ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ٱبْنِي مِنْ أَهْلِي وَإِنَّ وَعْدَكَ ٱلْحَقُّ وَأَنتَ أَحْكَمُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿٤٥﴾ قَالَ يَٰنُوحُ إِنَّهُۥ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَۖ إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيْرُ صَٰلِحٍۖ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌۖ إِنِّيٓ أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٤٦﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْـَٔلَكَ مَا لَيْسَ لِي بِهِۦ عِلْمٌۖ وَإِلَّا تَغْفِرْ لِي وَتَرْحَمْنِيٓ أَكُن مِّنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٤٧﴾﴾ [هود:۴۵-۴۷].

ترجمه: «نوح خپل رب ته ناري کړه نو وئې ويل: اې زما ربه! زما زوی بې شکه زما د کورنۍ څخه دی او ستا وعده يقينا حقه ده او ته په فيصله کوونکو کي تر ټولو ښه فيصله کوونکی يې. الله وفرمايل: اې نوح! يقيني خبره ده چي دی ستا د کورنۍ څخه نه دی، داسي غوښتنه سم کار نه دی؛ نو داسي شی مه را څخه غواړه چي تا ته د هغه علم نه وي، زه دي يقينا د دې څخه منع کوم چي د ناپوهانو د ډلي سې. ده وويل: اې زما ربه! زه په تا پناه غواړم د دې څخه چي داسي شي درڅخه وغواړم چي علم ئې راته نه وي، که ته بخښنه راته ونه کړې، رحم راباندي ونکړې زه د زيانمنو څخه کيږم».

۱- د نور تفصيل لپاره وګوره: سورة مريم ۴۲-۴۵ صحيح البخاري کتاب التفسير تفسير سورة الشعراء بَاب ﴿وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ ﴿٨٧﴾﴾، کتاب أحاديث الأنبياء باب بَاب قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى ﴿وَٱتَّخَذَ ٱللَّهُ إِبْرَٰهِيمَ خَلِيلًا ﴿١٢٥﴾﴾.

﴿قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَٰعَةُ جَمِيعٗاۖ﴾ [الزمر: ۴۴]. ترجمه: «ووايه: شفاعت ټول د الله په اختيار کي دی».

﴿يَوۡمَئِذٖ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ إِلَّا مَنۡ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُۥ قَوۡلٗا ١٠٩﴾ [طه: ۱۰۹].

ترجمه: «په دغه ورځ شفاعت فايده نه کوي مګر هغه چا ته چي لوی مهربان (الله) د هغه په هکله اجازه کړې او وينا ئې خوښه کړې وي».

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ فِيهِمَا مِن شِرۡكٖ وَمَا لَهُۥ مِنۡهُم مِّن ظَهِيرٖ ٢٢ وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنۡ أَذِنَ لَهُۥۚ﴾ [سبأ: ۲۲-۲۳].

ترجمه: «ووايه: بغير د الله هغه کسان را وبلل چي تاسو ګمان پر کړی؛ هغوی نه په آسمان کي د يوې ذرې څښتنان دي، نه په ځمکه کي، نه دوی ته په آسمان او ځمکه کي څه حصه داري سته، نه الله ته د دوی کوم ملاتړی سته او نه د هغه په حضور کي سپارښتنه چا ته فايده کوي د هغه چا پرته چي ده اجازه ورته کړې وي».

پيغمبر ﷺ ته هم الله وايي: ﴿لَيۡسَ لَكَ مِنَ ٱلۡأَمۡرِ شَيۡءٌ﴾ [آل عمران: ۱۲۸].

ترجمه: «تاته د دې کار هيڅ اختيار نسته».

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٢٥٥﴾ [البقرة: ۲۵۵].

ترجمه: «الله هغه ذات دی چي له ده پرته بل د بندګۍ حقدار نسته، همغه ژوندی انتظام چلوونکی ذات، نه ئې پرکالي نيسي او نه خوب، هغه هرڅه د ده دي چي په آسمانو کي دي او چي په مځکه کي دي، دا به څوک وي چي د ده له اجازې پرته د ده په وړاندي سپاربنتنه او شفاعت وکړی سي، په داسي حال کي چي دی په هر هغه څه پوهېږي چي د دوی مخ ته يا ئې شا ته دي او دوی د ده له علم څخه يوازي دومره څه ته رسېدلی سي چي دی ئې وغواړي،کرسۍ ئې پر آسمانو اومځکي را ګرځېدلې او د مځکي او آسمانو ساتنه ئې نه ستړی کوي او هغه لوی لوړ ذات دی».

## د اسلام د نظره ولي څوک دی؟ کوم څه کولی سي؟

الله وايي: ﴿أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٦٢ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ٦٣ لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ لَا تَبۡدِيلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٦٤﴾ [يونس: ۶۲-۶۴].

ترجمه: «خبرسئ! بې شکه د الله پر دوستانو نه بېره سته، نه دوی غمجنان کېږي، دوی هغه کسان دي چي ايمان ئې راوړی او پرهېزګاري ئې کوله (د الله د مخالفته ئې ځان ساتی)، دوی ته په دنيا او آخرت کي زيری دی، د الله د خبرو بدلېدل نسته، دا لويه بريا ده».

### د زېري تفسير:

﴿وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ﴾ [البقرة: ۲۵].

ترجمه: «او هغه خلکو ته چي ايمان ئې راوړی او نيک عملونه ئې کړي د دې خبري زېری ورکه چي دوی ته داسي جنتونه په برخه دي چي ولې تر لاندي بهېږي».

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قِيلَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَأَيْتَ الرَّجُلَ يَعْمَلُ الْعَمَلَ مِنْ الْخَيْرِ وَيَحْمَدُهُ النَّاسُ عَلَيْهِ قَالَ: «تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤْمِنِ»[1].

---

۱- صحيح مسلم كتاب البر والصلة بَاب إِذَا أُثْنِيَ عَلَى الصَّالِحِ فَهِيَ بُشْرَى وَلَا تَضُرُّهُ.

ترجمه: ابوذر رضي الله عنه وايي: پیغمبر ﷺ ته وویل سوه: د هغه سړي په هکله خبر راکړه چي د ښو کار کوي او خلک پر هغه د ده ستاینه کوي؟ ده وویل: دا وایمان والا ته عاجل (چابک) زیری دئ.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسْتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحْزَنُواْ وَأَبْشِرُواْ بِٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾ نَحْنُ أَوْلِيَآؤُكُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِىٓ أَنفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴿٣١﴾﴾ [فصلت: ۳۰-۳۱].

ترجمه: «هغه کسانو چي ویلي دي: زموږ رب الله دی، بیا ئې استقامت کړی (پر ایمان سم سیده پاته سوي)، بې شک ملائک پر نازلیږي چي (وايي): مه بېرېږئ، مه غمجن کېږئ او په هغه جنت خوشحاله وسئ چي وعده ئې درسره کېدل، موږ په دنیوي ژوند کي هم ستاسو دوستان یو او په آخرت کي هم او تاسو ته هغه څه پکښې سته چي ستاسو زړونه شوق ورته کوي او تاسو ته هغه څه پکښې سته چي تاسو ئې غواړئ».

﴿ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَٰمٌ عَلَيْكُمُ ٱدْخُلُواْ ٱلْجَنَّةَ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٣٢﴾﴾ [النحل: ۳۲].

ترجمه: «دا متقیان هغه کسان دي چي ملائک د دوی روح قبضوي په داسي حال کي چي وايي: پرتاسو دي سلامتیا وي؛ جنت ته داخل سئ د هغه عمل په وجه چي تاسو کوی».

﴿لَا يَحْزُنُهُمُ ٱلْفَزَعُ ٱلْأَكْبَرُ وَتَتَلَقَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ هَٰذَا يَوْمُكُمُ ٱلَّذِى كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿١٠٣﴾﴾ [الأنبياء: ۱۰۳].

ترجمه: «لويه بېره دوی نه غمجن کوي او ملائک د دوی سره ملاقات کوي (وايي) دا ستاسو هغه ورځ ده چي وعده ئې درسره کېدل».

## هر مؤمن د الله ولي دی:

الله د دين په لحاظ انسان دوه ډوله وېشلی دئ: مؤمن او کافر. په دې هکله الله تعالی وايي:

﴿إِنَّا هَدَيْنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا ۝٣﴾ [الدهر: ۳].

ترجمه: «انسان ته مي يقيناً لاره ور ښوولې ده چي يا احسان منونکی(مؤمن) دئ يا ناشکره».

نو که مؤمن وي، خو د الله دوست دئ؛ الله وايي:

﴿وَٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۝٦٨﴾ [آل عمران: ۶۸].

ترجمه: «الله د ايمان لرونکو دوست دی».

﴿ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُخْرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَوْلِيَآؤُهُمُ ٱلطَّٰغُوتُ يُخْرِجُونَهُم مِّنَ ٱلنُّورِ إِلَى ٱلظُّلُمَٰتِۗ أُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ۝٢٥٧﴾ [البقرة: ۲۵۷].

ترجمه: «الله د هغه خلکو دوست دی چي ايمان ئې راوړی؛ د تيارو څخه ئې رڼا ته را باسي او د کافرانو دوستان هغه طاغوتان دی (چي د بندګي د حده ئې د الله حق ته تېری کړی)، د رڼا څخه ئې تيارو ته راباسي، دا خلګ د اور اوسېدونکي دي، دوی په هغه کي تلپاتي دي».

لنډه دا چي قرآن هر با ايمانه انسان د الله دوست بولي، چي څوک د الله ولي نه وي، هغه مسلمان نه دی؛ ځکه د ولي معنی ده دوست، نو څوک چي د الله دوست نه وي، بلکي دښمن ئې وي هغه کافر دی؛ ځکه الله وايي:

﴿فَإِنَّ ٱللَّهَ عَدُوٌّ لِّلۡكَٰفِرِينَ ٩٨﴾ [البقرة: ۹۸].

ترجمه: «بې‌شکه الله د کافرانو دښمن دی».

قرآن دا نه مني چي د الله وليان (دوستان) د پيرانو په نامه يو څو ټکماران دي او نور خلګ د الله دښمنان دي. بلکي قرآن هر مؤمن (ايمانداره انسان) د الله ولي بولي. څوک چي د خپلي خاصي اصطلاح سره سم ځان ته د ولايت دعوه کوي، هغه ته وايو چي تاسو د چا د لوري مور ته په وليانو معرفي سوي ياست؟ چا ولايت په تاسي پسې خاص کړی دئ؟ که تاسو ولي ومؤمن ته واياست لکه څرنګه چي قرآن وايي، نو ايمان خو يوازي ستاسو ټيکه نه ده. په دې کي تاسو څه امتيازات غواړئ. که ولي د پير په معنی اخلئ، د قرآن په ژبه کي ولي د پير په معنی نه دی کارول سوی. پير په فارسي ژبي کي زاړه ته وايي، خو خلګ چي اوس پير ته د شريف، مشر او ښه انسان عقيده لري، په دغه معنی په فارسي ژبي کي هم نه دی کارول سوی، بلکي په دغه معنی پير (peer) د انګليسي ژبي اخيستل سوی؛ تاسو د انګليسي ژبي په قاموسونو کي د (peer) لفظ تشريح کتلای سئ. داسي شی به څرنګه د اسلام برخه وي چي د اسلام په ژبه کي د هغه توري يا خو د لويه سره ياد سوي نه وي لکه: پير (peer) چشتي وغيره؟ اوکه دې ته ورته تورو ياد سوي هم وي نو هغه په بدو ياد سوي دي او غندلي ئې دي. دا همغه د تېرو لار ورکو خلګو د ځانه جوړ سوي شيان دي چي قرآن کريم د هغه په هکله وايي: ﴿ثُمَّ قَفَّيۡنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِرُسُلِنَا وَقَفَّيۡنَا بِعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡإِنجِيلَۖ وَجَعَلۡنَا فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ رَأۡفَةٗ وَرَحۡمَةٗۚ وَرَهۡبَانِيَّةً ٱبۡتَدَعُوهَا مَا كَتَبۡنَٰهَا عَلَيۡهِمۡ إِلَّا

ٱبۡتِغَآءَ رِضۡوَٰنِ ٱللَّهِ فَمَا رَعَوۡهَا حَقَّ رِعَايَتِهَاۖ فَـَٔاتَيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۡهُمۡ أَجۡرَهُمۡۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ﴿٢٧﴾ [الحدید: ۲۷].

ترجمه: «بیا مي د دوی پر لاره زما نور پېغمبر ان ورپسې کړه، عیسی د مریمي زوی مي هم ورپسې کړ، انجیل مي ورکړ او د هغه خلکو په زړنو کي نرمي او رحمت واچوی چي د ده پیروی ئې کړې ده او ملنګي (پیري، مریدي او تصوف) دوی د ځانه جوړ کړه، ما وربانديي فرض کړې نه وه، لیکن د الله د رضا لټولو لپاره (دوی شروع کړه) نو د هغې سم رعایت ئې ونکړای سو، نو د دوی هغه خلکو ته مې اجر ورکړ چي ایمان ئې راوړ او د دوی ډېری بې امري کوونکي دي».

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡأَحۡبَارِ وَٱلرُّهۡبَانِ لَيَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۗ وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٣٤﴾ [التوبة: ۳۴].

ترجمه: «اې مؤمنانو! بې شکه ډېر ملایان اوپېران د خلکو مالونه په باطله خوري او د الله د دین څخه مخنیوی کوي او هغه کسانو ته د دردوونکي عذاب خبر ورکړه چي سره اوسپین زر خزانه کوي او دالله په لار کي ئې نه لګوي».

دا آیتونه په څرګند ډول وایي چي په اسلام کي هیڅ ډول رهبانیت نسته. رهبانیت هغه څه دئ چي نن ئې خلک د تصوف، پیرۍ او مریدۍ په نامه پېژني. تصوف د صوف څخه جوړ سوی لفظ دئ چي په پښتو کي وړۍ ورته ویل کېږي، صوفي یعني وړکین. دا خبره غلطه ده چي وایي: تصوف د صفا معنی لري. ځکه د صفا مینځ صحیح حرف دئ، د صاد او فا تر مینځ حرف علت (واو) نه لري. د تصوف د صاد او فا په مینځ کي همغه واو دئ چي د صوف د صاد او فا تر

مينځ دئ چي په صرفي قانون کي دې ته اجوف وايي. د اجوف معنا ده مينځ تشی؛ ځکه مينځ ئې حرف علت لري او د صحيح حرف څخه تش دئ. د صوفي مينځ هم داسي د صحت څخه تش دئ. په آخر کي داسي نسبتي يا لري لکه د سود په آخره کي چي نسبتي يا زياته سي، سودي ورڅخه جوړ سي، خو غرضي او مرضي خلګ د صفا او صوف توپير نه کوي لکه د سودا او سود توپير چي څوک نه کوي، حال دا چي الله سودا روا کړې ده او سود ئې حرام کړی دئ. د تصوف دا غورځنګ په اسلامي سيمو کي اول د زهد، تقوا او د الله څخه د وېري په نامه شروع سوی دئ. داسي دعوت به ئې خلګو ته ورکوی چي ښايسته جامې مه اغوندئ، د وړيو جامې اغوندئ. نو دا د اسلام په نامه د همغه رهبانيت بيا رغونه ده چي د وېري معنا لري او د الله د رضا د لټولو په خاطر شروع سوی وو. خو د الله د لوري نه دئ تاکل سوی. بلکي خلګو د ځان جوړ کړی دئ. پېغمبرﷺ خلګ د دې څخه منع کړي دي چي دځانه دين جوړ کړي؛ په دې هکله دهﷺ ويلي: «مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ. وفي لفظ: مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ فِيهِ فَهُوَ رَدٌّ»(١).

---

١- صحيح مسلم كتاب الأقضية باب نقض الأحكام الباطلة: 1718. صحيح البخاري كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة، باب: إذا اجتهد العامل أوالحاكم، فأخطأ خلاف الرسول من غيرعلم، فحكمه مردود. وكتاب الصلح باب إذا اصطلحوا على صلح جور فالصلح مردود: 2697.

دا حديث ښيي چي بدعت هغه ديني کار ته ويل کېږي چي د پېغمبرﷺ حکم ورباندي نه وي او پېغمبرﷺ هم وايي: «وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ». (صحيح مسلم

ترجمه: څوک چي داسي کار وکړي چي پر هغه زموږ حکم نـه وي نو هغه مردود دی.

څوک چي زموږ په دین کي هغه څه نوی پیداکړي چي په هغه کـي نه وي، نو هغه مردود (غیرقابل قبول) دی.

که کومه ښه خبره تصوف تـه د پـوښ پـه ډول کـارېږي، هغـه د ده کمال نه دئ، بلکي ئې د قران او سنت څخه اخیستي دي. تر قرآن او سنت چي اضافه کوم څه پکښې وي، هغـه مـردود دئ. داسـي شـی د الله دین نه سي کېدی چي د الله د حکم بغیر جوړ سوی وي، د قـرآن اوسنت بغیر منځ ته راغلی وي.

* پـه اسـلام کـي د پیغمبـرﷺ او د هغـه د خلیفـه (ځـای ناسـتي مسلمان حاکم) پرته د بل چا سره د شرعي بیعت په نوم تړون نسـته؛ ځکه د پیغمبرﷺ په ټـول ژونـد کـي د ده کـوم صـحابي د ځـان لپـاره بیعت نه دی اخیستی، د پیغمبرﷺ د وفات وروسـته تنهـا یـوه خلیفـه خپل د حاکمیت په دور کي بیعت اخیستی، په دغه وخت کي بل چـا د ځان لپاره د بیعت اخیستلو اجازه نه درلوده؛ ځکه پیغمبرﷺ ویلـي: «إِذَا بُويِعَ لِخَلِيفَتَيْنِ فَاقْتُلُوا الْآخَرَ مِنْهُمَا»[1].

ترجمه: چي کله د دوو حاکمانو سره (یوځای) بیعت وسـي نـو د دوی هغه بل (وروستنی) ووژنئ.

---

کتاب الجمعة باب تخفیف الصلاة والخطبة ۸٦۷).ترجمه: او هر بدعت ګمراهي ده.

نو څوک چي د پیغمبرﷺ په حکم شی بدعت ګني او حسنه ئې هم بولي، نو معنا ئې ښه ګمراهي ده.

۱- صحیح مسلم كِتَاب الْإِمَارَةِ بَاب إِذَا بُويِعَ لِخَلِيفَتَيْنِ.

بیعت په اسلام کي هغه تړون ته وایي چي د پیغمبرﷺ یا د هغه د ځای ناستي (خلیفه) او د خلکو ترمینځ کېدی د دې لپاره چي خلک د قرآن او سنت د حکومت د فرمانبرداری لوظنامه وکړي. که صوفیان د ځان لپاره د مریدانو څخه په بیعت اخیستلو کي د پیغمبر ﷺ په بیعت دلیل نیسي، نو پیغمبرﷺ خو په یوه وخت کي د دوو بیعت اخیستونکو څخه وروستنی د وژني مستحق بولي، نو صوفیان باید خپل وروستني پیران تړول ووژني تنها اولنی پیر پرېږدي تر څو هغه د قرآن اوسنت سره سم د مسلمانانو مشروع خلیفه (حاکم) و بلل سي.

* په قرآن اوسنت کي چي الله خپل د قدرت نښانې پر خپلو بندګانو ښکاره کړي همغسي حق دي، په هغه اندازه چي په قرآن اوسنت کي ثبوت لري، مثلاً: د اصحاب کهف د ساتني په هکله الله وایي:

﴿ذَٰلِكَ مِنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ﴾ [الکهف: ۱۷].

ترجمه: «دا د الله د نښانو څخه دي».

الله دا ډول کارونه خپل د قدرت نښانې بللي دي. داسي شیانو ته د ولي د کرامت نوم ورکول بیا د هغه تر نامه لاندي هرڅه ګُربزي (قاچاغ) تېرول د خلکو د خپل ځانه خبره ده، په قرآن اوسنت کي ثبوت نه لري. په قرآن کریم کي دا سته چي مریم ته جبریل؊ راغلی، خبري ئې ورسره وکړې، زیری ئې ورکړ چي الله تعالی

عيسیٰ ﷺ د مېړه بغيره درکوي او همداسي وسوه[۱] که څوک دې ته د کرامت نوم ورکوي بيا نور ورباندي قياسوي، نو چي اوس ښځي بې مېړه اولادونه راوړي او د کرامت دعوه وکړي او دا لا هم ووايي چي: جبريل مي وليدی، خبري ئې را سره وکړې، زيری ئې راکړ، بايد دوی هغه ورسره ومني. که دلته قياس نه کوي، نور ځايونه دي هم کرامتونه په اټکلونو اوقياسونو نه ثابتوي؛ ځکه دا د عقيدې مسئله ده، قاطع دليل ته اړتيا لري.

* د پيغمبرانو معجزات کله د هغو پر نژدو شيانو هم ښکاره کېدلي لکه د موسیٰ ﷺ لکړه[۲] هغه د درختي بدنه (ستون) چي پيغمبر ﷺ خطبه پر ويل، چي کله ده خطبه پر منبر شروع کړه، د هغې څخه د ژړا په شان اواز اورېدل سوی[۳]. دا خو د الله د لوري د خپل نبي معجزه ښکاره کول دي، اوس که خلک وايي: دا د درختي کرامت دی، نو دا د خلکو خپل د ځانه خبره ده. دارنګه د سبأ د ښار د ملکې د تخت په هکله قرآن کريم وايي: ﴿فَلَمَّا رَءَاهُ مُسْتَقِرًّا عِندَهُۥ قَالَ هَٰذَا مِن فَضْلِ رَبِّي لِيَبْلُوَنِيٓ ءَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ﴾ [النمل: ۴۰].

ترجمه: «نو چي کله سليمان هغه تخت خپل په خوا کي قرار نيوونکی وليدی، وئې ويل: دا زما د رب د فضل څخه دئ د دې د لپاره چي ما وازمايي چي زه ئې د احسان منه کوم او که ناشکري کوم».

---

۱- د تفصيل غوښتونکي د سورة آل عمران 45-47، او د سورة مريم 19- 32 نمبر آيتونو ته مراجعه کولای سي.

۲- په دې اړه د سورة طه: ۱۷- ۲۱، سورة نمل: ۱۰، سورة القصص: ۳۰ - ۳۱ نمبر آيتونه وګوره.

۳- صحيح البخاري کتاب الجمعة بَاب الْخُطْبَةِ عَلَى الْمِنْبَرِ.

داسي کار خو د قرآن په ګواهي سليمانعليه السلام پر خپل ځان د الله فضل بللی دئ. اوس که دې ته خلک د بل چا د کرامت نوم ورکوي، دا د هغو خپله خبره ده، کوم دليل نه لري. خو بيا هم تنها د کرامت پر لفظ اختلاف مقصود نه دئ، بلکي په دې ځان پوهول اړين کار دئ چي آيا کرامت کوم حد او اندازه لري، که تر دې نامه لاندي هر څه کېږي؟ آيا تردې نامه لاندي هغه کارونه کېدی سي چي الله په ځان پسې خاص کړي وي؛ لکه علم غيب (په پټو شيانو خپله پوهېدل) او بغير د اسبابو چا ته ضرر يا نفع رسوَل او داسي نور، يا ئې په پېغمبر پسې خاص کړي وي؛ لکه د وحي په ذريعه په پټو شيانو خبرول؟ دا څرنګه د بزرګانو کرامتونه دي چي کله کافران د مسلمانانو پر ملکونو حملې شروع کړي د يو کرامت د هغو په مقابل کي کار نه کوي، تنها د دوی کرامت پر غريبو ساده‌ګانو کار کوي؟ دې بزرګانو تر اوسه په دې ملکونو کي نه يو معدن کشف کړ، نه د تېلو کومي ذخيرې دوی وښودلې، نه بل داسي کان دوی ښکاره کړ چي د الله تعالی غريب مخلوق ته څه آساني راسي، حتی دا ئې هم ونکړه چي دغه پټ سوي ماينونه کشف کړي. په لنډو ټکو کي ورته وايو: دعوې او خيالات پرېږدئ، عملي واقعيت ته راسئ کوم کرامت مو تر اوسه ښکاره کوئ چي درسره وئې منو؟ دا ستاسو کرامتونه په کومي سختي کي په کارېږي؟

## د وسيلې تفسير:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱبۡتَغُوٓاْ إِلَيۡهِ ٱلۡوَسِيلَةَ وَجَٰهِدُواْ فِي سَبِيلِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۝٣٥﴾ [المائدة: ۳۵].

ترجمه: «اې مؤمنانو د الله څخه وبېرېږئ، ده ته نژدېتوب وغواړئ او د دين لپاره ئې جهاد وکړئ ګوندي بريالی سئ».

کومه وسيله چي قرآن ياده کړې هغه فرض ده، د دغي قرآني وسيلې په هکله د نا روا ويلو خبره په اسلام کي ځای نه لري. د دې په هکله دا وضاحت په کار دی چي دا خو په قرآني امر ثابت حکم دی. نو آيا د الله پېغمبر ﷺ دغه قرآني حکم خپله او په خپل ملګرو پوره عملي کړی وو، که نه؟ چي څرنګه ئې عملي کړی وو، بس همغه د دې قرآني حکم تفسير دی چي د پېغمبر ﷺ څخه په قطعي ډول ثبوت ولري چي ده وخپل رب ته د عبادت په توګه کړی او په خپلو ملګرو ئې عملي کړی؛ لکه څرنګه چي په همدې آيت کي د دې وسيلې د حکم مخ او شاته دا خبره ياده سوې ده. د الله سره د نژدېتوب، ميني او دوستۍ په هکله قرآن داسي وايي: ﴿قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣١ قُلۡ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٣٢﴾ [آل عمران: ۳۱-۳۲].

ترجمه: «ووايه: که تاسي د الله سره مينه کوئ (ځانو ته د الله دوستي غواړئ) نو زما پيروي کوئ ، الله به مينه درسره وکړي او ګناهونه به مو در وبخښي اوالله بخښونکی مهربان دی. ووايه: د الله او پېغمبر خبره ئې ومنئ (په قرآن اوسنت عمل وکړئ)، که دوی (بلي خوا ته) مخ واړوی نو الله د دا کافرانو سره محبت نه کوي».

قرآن کريم الله ته د ځان نـژدې کولـو لار يـوازي د پېغمبـر پيـروي ښودلي چي په اسلام عمل دی، نه بل څه.

که څوک په دې قناعت نه کوي هغه ته وایو: ته دا آیت څرنګه تفسیر کوې؟

1- آیا داس ئې تفسیر کوې چې الله ته نژدېتوب وغواړئ څرنګه چې ستاسو خوښه وي ؟

2- که ئې داسي تفسیر کوې چې الله ته نژدېتوب وغواړئ څرنګه چې الله او پېغمبر درته بیان کړي وي؟ که اول تفسیر څوک غوره کړي بیا خو په دنیا کي د هیڅا وسیلې ته نا روا نه سي ویلای؛ مثلا: شیعګان چې د عاشوراء په ورځ ځانونه په ځنځیرانو وهي یا نور څه کوي په دې کار خپل د خوښي مطابق ځانونه الله ته نژدې کول غواړي، نو آیا دا کار سم دی؟

دا تفسیر د هغه آیتونو خلاف هم دی چې د مشرکینو پر خود ساخته وسیلو رد کوي؛ لکه د سورة الزمر ۳ نمبر آیت او داسي نور چې مخکي تېر سوه، د وسیلې دا تحریف سوې معنی داسي ده لکه د عمل صالح په اړه چې یو څوک غلط تصور لري، رقص کوي، ډول یا دیره وهي وایي: الله ویلي: عمل صالح کوئ. هغه ته هر هوښیار، په اسلام پوه انسان دا جواب کوي چې امر په عمل صالح الله کړی، خو دا ئې نه دي ویلي چې د عمل صالح یوه برخه رقص هم دی، رقص یا بل حرام کار په عمل صالح کي شمارل ستاسو د لوري زیاتوالی دی، نه دا چې د قرآن حکم دی. نور که هر څوک کوم مجهوله روایت وړاندي کړي نو د هغه څخه دا غوښتنه ده چې سند ئې هم راوړه او د راویانو حالت (توثیق او تأیید) ئې هم د جرح او تعدیل د کتابونو څخه بیان کړه؛ ځکه الله وایي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ فَتَبَيَّنُوٓاْ﴾ [الحجرات: ۶].

ترجمه: «اې مؤمنانو! که فاسق يو خبر درته راوړی نو وضاحت ئې وغواړئ (تحقيق ئې وکړئ)».

﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَـٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا ﴿٣٦﴾﴾ [الإسراء: ٣٦].

ترجمه: «په هغه شي پسې مه ځه چې علم نه په لرې؛ غوږ، سترګه او زړه، د دې ټولو څخه انسان يقينا مسؤول دئ».

د انسان څخه حتمًا پوښتنه کيږي چې الله ده ته د علم اسباب: غوږونه، سترګي او د زړه فکر د دې لپاره ورکړي چې دی ځان پوه کړي او بې علمه په شي پسې ولاړ نه سي، ده ولي دغه اسباب د خپل اصلي مقصد (سمي پوهي) لپاره نه دي کارولي او بې تحقيق ئې خبري منلي دي ؟

د دې آيتونو په اساس مجهول (نامعلومه) شي دليل نه دئ؛ که څوک حديث په دليل کي راوړي هغه به د حديثو د اصولو سره سم معلوموي، بيا به ئې راوړي.

## يوازي الله تر اسبابو پورته کارونه کولی سي:

﴿إِنَّمَآ أَمْرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيْـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾﴾ [يس: ٨٢].

ترجمه: «د الله کار يوازي دا دی چې کله د يو شي اراده وکړي ورته وايي: وسه، نو هغه کيږي».

د مکې مشرکان الله په دغه وجه غندلي چې د دوی د معبودانو سره داسي څه نسته چې هغه کارونه وکولی سي چې دوی ئې ځيني غواړي.

کوم کارونه چي تر هغه اسبابو لاندي وي چي په روښتيا اسباب وي لکه د سترګو ليدلي اسباب يا د قرآن اوسنت په اصطلاح کي اسباب، نو په داسي ځايو کي يو د بل څخه مرسته غوښتل روا ده، بلکي د نيکۍ او ديندارۍ پرکارونو يو د بل سره مرسته کول ضروري ده؛ ځکه الله وايي:

﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ﴾ [المائدة:٢].

ترجمه: «پر نېکۍ او پرهېزګارۍ مرسته سره کوی او پر ګناه اوظلم مرسته مه سره کوی».

که څوک په دې ځان پوهول غواړي چي په اسبابو کي د مخلوق څخه مرسته غوښتل کېږي او تر اسبابو پورته تنها د الله څخه مرسته غوښتل کېږي، نو د دې وضاحت د لارو يوه ښه لاره دا ده چي انسان د الله د پېغمبرانو هغه يقيني کړن لاره وګوري چي په قرآن يا نبوي سنت کي ثابته ده، په دې اړه د ټولو دا خلاصه ده چي پېغمبرانوعليهم السلام په اسبابو کي هم خپل د ملګرو سره مرسته کول او هم ئې مرسته ورڅخه غوښتل، خو دا يو ځای نه ده ثابته چي دوی يو بل ننګولي وي، داسې ويلي وي: يا فلانيه را ورسېږه، المدد يا رسول الله! يا هغو خپلو ملګرو ته داسي وروښوولي وي يا دوی داسي مرسته ځيني غوښتې وي؛ د دې لپاره دا يو څو بېلګي دي: الله تعالى د موسىعليه السلام په هکله وايي: ﴿وَدَخَلَ ٱلۡمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفۡلَةٖ مِّنۡ أَهۡلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيۡنِ يَقۡتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَهَٰذَا مِنۡ عَدُوِّهِۦۖ فَٱسۡتَغَٰثَهُ ٱلَّذِي مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِي مِنۡ عَدُوِّهِۦ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيۡهِۖ﴾ [القصص: ١٥].

ترجمه: «موسى د ښار د واوسېدونکو د غفلت په وخت کي ښار ته ننوتی، دوه سړيان ئې ومونديل چي سره جنګېدل چي دا يو د موسى د ډلي

دی او دا بل ئې د دښمنانو څخه دی، نو هغه چا چي د ډلي څخه ئې دی د هغه چا پر ضد مرسته ورڅخه وغوښتل چي د دښمنانو څخه ئې دی، نو موسی په سوک ووهی او ختم ئې کی».

دلته دا خبره روښانه ده چي دې سړي موسیﷺ په غیاب کي نه دی ننګولی، بلکي چي ده هغه ولیدی مرسته ئې ورڅخه وغوښتل، د موسیﷺ په هکله هم قرآن دا نه دي ویلي چي د صوفیانو په ډول ئې سر ورته پټ کی او وئې چوی، بلکي په خپل بشري اسبابو ئې د خپل مظلوم ملګري دفاع وکړه، هغه ظالم ئې په لاس ووهی او وئې وژی.

د محمدﷺ د ژوند غټي ښایسته کارنامې خو په قرآن اوسنت کي زموږ مخ ته سته چي هغه د خپل ملګرو څخه د خیر په کارو کي مرسته غوښتل: لکه مسجد جوړول، د اسلام خپرول، د اسلام لپاره جهاد او داسي نور کارونه، خو دا یو ځای هم نسته چي هغه دوی ننګولي وي یا ئې دوی ته ویلي وي: که سخته دربانديي راغله ما ننګوئ، داسي وایاست: المدد یا رسول الله! د احد د پېښي په هکله قرآن کریم وایي: ﴿إِذۡ تُصۡعِدُونَ وَلَا تَلۡوُۥنَ عَلَىٰٓ أَحَدٖ وَٱلرَّسُولُ يَدۡعُوكُمۡ فِيٓ أُخۡرَىٰكُمۡ﴾ [آل‌عمران: ۱۵۳].

ترجمه: «چي کله په دښت کي روان واست او پر هیچا نه راتاوېدلاست او پیغمبر ستاسو د آخري خوا څخه نارې درته وهلې».

جَاءَ رَجُلٌ إِلَى الْبَرَاءِ فَقَالَ أَكُنْتُمْ وَلَّيْتُمْ يَوْمَ حُنَيْنٍ يَا أَبَا عُمَارَةَ فَقَالَ أَشْهَدُ عَلَى نَبِيِّ اللَّهِﷺ مَا وَلَّى وَلَكِنَّهُ انْطَلَقَ أَخِفَّاءُ مِنْ النَّاسِ وَحُسَّرٌ إِلَى هَذَا الْحَيِّ مِنْ هَوَازِنَ وَهُمْ قَوْمٌ رُمَاةٌ فَرَمَوْهُمْ بِرِشْقٍ مِنْ نَبْلٍ كَأَنَّهَا رِجْلٌ مِنْ جَرَادٍ فَانْكَشَفُوا فَأَقْبَلَ الْقَوْمُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِﷺ وَأَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ يَقُودُ بِهِ بَغْلَتَهُ فَنَزَلَ وَدَعَا وَاسْتَنْصَرَ وَهُوَ

يَقُولُ أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ ، اللَّهُمَّ نَزِّلْ نَصْرَكَ قَالَ الْبَرَاءُ كُنَّا وَاللَّهِ إِذَا احْمَرَّ الْبَأْسُ نَتَّقِي بِهِ وَإِنَّ الشُّجَاعَ مِنَّا لَلَّذِي يُحَاذِي بِهِ يَعْنِي النَّبِيَّ ﷺ[1].

ترجمه: يو سړی براء بن عازب رضي الله عنه ته راغلی وې ويل: اې ابوعماره صاحب! آيا تاسو د حنين د جنګ په ميدان کي دښمن ته شا کړه؟ ده وويل: د رسول الله په هکله خو زه دا ګواهي کوم چي دښمن ته ئې شا نه ده ګرځولې (نه دی تښتېدلی)، ليکن تلواريان خالي سلاح (بې وسلې) خلګ د هوازن دغه کلې ته ورغله او هغوی نښان ويشتونکی قوم وو، نو دوی ئې په داسي يوځايي غشو وويشتل ګويا چي د ملخانو را الوتی سيل (ټولی) دی، هغه د ميدانه سره ولاړه (ما ته ئې وخوړل)، نو دا کافرانو و رسول الله ﷺ ته مخ کی او د پيغمبر ﷺ د کاکا زوی ابو سفيان د رسول الله د غاتر جلو کشوی، رسول الله ﷺ را کښته سو او دعا ئې وکړه او مرسته ئې وغوښتل او ده ويل: زه پيغمبر يم په دې کي دورواغ نسته، زه د عبد المطلب زوی يم، اې الله ستا مرسته نازل کړې. براء صحابي وايي: قسم په الله چي کله به جنګ سور سو موږ به ځان په رسول الله ﷺ ساتی او يقينا زموږ لوی زړه ور به هغه څوک وو چي د رسول الله برابر ته ورتلی سو.

يعني هيڅوک هم په جنګ کي تر ده نه سو مخ ته کېدی، چا چي زړه ورتوب کوی نو د جنګ په خط کي د ده برابر ته ورتلی سو، خو تر رسول الله بل زړه ور نه دی مخ ته سوی، دلته ګورو چي وايي: موږ په سخت جنګ کي ځان په رسول الله ساتی، دا نه وايي چي

---

۱- صحيح مسلم كِتَاب الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَاب فِي غَزْوَةِ حُنَيْنٍ.
صحيح البخاري كتاب المغازي بَاب قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى وَيَوْمَ حُنَيْنٍ.

اوس هم ځانونه په ساتو. دا برعکس د هغه ځيني خلګو چې اوس د دې وطنو څخه هم چهار يار ته نارې وهي، حال دا چې قرآن (سورة الأنفال 9) اومتواتر سنت ګواهي کوي چې پيغمبرﷺ او يارانو ئې د الله څخه مرسته غوښتل.

دا حديث په هغه سخت حالت کي د اسلام د پيغمبرﷺ پياوړتيا او زړورتوب ښيي، دا نه ښيي چې صحابه د پيغمبر سره بيباکه وه، بلکي دا زړه ور مشر (پيغمبرﷺ) خپل ملګري داسي روزلي وه چې د اُحُد د جنګ په عملي ډګر کي ئې د هغه غشو مخ ته ځانونه هم سپر ونيول چې دښمن رسول الله په ويشتی ابو طلحةرضي الله عنه رسول اللهﷺ ته داسي ويل: ته دښمن ته ځان مه ښکاره کوه چې د دوی غشي درباندي لګيږي، زما سينه دي ستا د سيني د ساتني سپر وي. په دې اړه د صحيح البخاري الفاظ دا دي: وَيُشْرِفُ النَّبِيُّﷺ يَنْظُرُ إِلَى الْقَوْمِ فَيَقُولُ أَبُو طَلْحَةَ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي لَا تُشْرِفْ يُصِيبُكَ سَهْمٌ مِنْ سِهَامِ الْقَوْمِ نَحْرِي دُونَ نَحْرِكَ[۱].

---

۱- صحيح البخاري كتاب المغازي بَاب ﴿إِذْ هَمَّت طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ﴾.
صحيح مسلم كِتَاب الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَاب غَزْوَةِ النِّسَاءِ مَعَ الرِّجَالِ.

## د توحید شخه وروسته د رسالت بیان:

الله تعالی وایي:

﴿مُّحَمَّدٞ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ﴾ [الفتح: ۲۹].

ترجمه: «محمد د الله پېغامبر دی».

د اسلام په وروستي (محمدي) شریعت کي دا کلمه د توحید پسې فرض بلل سوې ده؛ «عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ إِنَّكَ سَتَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ فَإِذَا جِئْتَهُمْ فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ»[1].

ترجمه: ابن عباس رضي الله عنهما وایي: چي کله پېغامبر ﷺ معاذ بن جبل د یمن لوري ته ولېږی ورته وې ویل: بې شکه ته د اهل کتابو یو قوم ته ورځې، نو چي کله ورسې دوی و دې ګواهي ته دعوت کړه چي د الله پرته بل د بندګۍ حقدار نسته او محمد د الله پېغامبر دی، چي کله دوی د دې حکم درته ومنی نو خبر ورکه چي الله په هره ورځ او شپه

---

۱- صحيح البخاري كتاب الزكاة بَاب أَخْذِ الصَّدَقَةِ مِنْ الْأَغْنِيَاءِ وَتُرَدَّ فِي الْفُقَرَاءِ حَيْثُ كَانُوا.

کي پنځه لمونځه ورباندي فرض کړي، چي کله دوی د دې حکم درته ومنی نو خبره ورکه چي الله د دوی په مالو کي پر دوی زکات فرض کړی چي د شتمنو ئې اخيستل کېږي او فقيرانو ته ئې ورکول کېږي، نو چي کله دوی د دې حکم درته ومنی نو د خلګو د عزتمن (ښه) مالونو څخه ځان ساته (درميانه ځيني اخله) او د مظلوم د ښرا څخه ځان ساته؛ ځکه د هغه د داسي ښرا او د الله په مينځ کي د قبلېدو د مخنيوي شی نسته.

محمد رسول الله ويل ګران کار نه دی، کافران هم دا ويلای سي، خو د دې چي څه غوښتنه ده هغې ته هر سړی غاړه نه اېږدي، څوک په خوله د انکار جرأت کوي، څوک په يوه او بله بهانه ځان ځيني کاږي.

په لنډو ټيکو کي د دې کلمې معنی دا ده چي محمد د الله پيغامبر دی. که اوس څوک محمد د الله د پيغامبر په صفت و نه مني هغه سړی خپل په دې خبر کي هم دروغجن دی چي وايي: زه په الله ايمان لرم؛ ځکه داسي سړي د الله هغه خبره او ګواهي دروغ بللې چي محمد ﷺ ئې د ټولو خلګو لپاره آخري پيغامبر اعلان کړی؛ دا ځکه چي په ايمان کي د تصديق معنی نغښتې ده، د يو چا تصديق دا معنی لري چي هغه صادق روشتيني وبلل سي. چي څوک وايي: زه په الله ايمان لرم، د ده په خبرو کي دا مطلب راغلی چي زه د الله هره خبره روشتيا بولم، د الله د خبرو څخه دا خبري هم دي چي وايي:

﴿مُّحَمَّدٞ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ﴾ [الفتح: ۲۹].

ترجمه: «محمد د الله پيغمبر دی».

﴿قُلۡ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا﴾ [الأعراف: ۱۵۸].

ترجمه: «اې پېغامبره! ووايه: زه تاسو ټولو ته د الله پېغمبر یم».

﴿تَبَارَكَ ٱلَّذِى نَزَّلَ ٱلْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِۦ لِيَكُونَ لِلْعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ۝١﴾ [الفرقان: ۱].

ترجمه: «هغه الله برکت والا دی چي فرقان ئې پر خپل بنده نازل کړی د دې لپاره چي ټولو خلکو ته د عذاب خبروونکی سي».

﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ﴾ [الأحزاب: ۴۰].

ترجمه: «محمد ستاسو د سړو (بالغو نارينوو) هيڅ يوه پلار نه دی، خو د الله پېغام رسوونکی او د نبيانو آخري نبي دی».

د خاتم النبيين دا مطلب دی چي د ده وروسته بل څوک نوی نه پېغامبر کېږي؛ لکه څرنګه چي خپله پېغامبر ﷺ وايي: «لَا نَبِيَّ بَعْدِي»[۱]. ترجمه: زما وروسته هيڅ نبي نسته.

هغه څوک چي د ده تر مخه پېغامبران سوي، د هغو پېغامبري د ده په را تلو د مينځ نه ځي؛ بلکي ده د هغو تصديق کړی د هغه جملې څخه عيسیؑ هم دی چي د محمدﷺ د مخه پېغامبر سوی دی، د ده وروسته نوې پېغامبري نه ورکول کېږي.

په لنډ توګه د دې کلمې غوښتنه دا ده چي د الله د دين په نامه چي څه کېږي هغه به د همدې آخري پېغامبر د لاري کېږي، کوم څه چي دې پېغامبر ته نه رسي او د ده څخه ثبوت و نه لري: نه په قرآن کي،

---

۱- صحيح البخاري كتاب كِتَاب أَحَادِيثِ الْأَنْبِيَاءِ بَاب مَا ذُكِرَ عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ. صحيح مسلم كتاب الإمارة بَاب وُجُوبِ الْوَفَاءِ بِبَيْعَةِ الْخُلَفَاءِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ.

نه په سنت کي، هغه دين نه دی، کوم دين چي د هغه څخه ثابت وي غاړه ورته ايښول د هر عاقل بالغ انسان مسؤوليت دی.

د پيغامبر مطلب دا نه دی چي تنها دا لقب (د رسول نوم) ورته ومنل سي، بلکي د هغه فرمانبرداري ضروري ده، د دې خبري د ښه پېژندني تر ټولو ښه مرجع هغه قرآن کريم دی چي الله د هغه په وجه محمد ﷺ پيغامبر کړی دی، د بېلګي په توګه دي د قرآن دغه راتلونکي لارښووني وکتل سي چي لنډ عنوانونه ورسره دي:

## پيغمبر د اقتداء ښايسته نمونه ده:

﴿لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا ٢١﴾ [الأحزاب: ۲۱].

ترجمه: «بېشکه د الله په پيغمبر کي ستاسو د هغه چا لپاره د اقتدا ښه نمونه سته چي الله او د آخرت ورځي ته اميد لري».

د ﴿لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ﴾ يوه ډېره ګټوره جمله ده؛ ځکه د الله د پيغمبر ﷺ د حکم او سنت نه منلو جرأت هغه څوک نه سي کولای چي په الله اوقيامت ايمان او د راتلونکو خبرو عقيده لري:

﴿يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦﴾ [المطففين: ۶].

ترجمه: «کومه ورځ چي خلک ورب العالمين ته درېږي».

﴿فَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرۡسِلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٦﴾ [الأعراف: ۶].

ترجمه: «نو به خامخا د هغه چا پوښتنه کوو چي پيغام ورلېږل سوی او خامخا به ده پيغامبرانو هم پوښتنه کوو».

﴿وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ فَيَقُولُ مَاذَآ أَجَبۡتُمُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٦٥ فَعَمِيَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَنۢبَآءُ يَوۡمَئِذٖ فَهُمۡ لَا يَتَسَآءَلُونَ ٦٦﴾ [القصص: ۶۵-۶۶].

ترجمه: «کومه ورځ چي الله ورناري کي نو ووايي: پيغامبرانو ته تاسي څه جواب ورکړی؟ نو په دغه ورځ پر دوی خبرونه پوشتيده سي (جواب ځيني ورک سي)، نو پوښتنه يو د بله نه سي کولای».

﴿۞يَوۡمَ يَجۡمَعُ ٱللَّهُ ٱلرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَآ أُجِبۡتُمۡۖ قَالُواْ لَا عِلۡمَ لَنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ١٠٩﴾ [المائدة: ۱۰۹].

ترجمه: «کومه ورځ چي الله پيغمبران راجمع کړي نو وايي: څه جواب درکړه سوی، دوی وايي: موږ ته هيڅ علم نسته؛ بيشکه ته همدا ته په پټو ښه خبر يې».

﴿وَيَوۡمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيۡهِ يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي ٱتَّخَذۡتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلٗا ٢٧ يَٰوَيۡلَتَىٰ لَيۡتَنِي لَمۡ أَتَّخِذۡ فُلَانًا خَلِيلٗا ٢٨ لَّقَدۡ أَضَلَّنِي عَنِ ٱلذِّكۡرِ بَعۡدَ إِذۡ جَآءَنِيۗ وَكَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لِلۡإِنسَٰنِ خَذُولٗا ٢٩﴾ [الفرقان: ۲۷-۲۹].

ترجمه: «او کومه ورځ چي دا ظالم خپل پر دواړو لاسونو خوله لګوي وايي: اې کاشکي ما د رسول په ملګرتيا کي لار نيولې وای، اې کاشکي ما فلانی نه وای دوست کړی؛ بې شکه ده زه ګمراه کړم د نصيحت څخه روسته تر دې چي راته راغی، او شيطان د انسان ملاتړ نه کوونکی دی».

﴿يَوۡمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ يَقُولُونَ يَٰلَيۡتَنَآ أَطَعۡنَا ٱللَّهَ وَأَطَعۡنَا ٱلرَّسُولَا۠ ٦٦ وَقَالُواْ رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعۡنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَأَضَلُّونَا ٱلسَّبِيلَا۠ ٦٧ رَبَّنَآ ءَاتِهِمۡ ضِعۡفَيۡنِ مِنَ ٱلۡعَذَابِ وَٱلۡعَنۡهُمۡ لَعۡنٗا كَبِيرٗا ٦٨﴾ [الأحزاب: ۶۶-۶۸].

ترجمه: «کومه ورځ چي د دوی مخونه په اور کي اړول کيږي وايي: اې کاشکي موږ د الله او پيغمبر خبره منلې وای، دوی وايي: اې زموږ ربه

بېشکه موږ د خپلو سردارانو او مشرانو خبره ومنل؛ نو هغوی موږ د دې لارې بېلارې کړو، اې زموږ ربه دوی ته غبرګ عذاب ورکې او لوی لعنت ورباندې وکړې».

## پېغمبر ﷺ د خلکو لارښود او قرآن او سنت ئې تعلیمي نصاب دی:

﴿لَقَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ بَعَثَ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡ أَنفُسِهِمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ١٦٤﴾ [آل‌عمران: ١۶۴].

ترجمه: «بې‌شکه الله پر مؤمنانو احسان هغه وخت وکی چې په دوی کې ئې خپله د دوی څخه پېغمبر را ولېږی چې د الله آیاتونه ورباندې لولي، دوی پاک روزي او د کتاب اوسنت ښوونه ورته کوي، او یقینا دوی د مخه په ښکاره بېلارې کې وه».

﴿وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلذِّكۡرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ٤٤﴾ [النحل:۴۴].

ترجمه: «او تا ته موږ نصیحتي یادګار نازل کړی د دې لپاره چې ته خلکو ته هغه څه بیان کړې چې دوی ته نازل سوی او ګوندې دوی (هم) فکر وکړي».

﴿ٱتَّبِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ وَلَا تَتَّبِعُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۗ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ٣﴾ [الأعراف: ٣].

ترجمه: «د هغه څه تابعداري کوئ چې ستاسو د رب د لوري درته نازل سوی، او د هغه بغیر د نورو دوستان تابعداري مه کوئ، لږ څه مو په یاد کې پاته کېږي».

د ﴿مَآ أُنزِلَ﴾ تفسیر الله خپله داسې کړی:

﴿وَمَآ أَنزَلَ عَلَيۡكُم مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡحِكۡمَةِ يَعِظُكُم بِهِۦۚ﴾ [البقرة: ۲۳۱].

ترجمه: «او کوم څه چي الله دربانديي نازل کړي چي کتاب او سنت دی په هغه نصیحت درته کوي».

## د هدایت او د الله سره د مینې او دوستی شرط د پیغمبر ﷺ فرمانبرداري ده:

﴿وَإِن تُطِيعُوهُ تَهۡتَدُواْۚ﴾ [النور: ۵۴].

ترجمه: «که د پیغمبر فرمانبرداري وکئ (خبره ئې ومنئ) پر لار کیږئ».

﴿قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣١ قُلۡ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٣٢﴾ [آل عمران: ۳۱-۳۲].

ترجمه: «ووایه: که تاسي د الله سره مینه (محبت) کوئ نو زما تابعداري کوئ، الله به مینه درسره وکي، ګناهونه به مو وبخښي اوالله مهربان بخښونکی دی، ووایه: د الله او پیغمبر فرمانبرداري کوئ (خبره ئې منئ) نو که دوی پر شا وګرځیدل نو بیشکه الله دا کافران نه خوښوي».

## د رسول حکم د وحي څخه دئ:

﴿وَأَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ﴾ [النساء: ۱۱۳].

ترجمه: «الله پر تا کتاب او حکمت نازل کړی».

﴿إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۚ﴾ [الأنعام: ۵۰].

ترجمه: «زه د بل څه تابعداري نه کوم سوا د هغه څه چي ما ته وحي سوی».

﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ٣ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ٤﴾ [النجم: ٣-٤].

ترجمه: «دی د خواهشه وينا نه کوي، د ده وينا بل څه نه ده سوا د داسي وحي چي په پټه ورته رسول کېږي».

﴿وَمَا جَعَلۡنَا ٱلۡقِبۡلَةَ ٱلَّتِي كُنتَ عَلَيۡهَآ إِلَّا لِنَعۡلَمَ مَن يَتَّبِعُ ٱلرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِۚ﴾ [البقرة: ١٤٣].

ترجمه: «او هغه قبله چي ته ورباندي وې موږ د بل څه لپاره نه وه مقرره کړې سوا د دې چي هغه څوک ښکاره کړو چي د پېغمبر تابعداري کوي د هغه چا څخه چي پر خپل پندو اوړي (مرتد کېږي)»[١].

﴿مَا قَطَعۡتُم مِّن لِّينَةٍ أَوۡ تَرَكۡتُمُوهَا قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذۡنِ ٱللَّهِ﴾ [الحشر:٥].

ترجمه: «کومي د خورما درختي چي تاسو پرې کړې يا پرخپلو ريښو ولاړي پرېښودلې، نو د الله په اجازه سوي»[٢].

---

١- ښکاره خبره ده چي د داسي تعبير مطلب اثبات د فعل او تخصيص د هغه وي تر خپل علته پوري؛ لکه په دې ايت کي: ﴿وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ ٥٦﴾ [الذاريات: 56] دا پکښي مقصود نه وي چي فعل د سره نفي کړي.

٢- دې خبري ته توجه په کار ده چي دا حکم خو د پېښي وروسته نازل سوی ؛ لکه څنګه چي د ماضي تعبير (قطعتم، ترکتموها) پر دې دلالت لري، نو پوښتنه دا ده چي دغه اجازه خو مخ کي الله په قرآن کي نه ده کړې، نو دا ئې د څه شي په ذريعه ورته کړې ده ؟

﴿وَإِذۡ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعۡضِ أَزۡوَٰجِهِۦ حَدِيثٗا فَلَمَّا نَبَّأَتۡ بِهِۦ وَأَظۡهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ عَرَّفَ بَعۡضَهُۥ وَأَعۡرَضَ عَنۢ بَعۡضٖۖ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِۦ قَالَتۡ مَنۡ أَنۢبَأَكَ هَٰذَاۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ٣﴾ [التحريم: ٣].

ترجمه: «او چې کله نبي وخپلو ځينو ښځو ته پټه خبره وکړه، نو چې کله هغه خبر ورکړی په دې سره او الله دی په خبر کی ځيني ئې معروف (پيژندل سوي) وبلل او د ځينو څخه ئې مخ واړوی، نو چې کله پيغمبر دا ښځه په دې خبره کړه، دې وويل: په دې چا خبر کړې؟ ده وويل: هغه پوره باخبره پوه ذات خبر کړی يم»[1].

دې ته په پام چې په غير د ما انزل الله حکم نه دئ روا، نو د پيغمبرﷺ څخه چې کوم ديني حکم ثابت وي، مسلمان هغه ته د غير ما انزل الله فيصله نه سي ويلای.

## – د پيغمبر ﷺ دحکم منلو ته ترغيب او د مخالفته ئې ځان ساتنه:

﴿وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَمَن يَتَوَلَّ يُعَذِّبۡهُ عَذَابًا أَلِيمٗا ١٧﴾ [الفتح: ١٧].

ترجمه: «څوک چې د الله او پيغمبر خبره ومني داسي جنتونو ته ئې الله داخلوي چې ويالې ترلاندي بهيږي او څوک چې پر شا ځيني واوړي، هغه ته دردناک عذاب ورکوي».

﴿لَّا تَجۡعَلُواْ دُعَآءَ ٱلرَّسُولِ بَيۡنَكُمۡ كَدُعَآءِ بَعۡضِكُم بَعۡضٗاۚ قَدۡ يَعۡلَمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمۡ لِوَاذٗاۚ فَلۡيَحۡذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنۡ أَمۡرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمۡ فِتۡنَةٌ أَوۡ يُصِيبَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٦٣﴾ [النور: ٦٣].

---

١ – دا خبر الله پيغمبر ته په څه شي ورکړ: په قرآن که په سنت ؟

ترجمه: «د پیغمبر بلنه په خپل مینځ کې داسې مه ګرځوئ لکه ستاسو یو بل ته بلنه؛ بېشکه الله په هغه خلکو پوهېږي چې پټ وزي ستاسو څخه په پناه، نو دپیغمبر د حکم مخالفت کوونکې خلک دې د دې څخه وېرېږي چې بې دیني ورپه برخه سي یا درناکه عذاب ور ورسېږي»[1].

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسْتَجِيبُواْ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ﴾ [الأنفال:۲۴].

ترجمه: «اې مؤمنانو! د الله اوپیغمبر خبره ومنئ چې کله د هغه څه بلنه درکړي چې تاسو ژوندي کوي».

﴿وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُواْ﴾ [الحشر: ۷].

ترجمه: «کوم شی چې پیغمبر درکوي هغه قبول کئ او د کوم شي څخه چې مو دی منع کوي، د هغه څخه منع سئ».

﴿وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ ٱلْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِۦ جَهَنَّمَ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿١١٥﴾﴾ [النساء: ۱۱۵].

ترجمه: «څوک چې د هغه وروسته د پیغمبر مخالفت کوي چې هدایت ورته ښکاره سي او د مؤمنانو د لارې پرته د بلې لارې پیروي کوي دی هغه څه ته اړوو چې دی ور اوښتی دی، دوږخ ته ئې داخلوو او بده لار ده».

۱- دا آیت ښیي چې د امتیانو په خپل مینځ کې و یو بل ته حکم کول بغیر د قرآن او سنته دین نه دئ، خو د پیغمبر حکم دې داسې نه ګرځوي لکه د دوی په خپل مینځ کې و یو بل ته حکم ؛ ځکه د پیغمبرﷺ د حکم تابعداري فرض ده او د امتیانو د خپل حکم تابعدري د قرآن او سنت بغیر فرض نه ده.په دې کې د امت اول خلک هم شامل دي لکه: ابوبکر، عمر، عثمان، علي، ابن مسعود رض او داسې نور قدرمن مشران.

## د مؤمنانو لار د الله او پیغمبر خبره منل دي د هغو برعکس چي د الله او پیغمبر په حکم کي توپیر کوي

الله تعالی وایي: ﴿وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلرَّسُولِ وَأَطَعۡنَا ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٞ مِّنۡهُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۚ وَمَآ أُوْلَٰٓئِكَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٤٧ وَإِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُم مُّعۡرِضُونَ ٤٨ وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلۡحَقُّ يَأۡتُوٓاْ إِلَيۡهِ مُذۡعِنِينَ ٤٩ أَفِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَمِ ٱرۡتَابُوٓاْ أَمۡ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَرَسُولُهُۥۚ بَلۡ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٥٠ إِنَّمَا كَانَ قَوۡلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ أَن يَقُولُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٥١ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخۡشَ ٱللَّهَ وَيَتَّقۡهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ٥٢﴾ [النور: ۴۷-۵۲].

ترجمه: «دوی وایي: زموږ په الله او پیغمبر ایمان دی او خبره منو. بیا ددوی یوه ډله د هغه وروسته پر شاکېږي او دا خلک نه دي ایمان لرونکي او چي کله د الله او پیغمبر لوري ته وبلل سي د دې لپاره چي د دوی په مینځ کي حکم وکړي نو نا څاپه د دوی یوه ډله مخ اړوونکي وي، که د دوی په برخه حق وي نو هغه ته غاړه ایښوونکي راځي. آیا په زړونکي ئې بیماري ده که شکمن دي، که د دې څخه وېرېږي چي الله او پیغمبر دي پر دوی ظلم وکړي؟ بلکي همدا دوی ظالمان دي. ایمان لرونکي چي کله الله او پیغمبر ته وبلل سي د دې لپاره چي په مینځ کي ئې فیصله وکړي، تنها دا ئې وینا ده چي وامو اورېدل او ومو منل، او همدا خلک بریالي دي. څوک چي د الله اوپیغمبر خبره ومني او د الله څخه وډارېږي او ځان ورڅخه وساتي نو همدا خلک کامیاب دي».

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ ٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيَقُولُونَ نُؤۡمِنُ بِبَعۡضٖ وَنَكۡفُرُ بِبَعۡضٖ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ١٥٠ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ حَقّٗاۚ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا ١٥١ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَلَمۡ يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ أُوْلَٰٓئِكَ سَوۡفَ يُؤۡتِيهِمۡ أُجُورَهُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ١٥٢﴾ [النساء: ۱۵۰-۱۵۲].

ترجمه: «بې‌شکه هغه کسان چي کفر کوي په الله او پېغمبرانو د هغه او دا غواړي چي د الله او پېغمبرانو په مینځ کي ئې تفرقه راوړي، وايي: په ځینو ایمان راوړو او په ځینو کافران کېږو او دا غواړي چي د دې په مینځ کي یوه لاره ونیسي، دا خلک په روشتیا کافران دي او دا کافرانو ته مو سپکاوی والا عذاب تیار کړی او هغه کسان چي په الله او د هغه په پېغمبرانو ئې ایمان راوړی او د هغو د هیڅ یوه په مینځ کي ئې توپیر نه دی کړی دا کسانو ته خپل مزدوري (ثوابونه) پوره ورکول کېږي او الله بخښونکی مهربان دی».

﴿مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ حَفِيظٗا ٨٠﴾ [النساء: ۸۰].

ترجمه: «څوک چي د پېغمبر خبره ومني نو بس د الله خبره ئې ومنل، او څوک چي پرشا واوړي نو ته موږ هغو ساتونکی نه یې لېږلی».

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ إِذ ظَّلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ جَآءُوكَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُواْ ٱللَّهَ تَوَّابٗا رَّحِيمٗا ٦٤ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ٦٥﴾ [النساء: ۶۴-۶۵].

ترجمه: «او هیڅ پېغمبر مو نه دی لېږلی مګر د دې لپاره چې حکم ئې ومنل سي د الله په اجازه، که یقینا دوی — چې کله ئې پرځانو ظلم وکی — راغلي وای نو د الله څخه ئې بخښنه غوښتې وای او پېغمبر د دوی لپاره بخښنه غوښتې وای خامخا به دوی الله توبه قبلوونکی مهربان موندلی (پیداکړی) وای. نو نه، ستا په رب دي مي قسم وي چې دوی نه سي مؤمنان کېدی تر څو چې تا په هغه څه کي فیصله کوونکی جوړ کي چې د دوی په مینځ کي اختلافي واقع سوي، بیا په خپلو سینو کي ستا د فیصلې څخه تنګسیا پیدا نه کړي او په منلو ئې ومني».

د لمانځه په هکله الله وایي: ﴿حَٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلۡوُسۡطَىٰ وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ٢٣٨ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ فَرِجَالًا أَوۡ رُكۡبَانٗاۖ فَإِذَآ أَمِنتُمۡ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمۡ تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ ٢٣٩﴾ [البقرة: ٢٣٨-٢٣٩].

ترجمه: «پرلمونځونو او پرهغه ډېرښه لمانځه دوام کوئ، اوالله ته فرمانبردار درېږئ، نو که بېرېدلاست، بیا د پیاده تلو په حالت کي یا د سپرتیا په حالت کې (کوئ)، نو چې کله بې غمه سواست، بیا الله یاد کئ لکه څنګه چې الله هغه څه درښوولي چې نه په پوهیدلاست».

د الله د یاد مطلب لمونځ دی؛ قرآن کریم دهمدې صلاة الخوف په اړه داسي فرمایی:

﴿فَإِذَا ٱطۡمَأۡنَنتُمۡ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَۚ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبٗا مَّوۡقُوتٗا ١٠٣﴾ [النساء: ١٠٣].

ترجمه: «چی کله مطمئن (بېغمه) سواست نو لمونځ سم سده کئ، یقینا دا لمونځ پر مومنانو لیکل سوی، وخت یې ټاکل سوی دی».

دا آیتونه دا خبره واضح کوي چی لمونځ خلکو ته د نه زدکړي وروسته ښوول سوی.

دابرهيم اونوروأنبياءعليهم السلام په هکله الله فرمايي:

﴿۞فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِۖ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ۝٥٩ إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا ۝٦٠﴾ [مريم: ٥٩- ٦٠].

ترجمه: «نو د دوی وروسته ناکاره ځای ناستي ورپسې راغلل چي لمونځ ئې برباد کی، په شهواتو (خواهشاتو) پسې روان سول، نو د بې لارۍ سره به مخامخ سي، مګر هغه څوک چی توبه ئې کړې او ايمان يې راوړی نو هغوی جنت ته داخليږی او هيڅ ظلم نه ورسره کيږي».

د مشرکانو د لمانځه په هکله الله وايی:

﴿وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمۡ عِندَ ٱلۡبَيۡتِ إِلَّا مُكَآءٗ وَتَصۡدِيَةٗۚ﴾ [الأنفال: ٣٥].

ترجمه: «او د بيت الله د څنګه د دوی لمونځ د شپيلکي اوچکچکو پرته بل څه نه وو».

الله د مشرکانو د قيامت د ميدان اقرار داسي بيانوي:

﴿قَالُواْ لَمۡ نَكُ مِنَ ٱلۡمُصَلِّينَ ۝٤٣﴾ [المدثر: ٤٣].

ترجمه: «دوی (مشرکان) وايي: موږ د لمونځ کوونکو څخه نه وو (موږ لمونځ نه کوی)».

لمونځ هم دغه شناخته عبادت دی نه بل څه؛ ځکه الله وايي:

﴿وَإِذَا ضَرَبۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَقۡصُرُواْ مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ إِنۡ خِفۡتُمۡ أَن يَفۡتِنَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْۚ إِنَّ ٱلۡكَٰفِرِينَ كَانُواْ لَكُمۡ عَدُوّٗا مُّبِينٗا ۝١٠١ وَإِذَا كُنتَ فِيهِمۡ فَأَقَمۡتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلۡتَقُمۡ طَآئِفَةٞ مِّنۡهُم مَّعَكَ وَلۡيَأۡخُذُوٓاْ أَسۡلِحَتَهُمۡۖ فَإِذَا سَجَدُواْ فَلۡيَكُونُواْ مِن وَرَآئِكُمۡ وَلۡتَأۡتِ طَآئِفَةٌ أُخۡرَىٰ لَمۡ يُصَلُّواْ فَلۡيُصَلُّواْ مَعَكَ وَلۡيَأۡخُذُواْ حِذۡرَهُمۡ وَأَسۡلِحَتَهُمۡۗ وَدَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡ تَغۡفُلُونَ

---

عَنۡ أَسۡلِحَتِكُمۡ وَأَمۡتِعَتِكُمۡ فَيَمِيلُونَ عَلَيۡكُم مَّيۡلَةٗ وَٰحِدَةٗۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ إِن كَانَ بِكُمۡ أَذٗى مِّن مَّطَرٍ أَوۡ كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَن تَضَعُوٓاْ أَسۡلِحَتَكُمۡۖ وَخُذُواْ حِذۡرَكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا ١٠٢ فَإِذَا قَضَيۡتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمۡۚ فَإِذَا ٱطۡمَأۡنَنتُمۡ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَۚ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبٗا مَّوۡقُوتٗا ١٠٣﴾ [النساء: ۱۰۱-۱۰۳].

ترجمه: «چې کله مو په مځکه کې سفر کوی نو پر تاسې کومه ګناه نسته په دې کې چې لمونځ رالنډ کړئ، که مو دا بېره وه چې کافران به مو په عذاب کې، بېشکه چې کافران ستاسې ښکاره دښمنان دي، چې کله ته په مسلمانانو کې موجود وې، لمونځ دې ورته ودروی، نو د دوی یوه ډله دې ستا سره ودرېږی، خپلې وسلې دې واخلې، نو چې کله ئې سجده وکړه بیا دې ستاسو څخه تر شا سې، بله ډله دې راسې چې لا ئې لمونځ نه دی کړی، ستا سره دې لمونځ وکی، د ځان ساتنې احتیاطی تدبیرونه دې ونیسې او وسله دې د ځان سره واخلې، کافران دا خوښوی چې تاسو د خپلو وسلو او سامانه غافل سئ نو په یو وار دربانډې رامات سې، که دباران څخه په تکلیف واست یا ناروغه واست نو څه ګناه دربانډې نسته چې خپله وسله کښېږدئ، خو احتیاطی تدبیرونه مو نیسئ، بېشکه چې الله کافرانو ته سپکاوی والا عذاب تیار کړی، چې کله مو لمنځ اداء کې، نوالله یادوئ: که ولاړ یاست، که ناست او که پر اړخ پراته یاست، نو چې کله مطمئن (بېغمه) سواست نو همغه (د قرارې حالت) لمونځ ادا کړئ، بېشکه لمونځ پرمؤمنانو د مهال وېش سره سم (په ټاکلې وخت) فرض سوی».

د لمانځه کومه طریقه ده؟ همغه چې پېغمبر ﷺ بیان کړې ده.

د زکات په هکله الله وایې:

﴿وَوَيۡلٞ لِّلۡمُشۡرِكِينَ ٦ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ﴾ [فصلت: ۶-۷].

ترجمه: «اومشرکينو ته تباهي ده، (دوی) هغه کسان دي چي زکات نه ورکوي».

زکات څو ځله ادا کيږي: په عمر کي که په کال کي؟ د نصاب اندازه ئې څوني ده؟ څوهمه برخه به ئې ورکول کيږي؟ جواب: همغسي چي پيغمبر بيان کړی[1].

د حج د مياشتو په هکله الله وايي: ﴿ٱلۡحَجُّ أَشۡهُرٞ مَّعۡلُومَٰتٞۚ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ ٱلۡحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي ٱلۡحَجِّۗ﴾ [البقرة: ۱۹۷].

ترجمه: «حج معلومي مياشي دی؛ نو که څوک په دې مياشتو کي د حج پريکړه وکړي نو نسته بد ګوئي، نه نافرماني او نه جګړه په حج کي».

﴿إِنَّمَا ٱلنَّسِيٓءُ زِيَادَةٞ فِي ٱلۡكُفۡرِۖ يُضَلُّ بِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُحِلُّونَهُۥ عَامٗا وَيُحَرِّمُونَهُۥ عَامٗا لِّيُوَاطِـُٔواْ عِدَّةَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ فَيُحِلُّواْ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُۚ زُيِّنَ لَهُمۡ سُوٓءُ أَعۡمَٰلِهِمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٣٧﴾ [التوبة: ۳۷].

ترجمه: «بې‌شکه دا وروسته کول (د مياشتو) ډېرښت دی په کفر کي، په دې هغه کسان ګمراه کيږي چي کافران سوي، يو کال ئې حلالوي، يو کال ئې حراموي د دې لپاره چي د هغه څه (مياشتو) د شمير سره سمون پيدا کړي چي الله حرمت والا کړي، نو دوی هغه څه حلالوي چي الله حرمت ورکړی، دوی ته خپل بد عملونه ښايسته سوي اوالله تعالی کافر قوم نه پر لار کوي».

۱- د تفصيل لپاره وګوره صحيح البخاري کتاب الزکاة، ورسره: السنن الکبری للبيهقي کتاب الزکاة باب لاَ يَأْخُذُ السَّاعِى فِيمَا يَأْخُذُ مَرِيضًا وَلاَ مَعِيبًا 4 /95.

قرآن کریم ښیي چي کافرانو هغه حرمت والا میاشتو ته تغیر ورکړی چي د هغه جملې د حج میاشتي هم دي.نو د حج معلومي میاشتي کومي دي؟ هغه چي د پیغمبرﷺ په دور کي د هغه د حکم سره سم د حج بندو بست او د هغه کارونه پکښي تر سره کېدل[1].

## – پیغمبران د الله د لوري آخري حجت (وروستی دلیل) دی:

﴿رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةٌۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِۚ﴾ [النساء: ١٦٥].

ترجمه: «پیغمبران زیری ورکوونکي او دعذابه خبروونکي د دې لپاره چي خلګو ته پر الله څه حجت پاته نه سي تر پیغمبرانو وروسته».

﴿يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ عَلَىٰ فَتۡرَةٖ مِّنَ ٱلرُّسُلِ أَن تَقُولُواْ مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٖ وَلَا نَذِيرٖۖ فَقَدۡ جَآءَكُم بَشِيرٞ وَنَذِيرٞۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٩﴾ [المائدة: ١٩].

ترجمه: «اې اهل کتابو! بې شکه تاسو ته زموږ پیغمبر راغی چي د پیغمبرانو د نه راتلو په وخت کي بیان درته کوي؛ چي بیا به وایاست موږ ته څه زیری ورکوونکی یا د عذابه خبروونکی نه دی راغلی، بیشکه زیری ورکوونکی او دعذابه خبروونکی درته راغی او الله پر هرڅه قدرت لرونکی دی».

﴿وَجَآءَ فِرۡعَوۡنُ وَمَن قَبۡلَهُۥ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتُ بِٱلۡخَاطِئَةِ ٩ فَعَصَوۡاْ رَسُولَ رَبِّهِمۡ فَأَخَذَهُمۡ أَخۡذَةٗ رَّابِيَةً ١٠﴾ [الحاقة: ٩-١٠].

---

١- د تفصیل لپاره وګوره صحیح البخاري کتاب الحج بَاب قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ.

ترجمه: «فرعون، د هغه د مخه خلکو او اړول سوو کليو لويه غلطي وکړې: دوی د خپل رب د پيغمبر بې امري وکړه، نو دوی مو په ډېرېدونکي ډول را ټينګ کړه».

﴿وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَـٰهٍ غَيْرِى فَأَوْقِدْ لِى يَـٰهَـٰمَـٰنُ عَلَى ٱلطِّينِ فَٱجْعَل لِّى صَرْحًا لَّعَلِّىٓ أَطَّلِعُ إِلَىٰٓ إِلَـٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّى لَأَظُنُّهُۥ مِنَ ٱلْكَـٰذِبِينَ ﴿٣٨﴾ وَٱسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُۥ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُمْ إِلَيْنَا لَا يُرْجَعُونَ ﴿٣٩﴾ فَأَخَذْنَـٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذْنَـٰهُمْ فِى ٱلْيَمِّ ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٤٠﴾ وَجَعَلْنَـٰهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى ٱلنَّارِ ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ لَا يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾ وَأَتْبَعْنَـٰهُمْ فِى هَـٰذِهِ ٱلدُّنْيَا لَعْنَةً ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ هُم مِّنَ ٱلْمَقْبُوحِينَ ﴿٤٢﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَـٰبَ مِنۢ بَعْدِ مَآ أَهْلَكْنَا ٱلْقُرُونَ ٱلْأُولَىٰ بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٣﴾﴾ [القصص: ۳۸-۴۳].

ترجمه: «فرعون وويل: اې مشرانو! تاسو ته زما پرته بل حقدار د بندګۍ نه را ته معلومېږي؛ نو اې هامانه! پر خښتو اور را ته بل کړه، نو زما لپاره يوه ماڼۍ جوړه ګوندي زه وخيږم د موسی ومعبود ته، او بېشکه زه پرده ګمان د درواغجن کوم، نو ده او د ده لښکرو په مځکه کي په ناحقه لويي وکړه، دا ګمان ئې وکی چي دوی موږ ته نه راګرځي، نو دی او دده لښکري مو را ټينګ کړه، نو په درياب کي مو وغورځول، نو وګوره د ظالمانو انجام څنګه سو، دوی مو داسي مخکښان جوړ کړه چي اور ته ئې بلنه کول، دقيامت په ورځ مرسته نه ورسره کيږي، په دې دنيا کي مو لعنت ورپسې کی او په ورځ دقيامت دوی د بد ويل سو څخه دي، وروسته تر دې چي اولنۍ پيړۍ مو هلاکي کړې وموسی ته مو کتاب ورکی لپاره د پوهني، لارښووني او رحمت وخلکوته چي ګوندي دوی نصيحت قبول کړي».

دلته دا خبره ثابته سوه چي موسىعليه السلام ته تورات د فرعون تر مرګ وروسته ورکړه سوی، نو فرعون چي څه ردول هغه د موسىعليه السلام خبري وې، دغه د هغه د هلاکت سبب سو.

## د پېغمبرانو د را لېږلو او پر هغو د کتاب نازلېدلو مقصد او موخه:

﴿لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلْقِسْطِ﴾ [الحديد: ۲۵].

ترجمه: «بېشکه ما خپل پېغمبران د ښکاره دليلونو (معجزاتو) سره لېږلي او د دوی سره مي کتاب اود عدل ترازو نازل کړی د دې لپاره چي خلګ په انصاف عمل وکړي».

قسط برخي ته ويل کېږي، نو دا مطلب لري چي د هر چا برخه حق هغه ته ورکړه سي، د الله حق يوازي الله ته ورکړه سي، و هر مخلوق ته خپل حق ورکړه سي که نر وي که ښځه، که رعيت وي که حکومت، که مور پلار وي، که اولاد، که مشر وي که کشر، په لنډو توګه اسلام وايي: فَأَعْطِ كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ [1]. ترجمه: هر د حق څښتن ته ئې حق ورکړه.

هر چا ته خپل حقوق ورکول اسلامي فريضه ده چي په راتلونکي آيت کي ئې ښه ښېلګي سته چي وايي: ﴿وَٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشْرِكُواْ بِهِۦ شَيْـًٔا ۖ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا وَبِذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَٱلْجَارِ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْجَارِ ٱلْجُنُبِ وَٱلصَّاحِبِ بِٱلْجَنۢبِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا ﴿٣٦﴾﴾ [النساء: ۳۶].

---

۱- صحيح البخاري كتاب الصوم بَابُ مَنْ أَقْسَمَ عَلَى أَخِيهِ لِيُفْطِرَ فِي التَّطَوُّعِ.

ترجمه: «او د الله بندګی کوئ، هيڅ شی مه ورسره شريکوئ او د مور پلار سره ښه کوئ، دا رنګه د خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو، نژدې ګاونډي او لرې ګاونډي، د اړخ ملګرې (انډيوال)، مسافر او مينځو، مريانو سره ښه کوئ؛ بېشکه الله هيڅ کبرجن فخرجن نه خوښوي».

په دې آيت کې الله خپل بندګانو ته هم خپل حق ښوولی هم ئې د دوی په مينځ کې يو پر بل حقوق ور ښوولي.د الله حق د الله توحيد دی چې د هغه بيان پيغمبرﷺ داسې کوي: «يَا مُعَاذُ أَتَدْرِي مَا حَقُّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ قَالَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا أَتَدْرِي مَا حَقُّهُمْ عَلَيْهِ قَالَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ أَنْ لَا يُعَذِّبَهُمْ»[۱].

ترجمه: اې معاذه! آيا ته پوهېږې د الله حق پر بندګانو څه شی دی؟ هغه وويل: الله او پيغمبر ئې ښه پوهېږي. پيغمبرﷺ وفرمايل: د الله حق دا دئ چې دوی د الله بندګي وکړي او هيڅ شی ورسره شريک نکړي، آيا ته پوهېږې چې د دوی حق پر الله څه شی دی ؟ هغه وويل: الله او پيغمبر ئې ښه پوهېږي. پيغمبرﷺ وويل: د دوی حق دا دی چې عذاب ور نکړي.

---

۱- صحيح البخاري كتاب التوحيد بَاب مَا جَاءَ فِي دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمَّتَهُ إِلَى تَوْحِيدِ اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى
صحيح مسلم كتاب الايمان بَاب الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ مَنْ مَاتَ عَلَى التَّوْحِيدِ دَخَلَ الْجَنَّةَ قَطْعًا.

## په پای کې د یوې خبرې وضاحت:

ځیني خلکو دا مشهوره کړې ده چې د اسلام اوله کلمه په قرآن اوسنت کې نسته. داسې خلک کېدی سي په دې ګمان وي چې د اسلام اوله کلمه همغه ده چې دوی په نوراني قاعده کې لیدلې ده.

دوې ته وایو: پیغمبرﷺ چې کومه کلمه د اسلام اول رکن بللې هغه په اسلام کې سته، نور ستاسو د ترتیباتو اونوراني قاعدې ذمه وار تاسو خپله یاست.

دالله د پیغمبرﷺ په وخت کې خو اسلام ته بلنه او داخلېدل داسې کېدل چې یو شمېر دلیلونه ئې تېر سوه، یوشمېر ئې په راتلونکي ډول یاد سوي:

(أ) د الله پیغمبرﷺ چې کله معاذ رضي الله عنه یمن ته لېږی داسې ئې ورته وفرمایل:

«ادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ»[1].

ترجمه: دوی دعوت کړه و دې ګواهي ته چې د الله پرته بل حقدار د بندګي نسته او د دې خبرې ګواهي ته چې زه (محمد) د الله پیغمبر یم.

عن أنس قال: «سَمِعَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ بِقُدُومِ رَسُولِ اللَّهِﷺ وَهُوَ فِي أَرْضٍ يَخْتَرِفُ فَأَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ إِنِّي سَائِلُكَ عَنْ ثَلَاثٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ إِلَّا نَبِيٌّ فَمَا أَوَّلُ

---

١- صحیح البخاري کتاب الزکاة بَاب وُجُوبِ الزَّكَاةِ.

أَشْرَاطِ السَّاعَةِ وَمَا أَوَّلُ طَعَامِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمَا يَنْزِعُ الْوَلَدُ إِلَى أَبِيهِ أَوْ إِلَى أُمِّهِ قَالَ أَخْبَرَنِي بِهِنَّ جِبْرِيلُ آنِفًا قَالَ جِبْرِيلُ قَالَ نَعَمْ قَالَ ذَاكَ عَدُوُّ الْيَهُودِ مِنْ الْمَلَائِكَةِ فَقَرَأَ هَذِهِ الْآيَةَ {مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَى قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ} أَمَّا أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ فَنَارٌ تَحْشُرُ النَّاسَ مِنْ الْمَشْرِقِ إِلَى الْمَغْرِبِ وَأَمَّا أَوَّلُ طَعَامٍ يَأْكُلُهُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَزِيَادَةُ كَبِدِ حُوتٍ وَإِذَا سَبَقَ مَاءُ الرَّجُلِ مَاءَ الْمَرْأَةِ نَزَعَ الْوَلَدَ وَإِذَا سَبَقَ مَاءُ الْمَرْأَةِ نَزَعَتْ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ الْيَهُودَ قَوْمٌ بُهُتٌ وَإِنَّهُمْ إِنْ يَعْلَمُوا بِإِسْلَامِي قَبْلَ أَنْ تَسْأَلَهُمْ يَبْهَتُونِي فَجَاءَتْ الْيَهُودُ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ أَيُّ رَجُلٍ عَبْدُ اللَّهِ فِيكُمْ قَالُوا خَيْرُنَا وَابْنُ خَيْرِنَا وَسَيِّدُنَا وَابْنُ سَيِّدِنَا قَالَ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَسْلَمَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ فَقَالُوا أَعَاذَهُ اللَّهُ مِنْ ذَلِكَ فَخَرَجَ عَبْدُ اللَّهِ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ فَقَالُوا شَرُّنَا وَابْنُ شَرِّنَا وَانْتَقَصُوهُ قَالَ فَهَذَا الَّذِي كُنْتُ أَخَافُ يَا رَسُولَ اللَّهِ»[1].

## خلاصه مطلب:

په لیکه نښانه سوی ځای ښیي چې عبد الله بن سلامرضي الله عنه په اول کي پیغمبرﷺ ته خطاب کوي نو تعبیر ئې داسي کړي: ګواهي کوم د دې چې بغیر دالله بل حقدار د بندګۍ نسته، او د دې چې ته د الله پیغمبر یې.

---

۱- صحیح البخاري کتاب التفسیر، تفسیر سورة البقرة باب قوله: «مَن كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ»: 4480.

او په دوهم ځای کې خطاب نه دی ورته کړی، بلکه د پیغمبرﷺ په حضور کې یهودو ته خپل اسلام اعلان کړی، نو تعبیر ئې داسی کړی: د دې خبرې ګواهي کوم چې بغیر د الله بل حقدار د بندګۍ نسته او د دې خبرې ګواهي کوم چې محمدﷺ دالله پیغمبر دی.

د دې حدیث لفظ د عبدالله بن عمرؓ د هغه حدیث سره ډېر سمون لري چې د دې کتاب په اوله کې تېر سوی.

ثُمَامَةُ بْنُ أُثَالٍؓ چې د پیغمبرﷺ په حضور کې ایمان راوړی هم ئې داسي ویلي: «أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ»[1].

ابو ذرؓ چې کله پر پیغمبرﷺ ایمان راوړی د هغه په اعلان کې داسي کلمه ویلې ده[2].

(ب) معاویة بن حکم السلميؓ وایی: كَانَتْ لِي جَارِيَةٌ تَرْعَى غَنَمًا لِي قِبَلَ أُحُدٍ وَالْجَوَّانِيَّةِ فَاطَّلَعْتُ ذَاتَ يَوْمٍ فَإِذَا الذِّيبُ قَدْ ذَهَبَ بِشَاةٍ مِنْ غَنَمِهَا وَأَنَا رَجُلٌ مِنْ بَنِي آدَمَ آسَفُ كَمَا يَأْسَفُونَ لَكِنِّي صَكَكْتُهَا صَكَّةً فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ فَعَظَّمَ ذَلِكَ عَلَيَّ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا أُعْتِقُهَا قَالَ ائْتِنِي بِهَا فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَقَالَ لَهَا أَيْنَ اللَّهُ قَالَتْ فِي السَّمَاءِ قَالَ مَنْ أَنَا قَالَتْ أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ قَالَ أَعْتِقْهَا فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ[3].

ترجمه: معاویه بن حکم سلميؓ فرمایي: زما یوه مینځه وه چې د احد غره او د جوانیه علاقې په خوا کې زما پسونه څرول، نو یو ورځ

---

۱- صحیح البخاري کتاب الصلاة بَاب الِاغْتِسَالِ إِذَا أَسْلَمَ وَرَبْطِ الْأَسِيرِ أَيْضًا فِي الْمَسْجِدِ. صحیح مسلم کتاب الجهاد والسیر باب ربط الأسير وحبسه وجواز المن عليه.

۲- صحیح البخاري کتاب المناقب بَاب إِسْلَامُ أَبِي ذَرٍّ الْغِفَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

۳- صحیح مسلم کتاب المساجد باب تحريم الكلام في الصلاة: 537.

ما اطلاع واخيسته، نو چې شرمښ زموږ د پسو يو پسه وړی وو، او زه د بني آدمو يو سړی يم، داسې غصه کېږم لکه دوی چې غصه کېږي، خو پر مخ مي يو چکه ووهل، پس د الله پيغمبرﷺ ته راغلم، نو ده دا پر ما ډېر لويه کړه، ومي ويل: اې د الله پيغمبره! آيا ازاده ئې نکړم؟ ده وفرمايل: راته رائې وله، نو ده ورته وفرمايل: الله چېري دی؟ دې ويل: پر آسمان (په ولړه خواکي) دی. ده وفرمايل: زه څوک يم؟ دې ويل: ته د الله پيغمبر يې. ده وفرمايل: ازاده ئې که؛ ځکه دا يقينا ايمان لرونکې ده.

په دې حديث کي دا خبره ښکاره سوه، چې پيغمبرﷺ دا سمه طريقه بلل چې د ايمان معلومولو لپاره داسي پوښتنه او دهغه د اثبات لپاره داسي جواب وسي چې الله پر آسمان (لوړ) دی او محمدﷺ د الله پيغمبر دی.

(ج) په اضطراري حالت کي بل تعبير هم کفايت کوي؛ لکه څنګه چي په صحيح البخاری کي راغلي: بَاب إِذَا قَالُوا صَبَأْنَا وَلَمْ يُحْسِنُوا أَسْلَمْنَا وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ فَجَعَلَ خَالِدٌ يَقْتُلُ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ أَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ خَالِدٌ[١].

ترجمه: باب دی په بيان کي د دې خبري چې کله کافران ووايي: موږ د دينه ووتلو (ستاسی په شان دين مو قبول کړ) سم ئې نه سوه ويلای چي: موږ اسلام قبول کړ، ابن عمر وايي: خالدؓ شروع وکړه وژل ئې (دغه صبأنا ويونکي خلک ئې قتلول) نو پيغمبرﷺ وفرمايل: زه خپل بېزاري بيانوم تاته د دې کار څخه چي خالد وکړ.

---

١- صحيح البخاري كتاب الجزية والموادعة باب إِذا قالوا صَبَأْنا ولم يُحسِنوا أسلمنا.

دپورته حدیث تفصیل بل ځای داسي راغلی: عبدالله بن عمرﷺ فرمایي: «بعث النبيُّ ﷺ خالدَ بن الوليد إلى بني جَذيمةَ فدَعاهم إلى الإسلام فلم يُحسِنوا أن يقولوا: أسلمنا فجعلوا يقولون: صَبَأنا، صَبأنا. فجعل خالدٌ يقتلُ منهم ويأسِرُ. ودَفع إلى كلِّ رجلٍ منا أسيرَه. حتى إذا كان يومٌ أمرَ خالدٌ أن يقتل كلُّ رجلٍ منا أسيرَه، فقلت: واللهِ لا أقتُلُ أسيري ولا يقتُل رجلٌ من أصحابي أسيره. حتى قدِمنا على النبي ﷺ فذكرناه، فرفع النبي ﷺ يدَيه فقال: اللهمَّ إني أبرأ إليك مما صنعَ خالد، مرَّتين»[1].

ترجمه: عبدالله بن عمرﷺ فرمایي: پغمبرﷺ خالد بن ولید وبني جذیمه قبیلې ته ولیږی نو **دوی ئې واسلام ته دعوت کړه**، نوهغوی ښه نه سوه کولای چی ووایی: اسلام مو قبول کی، نو شروع سول ویل ئې: موږ د دین څخه ووتلو، د دین څخه ووتلو (ستاسی په شان دین مو قبول کی)، نو شروع سو خالد د دوی څخه ئې وژل او قیدیان کول، او زموږ هر سړي ته ئې دهغه قیدي ورکی، تر دې چی یو ورځ خالدﷺ امر وکړ د دې چی زموږ هر سړی دي خپل قیدی ووژني، نو ما وویل: قسم په الله زه خپل قیدي نه وژنم، او نه هم زما دملګرو یو سړی خپل قیدي وژني، تر دې چی پیغمبرﷺ ته راغلو، نو خبره مو یاده کړه، نو پیغمبرﷺ لاسونه پورته کړه او وې ویل: یا الله! زه تاته د دې کاره خپل بېزاري بیانوم چی خالد وکی. دوه واره.

[1] ١- صحيح البخاري كتاب المغازى باب بعثِ النبيِّ صلى الله عليه وسلم خالدَ بن الوليد إلى بني جَذيمة: 4339.

د (صبأنا) تعبیر دا خلګو په دې وجه کوی چې مشرکینو به پیغمبرﷺ او د هغه ملګرو ته صابئِین ویل، چې د دوی مطلب د دې څخه دا وو: تاسو د پلار نیکه د دین څخه وتلي یاست، بې دینه یاست، دا نوم اسلام خپل پیروانو ته نه وو خوښ کړی، بلکي د دوی مخالفینو د دوی پر ضد د نفرت پیداکوونکي حربې په توګه کاروی لکه: نن چې خلک د قرآن او سنت پیروانو ته د بې مذهبه کلمه د همدې غرض لپاره کاروي. نو دغه خلګو دغه د صبأنا وینا د اسلام منلو لپاره اعلان کړه او پیغمبرﷺ د دوی وژل نا روا وبلل، سره د دې چې دا کلمه په اصل کی د خرابي معنی لپاره کارول سوې وه. نو دا معلومېږي چې ناپوهه انسان په داسي اضطراري حالت کي داسلام منلو په نیت داسي تعبیر وکړي چې واسلام ته د دا خلیدو معنی ولري، په همدې مسلمان کېږي.

(هـ) که د (لا إله إلا الله محمد رسول الله) کلمه څوک ووایي: هم اسلام ته داخلیږي؛ ځکه دا همغه د الله د توحید او پیغمبرﷺ د رسالت اقرار دی چي هم تیر سوي دلایل د دې اثبات کوي[1] هم دا

---

۱- یعنی دا کلمۀ په مخکنیو دلایلو هم ثابته ده. د (أشهد) توري د ګواهي د تصریح لپاره دي، چي کله د (أشهد) یا داسي کلمي وروسته جمله معمول واقع سي نو د قرآن اوسنت د عربي ژبي د نحوي (ګرائمر) د قانون د مخي (أن) ورباندي داخلیږي. ځیني خلک دا تېر ایستل هم کوي چي دین قرآن اوسنت دی، نو تاسو د عربي خبره ولي کوئ ؟

خو دا یو بې بنسټه مغالطه ده؛ ځکه قرآن کریم د پیغمبرﷺ په عربي ژبه نازل سوی؛ الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّا جَعَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ۝٣﴾ [یوسف:

راتلونکی دلایل: لَمَّا حَضَرَتْ أَبَا طَالِبٍ الْوَفَاةُ جَاءَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَوَجَدَ عِنْدَهُ أَبَا جَهْلِ بْنَ هِشَامٍ وَعَبْدَ اللهِ بْنَ أَبِي أُمَيَّةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لِأَبِي طَالِبٍ يَا عَمِّ: قُلْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ كَلِمَةً أَشْهَدُ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللهِ فَقَالَ أَبُو جَهْلٍ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي أُمَيَّةَ يَا أَبَا طَالِبٍ أَتَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَعْرِضُهَا عَلَيْهِ وَيَعُودَانِ بِتِلْكَ الْمَقَالَةِ حَتَّى قَالَ أَبُو طَالِبٍ آخِرَ مَا كَلَّمَهُمْ هُوَ عَلَى مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَأَبَى أَنْ يَقُولَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ(۱).

د نښانه سوي ځای ترجمه: پیغمبرﷺ ابوطالب ته وویل: اې کاکا! ووایه: د الله بغیر بل حقدار د بندګۍ نسته، داسې کلمه چي ستا لپاره په هغې د الله په حضور کی ګواهي وکړم.

---

3] ترجمه: بېشکه موږ دا کتاب عربي قرآن نازل کړی د دې لپاره چي عقل وکاروئ.

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوۡمِهِۦ لِيُبَيِّنَ لَهُمۡۖ﴾ [إبراهيم: 4].

ترجمه: هیڅ پیغمبر مو د خپل قوم د ژبي پرته (په بله ژبه) نه دی لیږلي ؛ د دې لپاره چي بیان ورته وکړي.

﴿وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلذِّكۡرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ٤٤﴾ [النحل: 44].

ترجمه: او موږ تا ته وحي نازل کړې د دې لپاره چي خلکو ته هغه څه بیان کړې چي دوی ته نازل سوی او د دې لپاره چي دوی فکر وکړي.

۱- صحيح البخاري كتاب الجنائز بَاب إِذَا قَالَ الْمُشْرِكُ عِنْدَ الْمَوْتِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ. صحيح مسلم كتاب الايمان بَاب الدَّلِيلِ عَلَى صِحَّةِ إِسْلَامِ مَنْ حَضَرَهُ الْمَوْتُ مَا لَمْ يَشْرَعْ فِي النَّزْعِ.

په دې حديثو کي يو ځای هم تر توحيد مخ کي رسالت نه دی ياد سوی او په قرآن کي هم په الله اوپيغمبر ايمان په همدې ترتيب ياد سوی؛ الله وايي:

﴿ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ﴾ [الحديد: ۷].

ترجمه: «په الله او پيغمبر ئې ايمان راوړی».

نو په دې وجه شروع په (لا اله الا الله) کيږي چي د سورة الصافات (۳۵) او سورة محمد (۱۹) قرآني تعبير دی ، ورسره د (محمد رسول الله) منل هم شرط دی چي د سورة الفتح (۲۹) قرآني تعبير دی؛ ځکه الله وايي: ﴿وَمَن لَّمْ يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ فَإِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ سَعِيرًا ﴿١٣﴾﴾ [الفتح: ۱۳]. ترجمه: او څوک چي په الله او پيغمبر ئې ايمان نه راوړي نو يقينا دا کافرانو ته موږ اور تيا کړی دی.

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِىٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾﴾ [النساء: ۶۵].

ترجمه: «نو نه، ستا په رب دي مي قسم وي چي دوی نه سي مؤمنان کيدی تر څو چي تا فيصله کوونکی جوړ کي په هغه څه کي چي د دوی په مينځ کي اختلافي واقع سوي، بيا په خپلو سينو کي ستا د فيصلې څخه تنګسيا پيدا نه کړي او په منلو ئې ومني».

رَسُول اللَّهِ ﷺ ويلي دي: «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَا يَسْمَعُ بِي أَحَدٌ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ يَهُودِيٌّ وَلَا نَصْرَانِيٌّ ثُمَّ يَمُوتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ إِلَّا كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ»[1].

---

۱- صحيح مسلم کتاب الايمان بَاب وُجُوبِ الْإِيمَانِ بِرِسَالَةِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ ﷺ إِلَى جَمِيعِ النَّاسِ وَنَسْخِ الْمِلَلِ بِمِلَّتِهِ.

ترجمه: قسم په هغه ذات چي زما روح د هغه په لاس کي دی چي زما (د رسالت) به نه اوري د دې امت هیڅوک: نه یهودی، نه نصرانی بیا په داسی حال کي مړ سي چی په هغه څه ایمان رانه وړي چي زه په لیږل سوی یم، مګر دا چي دی به د دوږ والو څخه کیږي.

دا هغه خلګو ته جواب دی چي د اسلام د پوره والي او بشپړتیا سره ټکر دي، په داسي ځایونو کي وایي: که دین پوره وای نو پیغمبرﷺ د هغه وروسته دا بیان ولي کوی؟ دا فلانی کار ئې ولي کوی؟

جواب: الله خو د دین د پوره والی د خپل خوښي سره سم اعلان کړی، د بیانولو او عمل د درولو اعلان خو ئې نه دی کړی، دا سي ئې نه دي ویلي چي: د دې وروسته دي نور نه بیانیږي، نو هغه دین چي مخ کي پوره سوی د بیان او عمل سلسله ئې جاري وه او ده.

داسې هم نه دي ویلي چي د دین هر مسأله ئې د هر سړي په ذهن کي هر وخت حاضره کړې ده په داسي ډول چي الفاظ (توري) ئې د هر سړي د خواهش سره برابر وي، نو که د یو چا سره د ځیني دیني پوښتنو جواب نه وي، هغه د ده کمزوري ده، دا رنګه که څوک په صحیح جواب قناعت نه کوي دا د هغه د ذهن کوږوالی دی، نه دا چي د الله په دین که نسته، دا کېدی نه سي چي یو شی د اسلام برخه او د الله حکم وي او الله د خپل پیغمبر دلاري په قرآن یا سنت کي نه وي بیان کړی، چا ته دا حق ورکړه سوی چي داسي شی د الله حکم (د اسلام د دین برخه) وګرځوي چي الله د خپل پیغمبر د لاري د هغه حکم خلګو ته نه وي کړی؟ په پای کي دا هم وایو: که په قرآن اوسنت کي دا کلمه نه وي ثابته، نو تاسو ئې منئ که نه؟ ولي ئې منئ؟

دا څه وجه ده چې يو شی د الله دين (د قرآن اوسنت حکم) وبلل سي، تاسو په هغه کې کوړوالی لټوی، که همغه شی ستاسو د بزرګانو په نوم ياد سي بيا تاسو واياست چې د دې د اثبات لپاره بې شمېره دليلونه سته؟ که کوم دليل ساستو د بزرګانو لپاره يو حکم ثابتوي د بل چا لپاره ئې ولې نه ثابتوي؟ آيا د قرآن اوسنت دليلونه هم د کوم ټيکهدار په انحصار کې دي؟ د چا کمېشن ته اړتيا لري؟